انجنيری پوهنځی

# د جوړښتونو تحليل

## (دوهم ټوک)






پروفيسور حفيظ الله وردک
پروفيسور دکتور زرجان بها

پلورل منع دی

۱۳۹۹

د جوړښتونو تحليل
(دوهم ټوک)

Structural Analysis Vol II

پروفيسور حفيظ الله وردک
پروفيسور دکتور زرجان بها

Afghanic

Shaikh Zayed University, Khost, Engineering Faculty

Hafizullah Wardak & Dr. Zarjon Baha

# Structural Analysis Vol II



Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**




ISBN 978-9936-620-69-8

Not for Sale

2020

بسم الله الرحمن الرحیم

# د جوړښتونو تحلیل

# ستركچرل انالیسیز

# (Structural Analysis)


پروفیسور حفیظ الله وردک

پروفیسور زرجان بها


دوهم ټوک

دغه کتاب په پي ډي ایف فارمټ کې په مله سي ډي کې هم لوستلی شئ:



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د جوړښتونو تحلیل (دوهم ټوک) |
| لیکوالان | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بهاء |
| خپرندوی | شیخ زاید پوهنتون، خوست، انجنیری پوهنځی |
| ویب پاڼه | www.szu.edu.af |
| د چاپ کال | ۱۳۹۹(۲۰۲۰م)، لومړی چاپ |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| مسلسل نمبر | ۳۰۷ |
| ډاونلوډ | www.ecampus-afghanistan.org |
| چاپ ځای | سهر مطبعه، کابل، افغانستان |

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې، په جرمني کې د Eroes کورنۍ یوې خیریه ټولنې لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې په آلمان کې د افغانیک لخوا ترسره شوي دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسؤلیت د کتاب په لیکوال او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کارته ۴، کابل
تیلیفون ۰۷۵٦۰۱٤٦٤۰، ۰۷۰٦۳۲۰۸۴۴
ایمیل textbooks@afghanic.de

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

ای اس بي ان ۸-٦۹-٦۲۰-۹۹۳٦-۹۷۸

# د لوړو زده کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډېر مهم رول لوبولی دی. درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پیژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومي مننه کوم چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسي کتابونه تألیف او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې اداء کړی دی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم تر څو په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړي، چې له چاپ وروسته د ګرانو محصلینو په واک کې ورکړل شي او د زده کړو د کیفیت په لوړولو او د علمي پروسې په پرمختګ کې یې نېک ګام اخیستی وي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي چې د ګرانو محصلینو د علمي سطحې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو رشتو کې معیاري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي.

په پای کې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او زموږ همکار ډاکتر یحیی وردک څخه مننه کوم چې د دې کتاب د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړېده.

هیله منده یم چې نوموړې ګټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي تر څو په نیږدې راتلونکې کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درنښت

پوهنمل ډیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزی

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر

کابل، ۱۳۹۹

# د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لويو ستونزو څخه ګڼل کېږي. يو زيات شمير استادان او محصلين نويو معلوماتو ته لاس رسی نه لري، په زاړه ميتود تدريس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټيټ کيفيت فوتوکاپي کېږي.

تر اوسه پورې مونږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، البيروني، کابل،کابل طبي پوهنتون او کابل پولي تخنيک پوهنتون لپاره ۳۱۱ عنوانه مختلف درسي کتابونه د طب، ساينس، انجنيري، اقتصاد، ژورنالیزم او زراعت پوهنځيو (۹۶ طبي د آلمان د علمي همکاريو ټولنې DAAD، ۱۹۰ طبي او غیر طبي د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې Kinderhilfe-Afghanistan، ۷ کتابونه د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې DAUG، ۲ کتابونه په مزار شریف کې د آلمان فدرال جمهوري جنرال کنسولګري، ۳ کتابونه د Afghanistan-Schulen، ۱کتاب د صافی بنسټ ، ۲ کتابونه د سلواک ایډ، ۸ کتابونه د کانراد ادناور بنسټ KAS، ۱کتاب په آلمان کې د اناسيس کمپنۍ) په مالي مرسته چاپ کړي دي.

د يادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړونده پوهنتونونو او يو زيات شمېر ادارو او مؤسساتو ته په وړيا توګه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.afghanistan-ecampus.org ويب پاڼې څخه ډاونلوډ کولای شئ.

دا کړنې په داسې حال کې تر سره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰ - ۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتيژيک پلان کې راغلي دي چې:

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کيفيت او زده کوونکو ته د نويو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړينه ده چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د ليکلو فرصت برابر شي د تعليمي نصاب د ريفورم لپاره له انګريزي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړين دي، له دې امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلين او استادان نشي کولای عصري، نويو، تازه او کره معلوماتو ته لاس رسی پيدا کړي."*

مونږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هيواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچر نوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره دا اړينه ده چې د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره هر کال څه نا څه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

**له ټولو محترمو استادانو څخه هیله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، وژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه ایډېټ او د چاپ لپاره تیار کړي، زمونږ په واک کې یې راکړي چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوند پوهنځیو، استادانو او محصلینو په واک کې ورکړو. همدارنګه د یاد شویو ټکو په اړوند خپل وړاندیزونه او نظریات له مونږ سره شریک کړي، تر څو په ګډه پدې برخه کې اغیزمن ګامونه پورته کړو.**

د مؤلفینو او خپرونکو له خوا پوره زیار ایستل شوی دی، ترڅو د کتابونو محتویات د نړیوالو علمي معیارونو په اساس برابر شي، خو بیا هم کیدای شي د کتاب په محتوی کې ځینې تیروتنې او ستونزې ولیدل شي، نو له درنو لوستونکو څخه هیله مند یو تر څو خپل نظریات او نیوکې مؤلف او یا مونږ ته په لیکلي بڼه راولیږي، تر څو په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

له افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او د هغې له مشر ډاکتر ایروس څخه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې ورکړی دی، دوی تر دې مهاله د ننګرهار پوهنتون د ۱۹۰ عنوانه طبي او غیرطبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه اخیستی دی.

د جي آی زیټ (GIZ) له دفتر او CIM (Center for International Migration & Development) څخه، چې زما لپاره یې له ۲۰۱۰ نه تر ۲۰۱۶ پورې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي وو، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لوړو زده کړو له سرپرست وزیر پوهنمل دیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزی، مالي او اداري معین ډاکتر احمد سیر مهجور، مالي رئیس احمد طارق صدیقي، په لوړو زده کړو وزارت کې سلاکار ډاکتر ګل رحیم صافي، د پوهنتونونو رئیسانو، د پوهنځیو رییسانو او استادانو څخه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هڅولې او مرسته یې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له مؤلف څخه ډېر منندوی یم او ستاینه یې کوم، چې خپل د کلونو-کلونو زیار یې په وړیا توګه ګرانو محصلینو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر یو حکمت الله عزیز او فهیم حبیبي څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار

کابل، فبروري ۲۰۲۰

د دفتر ټیلیفون: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰، ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴

ایمیل: textbooks@afghanic.de

# ډالۍ

دا کتاب چې د جوړښتونو تحلیل (Structural Analysis) تر عنوان لاندی په پښتو لیکلی شوی د می (May) د میاشتې په ۲۹ کال ۲۰۲۰ تکمیل اود انجینری محصلینو ، انجینرانو، د ساینس او تکنالوجی مینه والو، اوهغو ټولو ته چی غواړی په دی ساحه کی خپله پوهه لا زیاته ، د بشریت د ژوند ښه کولو، هوسايني، د لوړ کیفیت زدکړي، په ټولنه کی د مثبت پرمختګ، سولی، او ثبات راوستلو لپاره تری کار واخلی ډالۍ يي کوو.

# اړینه یادونه

ددی کتاب په لیکلوکی چی به پښتو دی موږ فکر وکا چی په څه ډول به داکتاب په معیاری ژبه ولیکل شی تر څو د ټول افغانستان وګړی تری پوره ګټه واخلی.

روښانه ده چی موږ کابو څلوېښت کال کیږی چی د افغانستان نه بهر ژوند کړی او نه پوهیږو چی معیاری پښتو په څه ډول ده. لدی کبله مو منا سبه وبلله چی په هغه ژبه دا کتاب و لیکو چی موږته اسانه او په خپلو کوروکی یی تر اوسه استعمالوو.

لدی نه چی موږ دواړه په وردګو کی زیږیدلی او اوس هم د وردګو په لهجه غږیږو نو دا کتاب مو په خپله لهجه کومه چی زموږ سره تر اوسه پاتی ده لیکلی دی.

موږ پدی باور لرو چی هغه پښتو لوغتونه چی پدی کتاب کی راغلی تاسو به ورسره بلد وی. که ځنی نویی کلیمی پدی کتاب کی وی هیله ده چی د پښتو په بډایتوب ګی ښه اغیزه ولری. موږ دا کوشش هم ندی کړی چی وګورو پدی ساحه کی که نور کتابونه لیکل شوی وی او دهغود لوغتو څخه ګټه واخلو. لد ی کبله به د نورو لیکنو لوغتونه پدی کتاب کی نه وی راغلی.

# بسم الله الرحمن الرحیم

## تقریظ

چندی قبل اثرپربهای تخنیکی بدستم رسید که بلا درنگ اینجانب را به یاد سالهای قبل و تحصیل در پوهنتون تخنیک پراگ "جمهوری چک" انداخت.

کتابی را که شما درآینده نزدیک بدست خواهید آورد حاصل کارسالها سعی وتلاش ومحصول دانشمند ان، استادان محترم انجنیرحفیظ الله وردک ومحترم دکتورزرجان بها، رئیس اسبق فاکولته انجنیری میباشد. ایشان چه بحیث استادان توانا ی فاکولته انجنیری کابل وچه بحیث انجنیران مطرح در ادارات طرح ودیزاین وهم بحیث پرفیسوریونورستی درآمریکا ، زندگی پر باری داشته اند.

اگرخوانندگان گرامی نظرعمیق به تقسیم بندی محتویات این اثر بیاندازند فوراً متوجه میشوند که مندرجات آن طوری تقسیم بندی گردیده اند که نه تنها تسلسل موضوعات رادر برمیگیرد. بلکه ، تصاویرگویا ومستند وهم آهنگ ارایه و محاسبا ت مشرح درآن گنجانیده شده است. حتی باید اذعان نمود که مؤلفین محترم با عرضه تصاویرتخنیکی وجداول در مقدمه نیز، ازساختمان هاوآبدات تاریخی وطن عزیزمثالهای ارزشمندآورده اند.

این اثروزین برعلاوه که بحیث یک مرجع مطمئین مورداستفاده قرار خواهد گرفت، میتوا ند در تدوین نصاب تعلیمی پوهنتون های افغانستان عزیزوحتی با توجه وموافقه مقامات دولتی واستادان شامل برنامه درسی گردد.

یکباردیگراقدام به نشراین اثرپربهارا برای نویسنده های محترم آن ، فاضل دانشمند انجنیر وردک و فاضل دانشمند داکتربها ،ازصمیم قلب تبریک میگویم وازین خدمات بزرگ علمی شان در راه مساعدت به نسل های جوان ، شگوفانی واعتلای افغانستان عزیز قدردانی بی نهایت مینمایم.

دکتور سید شریف حسینی

Said Sharif Hossainy, Eng. Arch. PhD.
Former deputy minister,
Ministry of Urban Development (MoUD)
Senior advisor to the Minister (MoUDH)
Canadian Architectural Registration No: 2280
Member of The Society of Afghan
Architects &Engineers (SAAE) ID No: 0018
Member in the Roster of CANADEM No: 2808 - CANADEM is an Ottawa based non-profit, government related organization, originally designed as Canada's national roster of civilian experts.

# د لوی څښتن په نامه

## تقریظ:

خوشحاله یم چې د خپلو دوو نیژدی درنو ملګرو ډاکتر زرجان بها او انجینر حفیظ الله وردګ د افغانستاند انجینری پوهنځی شاګردانواو انجینرانوته په پښتو ملی ژبه د سیول انجینری لیکلی کتاب په هکله خپل نظر څرګندوم.

که وغواړم چې د ډاکتر بها په علمی شخصیت او زموږ دواړ د ملګرتیا به هکله رڼا واچوم دا به څو مخه ونیسی او دلته یواځی دا لیکم چې زموږ پیژندنه او ملګیری د ۱۹۷۵ کال نه را پدی خوا شروع شوی چې دواړه د کابل د پو هنتون د ترفیعاتو د کمیټی غړی وو او زموږ ورته نظر چې ټول کاندیدان مو د اسنادو په اسا س ارزیابی کول او دا مو نه کتل چې نوموړی د کوم ځای او په کومه ډله پوری تړلی دی. زموږ دا شریک دریځ زموږ د ټینګی ملګیری سبب شوه.

هم دارنګه د ډاکتر بها پواسطه خوشحاله شوم چې انجینر حفیظ الله وردګ سره مو پیژندنه وشو او تر اوس د صمیمی ملګریو په توګه پاتی یو. په هغه وخت کی نوموړی زموږ ته نیژدی ا یالت ایلونای کی د یوه مجرب او ډیر بر یالی انجینر په حیث کار کاوا.

ددیکتاب دواړو لیکونکیو نه یواځی چې په افغانستان کی د خدمت او ښه شهرت نوم پریښی بلکی دلته په امریکا کی ددوی کارنامی زموږ د افتخاروړدی. موږ دا هیله لرو چې په راتلونکی کی هم دوی دا ډول خدمتوته د افغانستان د باره دوام ورکړی او موږ به ددوی بریالیتوب ته دعاګانی کوو.

ما چې دا کتاب ولید چې په څومره روانه او فصیح ملی ژبه پښتو لیکل شوی دواړو ته افرین وایم. او له پاکه خدایه ورته اجرونه غواړم. ما هم یو طبی کتاب دری کاله پخوا د افغنستان د طب پو هنځیومحصلینو د پاره تیار او چاپ کا نو راته معلومه شوه چې دا څومره کار ته ضرورت لری. زه یقین لرم چې دا کتاب نه یواځی به د انجینری محصلینو د پاره یو ګټور درسی کتاب وی بلکی هغه انجینران چې په سا حه کی کار کوی دیوه ښه موخذ په توګه به تری ګټه واخلی.

و من الله تو فیق. د می دمیاشتی ۱۹ کال ۲۰۲۰ میلادی

الحاج پوهاند ډاکتر محمد ناصر شینواری

د افغانستان د ننګرهار د پوهنتون بخوانی استاد

د اندیانا د یونیورسیټی د طب د پوهنځی پخوانی ادجنکټ پرو فیسور

# منن ليک (دحفيظ الله وردگ له خوا)

ډير خوشحاله يم اوشوکرکوم چی الله (ج) د دی توان راکړ چی د خپل فاميل په بی ساريو مرستو ، د يو شمير محترمو او معززو استادانو او ملگريو په لارښونه او هڅونو، د گران او محترم استاد د انجينری پوهنځی پخوانی ريئس او زما قدر من استاد پروفيسور ډاکتر زرجان بها سره چی اوس په د انديانا کی د پوردوپه پوهنتون ( Purdue University) کی پروفيسردی، او دا کتاب مو په گډه د سټرکچرل اناليسيز(Structural Analysis) په نامه په پښتو ژبه د گران افغانستان د انجينری زده کړيالانو (محصلينو) د پاره ديوه درسی کتاب په توگه اود نورو انجينرانو د پاره چی په ساحه کی کار کوی وکړی شی ديوه رفرينس په توگه تری گټه واخلی بشپړ کا.

دلته غواړم چی له هغو ملگريو چی د دی کتاب يا ديوی برخي ددی کتاب په بيا کتنه کی او اصلاحاتو راوستلو کی يی مرسته او خپل ارزښتنا که وړانديزونه راليږلی په ډير قدر ياده ونه او منئه وکړم. زما ډير قدرمن د انجينري پوهنځی پخوانی او زما استاد او ډيردروند ملگری په گليفورنيا کی محترم ډاکتر سورگل وردگ، د انجينری پوهنځی پخوانی استاد په نيويارک کی محترم انجينر عبدالمنان خالد، د افغانستان د اسلامی جمهريت د کور جوړولو وزارت پخواني معين محترم ډاکتر سيد شريف حسينی چی اوس په ونکور کانادا کی ژوند کوي،د الحاج پوهاند ډاکتر محمد ناصر شينواری د افغانستان د ننگرهار د پوهنتون پخوانی استاد چی د انديانا ايالت کی ژوند کوی، او يو شمير نورو ملگريو د ارزښت ناکو لارښونو ، هڅونو، وړانديزونو او ملا تړ څخه منئه وکړم.

هر ښی چی الله ماته راکړی دا ټول زما د پلار او مور، او تره حاجی عبدلقدير خان د نيکو هلو ځلو، بيحده مرستو ، دعاگانواوارزشتناکو لارښونو ثمره ده. الله د دوی ځای جنتت فردوس کړی ، دوی هميشه زما په دعا کی دی اووی به. دلته هم له خپلی ميرمنی ثرياجاني چی په ډيره حوصله يی په کور کی هر ډول آسنتياووی د ما د کار دپاره برابري کړي په ډير قدريادونه او منئه کوم. زما دوو زامنو ډاکتر ذبيح الله وردگ او ميرمن يي ډاکتر انجيلا فاروقي ، او بل زوی ډاکتر نجيب الله وردگ او ميرمن يي قانون پوهه لانه ميره کي ، او دوو لورا نو ډاکتر لميا وردگ او خاوند يي ډاکتر ښالان ، او بله لور می انجينره وژمه وردگ او خاوند يي ډاکتر حسن ددوی له بيحده مرستو ، هڅونو، او دعاگانو په قدر يادونه او منئه کوم. زما دکور د دفتر وسايل ، د دريو کمپيوترونو په پښتو او انگليسی ژبوسمبالول او برابرول ، پښتو او انگليسي کيبوردونه، پرينتر، سکنر او زما د کمپيوټری ستونزو له مينځه وړل د څو کلونورا پدی خوا چی دوی راسره مل دی ماته د قدر او منني وړ دی. بيله شکه ما دا کار د دوی د تخنيکی مرستو پرته او د پښتو کيبورد چی وړمی جانی لورمی له دوبي (Dubai) نه راوړه سر ته نشوی رسولي.

دلته غواړم چی د افغانستان د لوړو تحصيلاتو مشاورمحترم ډاکتر صاحب يحيی وردگ ، او د گران افغانستان د خوست ولايت د شيخ زايد پوهنتون محترم ريس حسين گل آريوبي، د انجينري پوهنځي له

محترم رئیس ریدی گل همدرد، او د سیول انجینری دیپارتمنت مشر نصرت الله نصرت څخه د زړه له کومې مننه وکړم چې ددی کتاب په چاپولو او په خپل کوریکیولم کی ځای ورکولوکی يې زموږ سره بی ساریه مرسته کړي.

په پای کی له ټولو لوستونکیو زما هیله دا ده چې خپل وړاندیزونه او نیوکی زموږ سره شریکی کړی تر څو د بل چاپ په لیا ښه توب کی زموږ سره ونډه ولری. کوشش شویی چې دا کتاب ډیری نیمګړتیاوی ونلری او بیا هم د نیمګړتیاوو امکانات شته او هیله ده چې ومو ښئی.

په درناوي حفیظ الله وردګ

# منن لیک ( زرجان بها)

تر هر څه د مخه زه د کایناتو د جوړوونکی **الله سبحان الله وتعالله** دی بی ساریه لورینونه چی په مابا‌ندی یی کړی مننډ وی یم.

زما په ژوند کی زما پلار ډیر مثبت رول لوبولی چی په کوچنوالی کی یی ماته واک راکا چی کړی شم ددینی زده کړو د پاره د طا لبی لار ونیسم او یا د عمومی زده کړو د باره ښونځی ته ولاړ شم چی ما ښونځی خوښکا او د تکیی په ښونځی کی داخل شوم. او پدی کار کی زما تره چی ملک وا هم رول در لود چی ارزو یی وه چی زه په ښونځی کی لیک او لوست زده کړم تر څو وکړی شم د خپل پلار په څیر د وولس د پاره ګټور تمام شم. زما پلار زموږ د ټولی که لی (قلعی) ښونکی وا چی نجونی او هلکان به هر سهار زمو کورته د درس ویلو د پاره راتلل. لږ تر لږه به ټولو د قران مجید لوستل زده کړل. د سبق ویلو د پاره یو شمیرنوری نجونی او ښځی د نورو نیږدی که لونه هم را غلی دی. دقران مجید له لوستلو نه پس که چا غوښتل نور درس وواییی په هلکانو به یی پنجکتاب چی په دری ژبه وا او په نجونو به یی رشید بیان چی په پښتو ژبه وا شروع کړل او دا دده دپاره اخری مرحله د تدریس وه.. ما یو لږ درسونه او لیکل د کلی په جومت کی پیل کړل پخوا لدی چی په ښونځی کی دا خل شم او معلومیده چی په درسو کی تر نورو همځولیو په مخکی وم.

په دوهمه مرحله کی زما میرمنی فاطمی (ګول) زما به ژوند کی مثبت رول درلود چی په دوامداره توګه یی په ډیره حوصله ربړونه پر ځان قبول کړی وو تر څو زه وکړی شم د ارزو سره سم خپلو زده کړوته دوام ورکړم. همدارنګه نوموړیی د دریسو اولادو په روزنه کی د کورنی د نورو غړیو په مرسته پوره ونډه اخستی وه چی ډیر وخت ځان ملامت بولم چی زه د افغانستان په جوړولو کی دومره مصروف وم چی دوی ته می ډیر کم وخت درلود او ښنه تری غواړم.

زه ډیر طالع من یم چی اولادونو می عبدالغفورچی د ژوند شریکه یی ملالی ، عبد الرءوف چی د ژوند شریکه یی هیلۍ . او وسیمه چی د ژوند شر یک یی عبدالحکیم دی، نه یواځی په کوچنوالی کی ماته هیڅ تکلیف ندی راکړی ، او اوس چی لوی شوی او دژوند د شریکانو او اولادوسره په خپلو کورونو کی ژوند کوی زما او د ګول بی نهایته احترام او هر اړخیزه پام لرنه لری.

یو ډیر نیږدی ملګری می ډاکتر محمد رسول وردګ وا چی موږ دواړه په یوه وخت کی د کابل په پوهنتون کی وو او پس له پوهنتونه دواړه په پو هنتون کی د استادانو په توګه پاتی شوو. نوموړی څو کاله پخوا په سویس کی چی ډاکتر وا وفات شو. نوموړی دما دپاره د صداقت او دیانت بی مثاله نمونه وا او زما په ژوند کی چی وکړی شم پر خپلو کړنلارو کی بریالی شم مثبته اغیزه درلوده.

ددی کتاب به لیکلو کی زما خواخوږی ملګری چی د کابل د انجینری پوهنځی په استادانو کی یی خا ص او ډ یر پیاوړی ځای در لود، حفیظ الله وردګ، ددی کتاب په لیکلو کی بی ساریه زیاریستلی او زه تری مننه کوم چی ماته یی ددی کتاب په لیکلو کی برخه راکړه. هیله لرو چی په راتلونکیی وخت کی موږ په ګډه سره وکړی شو د افغانستان د پاره د نوروعلمی پروژو په تکمیلولو کی بریالی شو.

# سر لیک

سټرکچرل انالیسیز(Structural Analysis) د سیول انجینری دیپارتمنت د کیوریکولم یو ارزښتناک مضمون دي. دا کتاب چې نه (9) فصلونه او یو اپیندیکس لري داسې جوړ شوي چې په یوه یا دوو سمسترو کې د زدکړې لپاره ورځيني ګټه واخیستل شي. په ټولو فصلونو کې ګڼ شمیر مثالونه وروسته لدې چې په موضوع عمومي بحث شوی حل شوي او د تمرین لپاره یو شمیرسوالونه راغلي دي.

اول فصل کې د جوړښت په ریکشنونو ، قواوو اود ستاتیکلي معلومو جوړښتونو شننه شوې او بیا د ریکشنو د پیدا کولو لارې لټول شوی دي.

په دوهم فصل کې د شیر او مومنټ ډیاګرامو جوړه ول او ګڼ شمیرمثالونو او تمرینوته ځای ورکړل شوي.

په دریم فصل کې د ټرس جوړښت د سیکشن ( برخې) یا جاینټ(ګنډې) په طریقوسره د ټرس د غړیو د معلومولومثالونه وړاندی شوي. په پای کې یو شمیرد تمرین سوالوته ځای ورکړ شوی.

څلورم فصل کې د جوړښت بېځایه کیدل او څنګه د جوړښت بېځایه کیدنه پیدا کولا ی شو تر بحث لاندی نیول شوي. د جوړښت د بې ځایه کیدو معلومولو لپاره د خیالي کار (virtual work ) طریقه چې د اینټیګریشن په طریقه هم یا دیږی، د مومنټ ایریا طریقه (moment area method ) ، د کاستیګلایان دوهمه فرضیه(Castilian's second theorem) په تفصیل بحث شوی او هره طریقه د مثالونوسره پدی فصل کې وړاندی شوي. د کانجوګیت بیم طریقه چې د بېځایکیدلو د تحلیل او معلومولود پاره یوه بله ارزښتناکه طریقه ده او ددی طریقي اصول او بنسټ په ستاتیک (static) او هند سه(Geometry ) تکیه لری چې په دی فصل کې ځاي ورکړل شوي.

په پنځم فصل کې د نفوذ کرښه یا انفلوینس لاین (Influence Line) ته ځای ورکړل شوی. د تحلیل په اساساتو او د مثالونو په راوړلو سره په تفصیل سره پری شننه شوی. همدارنګه د خوځید ونکیو لوډونو، او انفلوینس لاین د بیم، ټرس ، ګردر او غولی سیستم په حالت کی د تیوري او مثالونو سره وړاندی شوي.

په شپږم فصل کې د سلوپ ډیفلکشن طریقه چی د تحلیل یوه پخوانی طریقه ده او د بیمونو او فریمونود تحلیل لپاره ترې کار اخیستل کیږی وړاندی شویی. دا طریقه د ستاتیکلي نا معلومو جوړښتونو(Statically indeterminate structures) تحلیل لپاره زیاته استعمالیږی . هغه جوړښتونه چې خوځیدل هم لری په دی فصل کی ځای ورکړل شوي.

په اوم فصل کی مومنټ ډیسټربیوشن (Moment Distribution) ته ځای ورکړل شوي. مومنټ ډیسټربیوشن د جوړښتونو د تحلیل لپاره یو ستایلی پخوانی طریقه ده. دا طریقه د سلوپ ډیفلکشن طریقی

په شان د ستاتيکلی نا معلومو جوړښتونو د تحليل لپاره يو ښه پخوانی طريقه ده. بيمونه او فريمونه چی خوځيدل هم ولری په تفصيل او مثالونو سره وړاندی شوي.

په آتم فصل کی د ميټريکس (Matrix) طريقه د ټرس او بيمو تحليل لپاره وړاندی شوی. په شروع د فصل کی د ميټريکس په عملياتو شننه شوي او وروسته د جوړښتونو تحليل او مثالونه وړاندی شوي.

په نهم فصل کی د د جوړښتونو ډيناميک اناليسيز (Dynamic Analysis) اساسی او بنسيټيز اصولو شننه شوي. د زلزلي په باره کی هم لنډه شننه او د تحليل مثالونه وړاندی شوي.

په اپنډيکس کی يو لړمعلومت او فورمولوته ځای ورکړی شوی چی د ددی کتاب په مطالعه او ډيروو نورو مسلکی حالتوکی به خورا ګټور تمام شی.

# لیک لړ

## اول ټوک


| | |
|---|---|
| **سر لیک** | **مخ** |
| **د کتاب نوم** | **i** |
| **ډالۍ** | **ii** |
| **اړینه یادونه** | **iii** |
| **تقریظ** | **iv** |
| **تقریظ** | **v** |
| منن لیک (د حفیظالله وردک له خوا) | vi |
| منن لیک(زرجان بها) | vii |
| **سر لیک** | viii |
| لیکلړ | xi |
| سریزه | 1 |
| 1.0 ساختمانی تحلیل (Structural Analysis) | 1 |
| 1.1 جوړښتونه (Structures) | 1 |
| 1.2 د جوړښت غړي | 3 |
| 1.3 بیم (Beam) | 3 |
| 1.4 د بیم ډولونه د بارونو په اساس | 6 |
| 1.5 ستني (Column) | 7 |
| 1.6 ټای رادونه (Tie Rods) | 11 |
| 1.7 د جوړښتونو ډولونه | 11 |

1.8 ټرس (Truss) 11

1.9 چوکاټونه یا فریمونه (Frames) 13

1.10 ګنبدی او کیبلونه (Arch and Cables) 14

1.11 سطحی جوړښتونه (Plates and Shells) 17

1.12 د جوړښت وزنونه او بارونه (Loads) 18

1.13 ثابت لوډونه (Dead Loads) 21

1.14 د موادو کثافت (Density) 22

1.15 ګرځندی او ژوندی بارونه یا وزنونه (Live Loads) 23

1.16 د لویو لارو د پلونو وزنونه او لوډونه 23

1.17 د ټکر لوډ په پله باندی 24

1.18 د باد لوډ (Wind Loads) 24

1.19 د خاوری فشار په جوړښت 25

1.20 د زلزلی تاثیر او قواوی په جوړښت 26

1.21 تحلیلی لاری چاري 30

1.22 محدودیتونه 31

1.23 د موادو د مقاومت طریقه (کلاسیکه طریقه) 31

1.24 د ایلستیستی طریقه 32

1.25 د نومریکل اتکل لاری چاري 32

# اول فصل

## (ریکشن یا دغبرګون قوی)

## (Reactions)


| | | |
|---|---|---|
| 1.0 | ریکشنونه یا غبرګونو قواوی (Reactions) | 33 |
| 1. 1 | د کوپلنرقواوو ډولونه | 33 |
| 1.2 | د ریکشنو او اتکا ډولونه او استعمال یی | 36 |
| 1.2.1 | پن اتکا (Pin Support) | 37 |
| 1.2.2 | ثابت یا فیکسډ اتکا (Fixed Support) | 37 |
| 1.2.3 | ساده اتکا (Simple Support) | 39 |
| 1.2.4 | رولر اتکا (Roller Support) | 40 |
| 1.3 | د جوړښت ایدیلایزیشن (Idealization of a Structure) | 40 |
| 1.4 | د قواوو یا لوډونو ډولونه | 42 |
| 1.4.1 | بهرني قواوي یا لوډونه | 42 |
| 1.4.2 | داخلی قواوي یا لوډونه | 43 |
| 1.5 | د جوړښت تعادل یا توزن حالت (Equilibrium) | 44 |
| 1.6 | د جوړښت ستاتیک ثبات | 46 |
| 1.7 | د جوړښت ازاد ګرافیک دایګرام (Freebody Diagram) | 50 |
| 1.8 | د ریکشنو پیداکولو مثالونه | 51 |
| 1.9 | اول مثال | 51 |
| 1.10 | دوهم مثال | 53 |

1.11 دريم مثال 56
1.12 خلورم مثال 58
1.13 پرکتس سوالونه 61

## دوهم فصل

## ( شير او مومنټ)

## (Shear and Bending Moment)

2.0 شير او کږېدونکی مومنټ (Shear and Bending Moment) 64
2.1 داخلي لوډونه او قواوي 64
2.2 د داخلي لوډونو د جهت انتخابولو لار (sign convention) 68
2.3 اکسيل يا نارمل لوډ 68
2.4 شير يا مماسي لوډ 68
2.5 مومنټ لوډ 68
2.6 تورژن يا تاويدنه (Torsion) 69
2.7 د لوډ شير او مومنټ اړيکي 72
2.8 لوډ ، شير، او مومنټ دايگرام 78
2.9 د شير او مؤنت دايگرام مثالونه 78
2.9.1 اول مثال 78
2.10 دوهم مثال 84
2.11 دريم مثال 87
2.12 خلورم مثال 93

2.13 پنځم مثال 98
2.14 شپږم مثال 102
2.15 اوم مثال 105
2.16 آتم مثال 109
2.17 نهم مثال 112
2.18 پرکتس سوالونه 118

## دریم فصل

## (ټرس)

## (Truss)

3.0 ټرس جوړښت 122
3.1 ټرس جوړه ول 123
3.2 ټرس د غړیو تړون او نومولو کانونشن 124
3.3 ټرس ثبات او ستاتیک معلومول 124
3.4 ټرس تحلیل لاري 126
3.5 جوینت طریقه 126
3.6 اول مثال 126
3.7 دوهم مثال 132
3.8 تمرین سوالونه 137
3.9 د ټرس د غوځیدو طریقه (Method of Section) 142
3.10 مثال 142

3.11 پرکتس سوالونه 146

## څلورم فصل

## بیځایه کیدل

## (Deflection)

4.0 تعریف دجوړښت بیځایه کیدل 148

4.1 مومنټ او منحني کرشي اړیکي 151

4.2 اول مثال 152

4.3 د جوړښت بیځایه کیدو معلومول 155

4.4 خیالي کار کړنلاره (Virtual Work) 156

4.5 خیالي کار کړنلاري تفصیل 156

4.6 خیالي کار فرضیي لنډیز 158

4.7 داخلی او بهرنی لوډ خیالي کار معادلي 159

4.8 بیم او ټرس بیځایه کیدلو معلومول 160

4.9 ټرس خیالي کار 160

4.10 ټرس غړي خیالي کار 161

4.11 ټرس غړي خیالي سترين انرژي 162

4.12 مثال 164

4.13 د ټرس تحلیل تکلاره 167

4.14 مثالونه 167

4.14.1 اول مثال 168

4.14.2 دوهم مثال 175

4.14.3 دریم مثال 180
4.14.4 څلورم مثال 185
4.15 پرکتس سوالونه 192
4.16 بیم بیځایه کیدلو پیداکول او تګلاره د انتیګریشن په طریقه 197
4.17 د اینتیګریشن تګلاره 200
4.17.1 پنځم مثال 200
4.17.2 شپږم مثال 203
4.17.3 اوم مثال 206
4.17.4 اتم مثال 209
4.17.5 نهم مثال 212
4.17.6 لسم مثال 213
4.18 مومنټ ایریا طریقه (Moment Area Method) 215
4.18.1 یولسم مثال 217
4.18.2 دولسم مثال 219
4.18.3 دیارلسم مثال 221
4.19 مومنټ ایریا تفصیل 226
4.20 عمودی فاصلي او زاویي مثبت او منفي غوا کانوانسیون 228
4.21 مومنټ ایریا اول مثال 230
4.22 مومنټ ایریا دوهم مثال 237
4.23 تمرین سوالونه 239
4.24 کانجوګیت بیم طریقه (Conjugate Beam method) 244
4.25 د تحلیل تګلاره 246
4.26 د کانجوګیت بیم د اتکا جوړول 246

4.27 اول مثال 248
4.28 کانجوګیت بیم او M/EI لوډ 249
4.29 دوهم مثال 252
4.30 دریم مثال 255
4.31 پرکتس سوالونه 261
4.32 د کاستیګلیانو طریقه د بیځایه کیدلو معلومولو لپاره (Castigliano) 263
4.33 اول مثال 264
4.34 دوهم مثال 264
4.35 دریم مثال 268
4.36 څلورم مثال 269
4.37 پنځم مثال 270
4.38 شپږم مثال 271

# پنځم فصل

## د نفوذ کرښه

## (Influence Line)

5.0 د نفوذ کرښه یا انفلوینس لاین 278
5.1 د تحلیل اساسات 279
5.2 اول مثال 279
5.3 انفلوینس لاین جوړه ول 280
5.4 د مومنټ انفلوینس لاین جوړه ول 281
5.5 دوهم مثال 287

5.6 انفلوینس لاین ځانګړتیاوی او د استعمال اهداف يي 291
5.7 دریم مثال 293
5.8 څلورم مثال 295
5.9 پنځم مثال 298
5.10 ګردر او فرش سیستم (Girder and Floor System) 302
5.11 شپږم مثال د ګردر او فرش انفلوینس لاین 303
5.12 اوم مثال 307
5.13 آتم مثال 309
5.14 نهم مثال 310
5.15 لسم مثال 315
5.16 یولسم مثال 320
5.17 دولسم مثال 325
5.18 دیارلسم مثال 329
5.19 څوارلسم مثال 333
5.20 پرکتس سوالونه 336

اپنډیکس 339
د مؤلف (حفیظ الله وردک) لنډه پیژندنه 380
د مؤلف (زرجان بها) لنډه پیژندنه 383
د کتاب معرفي په انګلیسی (Brief Introduction to the book) 388

# دوهم ټوک

**Volume II**

# شپږم فصل

# د سلوپ ډیفلکشن طریقه

# (Slope Deflection Method)


| | |
|---|---|
| 6.0 میلان ډیفلکشن طریقه | 389 |
| 6.1 بیم آخري مومنټونه | 390 |
| 6.2 تړلشویو اتکاو مانع کیدلو مومنټونه | 395 |
| 6.3 آزادی دزجه | 396 |
| 6.4 حد یا درجه د دازادی | 397 |
| 6.5 د غړي سختی (سټیفنیس) | 399 |
| 6.6 د میټریکس جوړه ول | 399 |
| 6.7 اول مثال | 400 |
| 6.8 توازن حالت او معادلي په هر جاینټ کي | 402 |
| 6.9 دوهم مثال | 405 |
| 6.10 د تعادل او توازن پیژندل | 409 |
| 6.11 دریم مثال | 409 |
| 6.12 څلورم مثال | 418 |
| 6.13 تړلشویو اتکاوو (فیکسد ایند) مومنټونه | 423 |

6.14 پنځم مثال 425
6.15 بشپړم مثال 427
6.16 اوم مثال 432
6.17 آتم مثال 435
6.18 نهم مثال 440
6.19 لسم مثال 447
6.20 مثال 11 456
6.21 مثال 12 دوه پوړیزه وداني 467
6.22 مثال 13 بیم چی خوځیدل لري 475
6.23 پرکتس سوالونه 483

# اوم فصل

## مؤمنت ډیستریبیوشن طریقه

## (Moment Distribution)

7.0 د مؤمنټوویشل 494
7.1 د مومنټ ډیستریبیوشن طریقه لنډیز 494
7.2 د طریقه تفصیل 494
7.3 د لور یا جهت ټرون 497
7.4 فیکسډ ایند مومنټ 497
7.5 د غړیو سختوالي 497

7.6 تاویدونکي سختوالي 498
7.7 سختوالي فکتور 498
7.8 بل لور ته د وړلو فکتور 498
7.9 د ویش فکتور 499
7.10 د مومنټ ډیسټریبیوشن مثالونه -اول مثال 502
7.11 دوهم مثال 507
7.12 دریم مثال 510
7.13 څلورم مثال 511
7.14 پنځم مثال 513
7.15 شپږم مثال 517
7.16 اوم مثال 522
7.17 آتم مثال فریم 528
7.18 نهم مثال فریم 531
7.19 لسم مثال فریم 535
7.20 فریم چې خوځیدل لري 541
7.21 مثال 11 543
7.22 مثال 12 554
7.23 مثال 13 562
7.24 پرکتس سوالونه 572

# آتم فصل

## میټریکس استعمال د جوړښتونو د تحلیل لپاره

## (Matrix Method)


8.0 تعریف 583

8.1 ړد میټریکس ښودل 583

8.2 میټریکس نومول 584

8.2.1 میټریکس عناصرو نښه 584

8.3 میټریکس ډولونه 585

8.3.1 کلم میټریکس 585

8.3.2 قطار میټریکس 585

8.3.3 مربع میټریکس 585

8.3.4 مشابه میټریکس 586

8.3.5 دایګنل میټریکس 586

8.3.6 پورتني اړخ دایګنل میټریکس 587

8.4 د میټریکس عملیات 587

8.4.1 جمع کول 587

8.4.2 منفي عملیه 588

8.4.3 د تفریق عملیه 588

8.4.4 ضرب عملیه په ثابت عدد 589

8.4.5 ضرب عملیه د یو میټریکس په بل میټریکس 589

8.4.6 واحد میټریکس 591

8.4.7 میټریکس تقسیم عملیه 591

8.4.8 میټریکس ټرسپوز عملیه 592

8.5 میټریکس ډیترمینټ 592

8.6 میټریکس معکوسولو عملیه 597

8.6.1 معکوسولو مثال 598

8.6.2 د حذ فولو طریقه 600

8.7 د خطی معادلاتو ښودنه 602

8.7.1 مثال 604

8.8 ټرس تحلیل د میټریکس طریقه 612

8.8.1 اول مثال 615

8.8.2 دوهم مثال 620

8.9 ټرس تحلیل د میټریکس طریقه 624

8.9.1 ټرس جاینټونو ګرافیک دایګرام 625

8.10 څلورم مثال 631

8.11 مثال 637

8.12 د مترکس د بیځایه کیدو طریقه 643

8.12.1 ستاتیک میټریکس جوړ ه ول 643

8.13 مثال 644

8.14 غړیو سختوالي میټریکس 647

8.15 جوړښت عمومی سختوالي 648

8.16 مثال 649

8.17 مثال 653

8.18 بیم تحلیل میټریکس طریقه 655

8.18.1 ستاتیک میټریکس جوړ ه ول 656
8.18.2 بیځایه کیدو میټریکس جوړ ه ول 659
8.18.3 د بي میټریکس جوړ ه ول 660
8.19 ګلوبل شخي میټریکس 662
8.20 د بیم برخي ځانګړي شخی میټریکس 666
8.21 مثال 670
8.21.1 جاینټونو توازن معادلي 671
8.21.2 بهرنی لود پی او بیځایه میټریکس ایکس 672
8.21.3 فیکسډ ایند مومنټونه 672
8.21.4 ځانګړي برخی شخي میټریکس 673
8.21.5 جاینټونو ټول مومنټونه 677
8.22 لسم مثال 677
8.22.1 فیکسډ ایند مؤمومنټ 678
8.22.2 بیم ځانګړی برخي 679
8.22.3 بهرنی او داخلي لوډونه په جاینټونو 679
8.22.4 توازن په جاینټونو کی 680
8.22.5 بیم ځانګړي برخی شخي میټریکس 681
8.22.6 بیم ګلوبل میټریکس 682
8.22.7 بیم بیځایه کیدنه 682
8.22.8 بیم برخي مومنټونه 683
8.22.9 جاینټونو پایلي مومنټونه 678
8.23 مثال 11 684
8.24 مثال 12 691

8.25 مثال 13 700
8.26 پرکتس سوالونه 712

# نهم فصل

## (دجوړښتونو ډینامیک انالیسیز)

## (Dynamic Analysis of Structures)

9.0 ډینامیک انالیسیز 721
9.1 نیوټن حرکت معادله 723
9.2 اول مثال 727
9.3 دوهم مثال 729
9.3.1 نومریکل انتیګریشن 730
9.3.2 دریم مثال 732
9.4 دوهم درجه ایلستیک سیستمونه 742
9.4.1 دوهمی درجه ایلستیک سیستمونو معادلي 743
9.5 ډمپینګ 749
9.5.1 مثال 750
9.6 د زلزلي د اندازه کولو وسیله 758
9.7 د بهرني ډیناميکي لوډونو ډولونه 759
9.8 ډینامیک لوډ فکتور 761
9.8.1 مستطیلي شکل بهرني لوډ 762
9.8.1a مثال 764

9.8.2 مثلثي شکل بهرني ډیناميک لوډ 768

9.8.3 مثلثي شکل دري مساوی ضلعي 771

9.8.4 ډیناميک لوډ فکتور وروسته ثابت کيږي 773

9.8.5 شير ديوالونه 774

9.8.6 مثال 776

9.8.7 ذلزلي تاثيرات په ودانيو 778

9.8.8 د ودانيو تحليل او ديزاين په ذلزله لرونکيو ساحو کي 782

9.8.9 د افقي لوډونو ويش 785

9.8.10 څرخيدونکي مومنټ 787

9.8.11 مثال 787

9.8.12 د اوړيدو مومنټ (Overturning Moment) 796

9.9 پرکتس سوالونه 797

اپنډيکس (Appendix) 802

ببيليوګرافي 840

د مؤلف (حفيظ الله وردک) لنډه پيژندنه 841

د مؤلف (زرجان بها) لنډه پيژندنه 844

معرفي د کتاب په انګليسي (Brief Introduction to the book) 849

# 6

# شپږم فصل

# دسلوپ (میلان) ډیفلکشن طریقه

# (Slope Deflection Method)

## 6.0 د میلان ډیفلکشن طریقه

سلوپ ډ یفلکشن د تحلیل یوه پخوانی طریقه ده چه د بیمونو او فریمونو د تحلیل لپاره ورځنی کار اخیستل کیږی. دا طریقه په ۱۹۱۵ م کال کی د جورج منی (George A. Manney) په واسطه معرفی شوه.

په عامه توګه د ستاتیکلي نا معلومو جوړښتونو(Statically indeterminate structures) تحلیل لپاره دوی طریقی استعمالیږی : یو په نامه د Force/Flexibility طریقه ده چی نا پیژ ندل شوی قواوی د compatibility او توازن معادلو په واسطه موندل کیدی شي. بله د بیځایه کیدلو ( displacement method) طریقه ده چی پدی طریقه کی نا معلوم بیځایه کید نه د توازن له معادلو پیدا او بیا د compatibility اصولو په مرسته د لوډ او بیځایه کید لو ترون جوړیږي . پدی طریقه کی میلان ډ یفلکشن ( slope deflection) او مومنټ ډ یستریبیوشن ( Moment distribution) ګډ ون لري.

د میلان ډ یفلکشن په طریقه کی بیځایه کید نه تنها د مومنټ له امله په نظر کی نیول کیږی. دا طریقه د میترکس د سخت والي طریقه ( Matrix Stiffness Method ) ده چی د اکثرا کمپیوتری طریقو د پاره بنسټیز رول لری.

ددی طریقی لاربنود نه د تعادل په معادلو ، د میلان (Slope) په اساساتو او بیځایه کیدنه (Deflection) تکیه کوی. دجوړښت د یوه غړی تاویدل (rigid body motion) د غړی د اخری مومنټ سره رابطه جوړه وی. پدی ډول د جوړښت د غړی آخری مومنټ د بیځایه کیدو او میلان سره په ارتباط پیدا کیږي. کله چی دا ارتبا ط جوړ شو د توازن له معادلو کار اخیستل کیږی تر څو د جوړښت ناپیژندل شوی بیځایه کیدنه او میلان پیدا شي. پدی ډول د معادلاتو سیستم منځته راځی چی باید حل شی، د توازن معادلی په هر تکی یا نوډ (ګنډه) کی د نا پیژندل شویو نوډونو تاویدل ( میلان او بیځایه کیدل) په نظر کی نیول کیږی.

دلته ښايي چې د هر غړي په پای کې د نوډ تاويدل (ميلان او بيځايه کيدنه) د نوډ له مومنټ سره په اړيکې و پيژندل شي. که چيرې د نوډونو تر مينځ ويشلشوی او يا تمرکزی لوډونه شتون ولری نو بيا ددی لوډونو اغيزی په پام کې هم نيول کيږی.

## 6.1 د بيم آخری مؤمنټونه

پدی لاندی انځور کې يوه برخه د يو دوامدار بيم ګورو:




**انځور 6.1 بيم او ويشلشوی لوډ**

د A او B په څنډو کې شير (Shear) او مومنټ (Moment) دواړه شتون لری په چپ لور څنډه (A) کې مومنټ $M_{AB}$ پلی شوی دی . دا اول توری (حرف) A د M سره د نوډ نوم دی چې مومنټ M هلته شتون لری او دوهم توری (حرف) B د غړی د بل پای نوډ (B) دی. دا ډول نوم ورکول د تحليل په پروسه کې اسانتياوی برابروی ترڅو د غړيو د دواړو څنډو تر مينځ توپير وشی.




**انځور 6.2 بيم او فيکسډ ايند مومنټ**

دلته نا پیرندل شوی ریکشنونه چی په بنی لور(   ) تاویدونکی حرکت ولری مثبت به یی اټکل کړو. کیدای شي چی برعکس يي انتخاب کړو.  هر لور چی انتخاب شو باید تر آخر د حلولو هغه لور هم هغسی وساتل شي.




برخه AB د بیم چی بهرنی لوډ وربادنی شتون نلری

**انځور 6.3 د بیم یوه برخه چی عمومی لوډ وربادنی پلی شوی**




بیځایه شوی منحني توته AB د بیم چی بهرنی لوډ وربادنی شتون نلری

**انځور 6.4 وړه بیځایه شوی کړه برخه AB چی بهرنی لوډ وربادنی شتون نلری**

د بیم AB برخه کله چې ویشلشوی لوډ پرې عمل کوی.




**انځور 6.5 د بیم یوه برخه چې عمومی لوډ عمل کړی**

ددی لپاره چې د بیځایه کیدلو (میلان او ډ یفلکشن ) ممانعت د دواړو څنډو وشی او ارزښت یی صفر شی پدی حالت کی باید د مانع کیدلو مؤمنتونه ( MFAB, MFBA ) شتون ولری . دا مومنتونه په نامه د فیکسډ اینډ مومنټ (Fixed end Moment ) یا دیږی. په لاندی انځور کی د AB برخه څیړو:




**انځور 6.6 د بیم یوه برخه چې عمومی لوډ ورباندی عمل کړی**

آخری مومنټونه د هغی برخی چه بهرنی لوډ ولری پدی لاندی ډول محاسبه کیدی شی.

$$M_A = M_{FAB} + M'_A \qquad (6\text{-}1)$$

$$M_B = M_{FBA} + M'_B \qquad (6\text{-}2)$$

ټولی هغه تاویدونکی زاویې چې په انځور 6.4 کی ښودل شوی پدی لاندی ډول محاسبه کیدی شی:

$$R_{AB} = (\Delta_B - \Delta_A)/(L) \qquad (6\text{-}3)$$

$$\theta_A = \phi_A + R_{AB} \qquad (6\text{-}4)$$

$$\theta_B = \phi_B + R_{AB} \qquad (6\text{-}5)$$

د ی $\phi_A$ او $\phi_B$ زاویو ارزښتونه د مومنټ ایریا په طریقه پدی لاندی ډول پیدا کیدی شی:

$\phi_A = (\Delta'_{BA})/(L) =$ (مؤمنت د M/EI ساحی د A او B په مینځ کی،او مؤمنت په B نیول کیږی) /(L)

$$\phi_A = \frac{1}{L}\left[\frac{M'_A}{EI}\left(\frac{1}{2}\right)(L)\left(\frac{2L}{3}\right) - \frac{M'_B}{EI}\left(\frac{1}{2}\right)(L)\left(\frac{L}{3}\right)\right]$$

$$\phi_A = \frac{L}{3EI} M'_A - \frac{L}{6EI} M'_B \qquad (6\text{-}6)$$

او هم په ورته ډول د بلی څنډی زاویه داسی لیکلی شو:

$$\phi_B = \frac{\Delta'_{BA}}{L} = -\frac{L}{6EI} M'_A + \frac{L}{3EI} M'_B \qquad (6\text{-}7)$$

کله چی دا پورتنی معادلیی (6-6, 6-7) سره ځای په ځای کړونا پیږندل شوی مومنټونه پیدا کوو:

$$M'_A = \frac{4EI}{L}\phi_A + \frac{2EI}{L}\phi_B \qquad (6\text{-}8)$$

$$M'_B = \frac{2EI}{L}\phi_A + \frac{4EI}{L}\phi_B \qquad (6\text{-}9)$$

د $\phi_A$ او $\phi_B$ ارزښتونه (6-6, 6-7) په پورتنيو معادلو (6-8, 6-9) کې ځای په ځای کووتر څو نا پیژندل شوی مومنتونه پدی لاندی ډول پیدا شی:

$$M'_A = \frac{4EI}{L}(\theta_A - R_{AB}) + \frac{2EI}{L}(\theta_B - R_{AB}) \qquad (6\text{-}10)$$

$$M'_B = \frac{2EI}{L}(\theta_A - R_{AB}) + \frac{4EI}{L}(\theta_B - R_{AB}) \qquad (6\text{-}11)$$




انځور 6.7 د بیم یوه ټوټه چې عمومی لوډ پری عمل کړی

دلته 6-10 او 6-11 معادلې په 6-1 او 6-2 معدلو کی ځای په ځای کوو او د میلان ډ یفلکشن (Slope deflection) معادلی پدی لاندی ډول تری جوړیږی:

کله چې د غړی تاویدونکی زاویه $R_{AB}$ ارزښت $\Delta/L$ ، $(\Delta = \Delta_B - \Delta_A)$ پدی پورتنیو معادلو کی ځای په ځای کړو د میلان ډ یفلکشن عمومی معادلی په دي لاندی ډول تری جوړیږی.

$$M_A = M_{FAB} + \frac{4EI}{L}(\theta_A) + \frac{2EI}{L}(\theta_B) - \frac{6EI}{L^2}\Delta \qquad (6\text{–}14)$$

$$M_B = M_{FBA} + \frac{2EI}{L}(\theta_A) + \frac{4EI}{L}(\theta_B) - \frac{6EI}{L^2}\Delta \qquad (6\text{–}15)$$

په عمومی توګه دا دوی معادلی (6-14, 6-15) د میلان ډ یفلکشن معادلي نومیږی او داسی هم ښودل کیدای شی:

$$M_{ij} = \left(\frac{4EI}{L}\right)\theta_i + \left(\frac{2EI}{L}\right)\theta_j + FEM_{ij}$$

$$M_{ji} = \left(\frac{2EI}{L}\right)\theta_i + \left(\frac{4EI}{L}\right)\theta_j + FEM_{ij}$$

## 6.2 د ترل شویو اتکاوو مومنتونه (Fixed end Moments )

دي لاندی بار شویو بیمو فیکسډ اینډ مومنتونه یی پدی لاندی انځورونو کی ښودی شوي.






**انځور 6.8 د یو شمیر بیمو فیکسید اینډ مومنتونه**

## 6.3 د آزادي درجه (Degree of Freedom (DOF))

کله چه په یوه جوړښت باندی لوډ عمل وکړی دجوړښت یو تعداد ټکی چی نوډ (node) نومیږی بیځایه کیږی.د بیځایه کیدلو تعداد چی د متغیرونو د معلومولواو حل لپاره په کار دی د جوړښت د ازادی درجه (Degree of Freedom) بلل کیږی. جوړښت له یو سلسله غړیو چی په نوډ (node) کی یو بل سره ترل شوی جوړ دی. په عمومی ډول دا نوډونه په جاینټ ، اتکا ، د غړی څنډی او یا هغه برخوکی چی مقطع یي توپیر مومی موقعیت لری.

د ازادی درجی پیدا کولو لپاره دا لاندی مثالونه وړاندی کیږي:




انځور 6.9 د بیم د ازادی درجه (DOF)

کله چې په بیم AB لوډ P عمل وکړي کړه کربنه په نوډ A (node) کی میلان $\theta_A$ جوړه وي ، اما نوډ B تړل شوی (Fixed) او میلان $(\theta_B)$ دلته صفر دی. پس ویلای شو چې دا بیم د ازادی یوه درجه لری او هغه عبارت ده له $\theta_A$ نه. که چیری دا میلان وپیژنو ددي نا معلوم بیم حل پیدا کولای شو.

## 6.4 د ازادی د درجی معلومول (DOF)

د بیم AB د نامعلوم ارزښت تونو حد مساوی دی په




1 DOF: $\theta_A$

انځور 6.10 د بیم د ازادی درجه (DOF)

بیم ABC چې یو فیکسد ، بل رولراو بل د پین اتکا لری د نامعلوم ارزښتونو حد یی مساوی دي په دوه.

2 DOF : $\theta_A$ , $\theta_B$




**انځور 6.11 د بیم دازادی درجه (DOF)**

پدی بل انځور کی بیم ABC یوه برخه کنتیلور لری او لوډ P پری عمل کړی نوډ (node) A تاویدي شي او هم په کښته لور بیځایه کیدنه لري. پس ویلایی شو چی دا بیم څلور درجی فریدم لری:

$\theta_A, \theta_B, \theta_C, \Delta_A$




**انځور 6.12 د بیم د ازادی درجه (DOF)**

فریم ABCD دری درجه فریدم لری: $\theta_B, \theta_C, \Delta_B$




**انځور 6.13 د فریم د ازادی درجه (DOF)**

## 6.5 د جوړښت د غړی سختی یا ستیفنیس(Stiffness)

د بیم AB د سختی فکتورونه پدی لاندی ډول ده




$$k_{AA} = \frac{4EI}{L}$$

$$k_{BA} = \frac{2EI}{L}$$

$$k_{BB} = \frac{4EI}{L}$$

$$k_{AB} = \frac{2EI}{L}$$

انځور 6.14 د غړی سختی

## 6.6 د میتریکس جوړه ول (Matrix Formulation)

دمیلان د یفلکشن معادلی د میترکس په چوکاټ کی داسی ښودل کیږي. پدی باره کی به په آتم فصل کی نور تفصیل او بحث ولرو .

$$M_{ij} = \left(\frac{4EI}{L}\right)\theta_i + \left(\frac{2EI}{L}\right)\theta_j + FEM_{ij}$$

$$M_{ji} = \left(\frac{2EI}{L}\right)\theta_i + \left(\frac{2EI}{L}\right)\theta_j + FEM_{ij}$$

$$\begin{bmatrix} M_{ij} \\ M_{ji} \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} (\frac{4EI}{L}) & (\frac{2EI}{L}) \\ (\frac{2EI}{L}) & (\frac{4EI}{L}) \end{bmatrix} \begin{bmatrix} \theta_i \\ \theta_j \end{bmatrix} + \begin{bmatrix} FEM_{ij} \\ FEM_{ji} \end{bmatrix}$$

$$\{K\} = \begin{Bmatrix} K_{ii} & K_{ij} \\ K_{ji} & K_{jj} \end{Bmatrix}$$

Stiffness Matrix

د مومنټ معادله داسی بنودلي شو:

$$\{M\} = \{K\}\{\theta\} + \{FEM\}$$

$$\{M\} - \{FEM\} = \{K\}\{\theta\}$$

د نا معلموزاویو د میترکس معادله:

$$\{\theta\} = \{K\}^{-1}\{M\} - \{FEM\}$$

په عامه توګه دا پورتنی معادلی داسی لیکلی شو:

$$\{D\} = \{K\}^{-1}\{F\} - \{FEM\}$$

Fixed end moment matrix د فیکسد اېند میتریکس

Force matrix د لوډونو میتریکس

Stiffness matrix د ستیفنیس میتریکس

Displacement matrix د بیځایه کیدو میتریکس

## 6.7 اول مثال

په ABC بیم ویشلشوی لوډ عمل کړی، غواړو چی د دی بیم تحلیل د میلان د یفلکشن په طریقه اجرا کړو.

کله چی لوډ په بیم عمل وکړی د بیم محوری کرښه بیځایه کیږی او د کړی کرښی میلان په هر جاینټ کی او هم د بیم دهری څندې آخری مومنټونه پدی لاندی انځور کی ښودل شوی.




انځور 6.7 په بیم ABC ویشلشوی لوډ عمل کړی




انځور 6.8 د کږه کربښی میلان په هر اتکا کی




انځور 6.15 د بیم د ځنډی آخری مومنټونه

اتکا وی عمودی بیځایه کیدل ($\Delta$) نلری او په دی اساس د R زاویی ارزښت صفر دی.

اصلی بیم په حالت توازن کی ده، هر جاینټ ښايي په تعادل او توازن کی وی . د جاينټونو آزاد دايگرام پدی لا ندی انځور کی ښودل شوی.




**انځور 6.16 د بیم د د جاینټونو آزاد دایگرام (Free body diagram)**

## 6.8 د توازن حالت او معادلی په هر جاینټ کی

د ABC بیم په هر جاینټ کی میلان شتون لری اما د جاینټ بیځایه کیدل ($\Delta = 0$) شتون نلری. پدی اساس دا جوړښت دری درجه آزادي (degree of freedom) لری يو تاویدونکی میلان ($\theta_i$) یا میلان په هر جاینټ کی. د توازن معادلی باید مساوی په تعداد د آزادی د درجی وی.

په عمومی توګه د توازون حالت په یوه نوډ (node) د یو بیم چی n نوډونه لری او هم بهرنی لوډ وربادی عمل کوی پدی لاندی ډول ښودل کیدی شی:




**انځور 6.17 د بیم د د جا ینټونو آزاد دایگرام**




**انځور 6.18 د بیم د د جاینټونو آزاد دایگرام**

$$\Sigma M_{@j} = 0$$

$$M_{ij} + M_{jk} = 0$$

د انځور 6.7 د مومنټونو ($M_1, M_2, M_3, M_4$) ارزښتونه د میلان ډ یفلکشن په معادلو کی ځای په ځای کوو. اول به د تینګی ځنډی مومنټونه ($M_F$) محاسبه کړو :

$$M_{F1}= +\left(\frac{wL_1^{\ 2}}{12}\right) = +(2\ (30)^2/12 = +150.0 \text{ kN-m}$$

$$M_{F2}= -\left(\frac{wL_1^{\ 2}}{12}\right) =-2\ (30)^2/12 = -150.0 \text{ kN-m}$$

$$M_{F3}= +\left(\frac{wL_2^{\ 2}}{12}\right) = +(2\ (20)^2/12 = +67.0 \text{ kN-m}$$

$$M_{F4}= -\left(\frac{wL_2^{\ 2}}{12}\right) = -(2\ (20)^2/12 = -67.0 \text{ kN-m}$$

د سلوپ دیفلکشن معادلی د غړی آخری مؤمنتونه پدی ډول دی:

$$\left.\begin{aligned}
M_1 &= +150.0 + \frac{4EI}{30}(\theta_A) + \frac{2EI}{30}(\theta_B)\\
M_2 &= -150.0 + \frac{2EI}{30}(\theta_A) + \frac{4EI}{30}(\theta_B)\\
M_3 &= +67 + \frac{4EI}{20}(\theta_B) + \frac{2EI}{20}(\theta_C)\\
M_4 &= -67 + \frac{2EI}{20}(\theta_B) + \frac{4EI}{20}(\theta_C)
\end{aligned}\right\}$$

د میلان پیدا کولو لپاره د مومنټونو ارزښتونو او د توازن له معادلو کار اخلو :

د A, B, C اتکاوو د توازن حالت لپاره:

$$M_1 = 0$$

$$M_2 + M_3 = 0$$

$$M_4 = 0$$

$$\left.\begin{aligned} &\frac{2EI}{30}(\theta_B) + \frac{4EI}{30}(\theta_A) = -150.0 \\ &\frac{2EI}{30}(\theta_A) + \frac{10EI}{3}(\theta_B) + \frac{2EI}{20}(\theta_C) = 83 \\ &\frac{4EI}{20}(\theta_C) + \frac{2EI}{20}(\theta_B) = 67 \end{aligned}\right\}$$

کله چی دا دری معادلی حل کړونا پیژندل شوی زاویو ($\theta_A, \theta_B, \theta_C$) ارزښتونه پدی لاندی ډول دی:

$$EI(\theta_A) = -1375.00$$

$$EI(\theta_B) = +500.00$$

$$EI(\theta_C) = +83.33$$

لدی نه چی د EI مقدار ندی معلوم نو د زاویي د پایلي ځواب نلرو.

د (($\theta_A, \theta_B, \theta_C$) زاویو ارزښتونه د مومنټونو په معادلو کی ځای په ځای کوو تر څو آخری مومنټونه پیدا شی :

$M_1 = +150.0 + \frac{2EI}{30}(\theta_B) + \frac{4EI}{30}(\theta_A) = 150 + 0.067\,(500) - 0.133(1375) = 0$

$M_2 = -150.0 + \frac{4EI}{30}(\theta_B) + \frac{2EI}{30}(\theta_A) = -150.0 + 2/30\,(500) + 2/30\,(-1375) = -242$

$M_3 = +67 + \frac{2EI}{20}(\theta_C) + \frac{4EI}{20}(\theta_B) = 67 + 2/20\,(83.33) + 4/20\,(500) = 242$

$M_4 = -67 + \frac{4EI}{20}(\theta_C) + \frac{2EI}{20}(\theta_B) = -67 + 4/20\,(83) + 2/20\,(500) = 0$

ددی لپاره چی د ځوابونو درستوالی ثابت شی  په هر جاینټ  یا نوډ کی د توازن معادلی باید و منل شی.

$M_1 = 0$

$M_2 + M_3 = 0$

$M_4 = 0$

## 6.9 دوهم مثال

په ABCD  بیم ویشلشوی لوډ او یو تمرکزی لوډ عمل کړی، غواړو چی ددی بیم تحلیل د میلان د یفلکشن  په طریقه اجرا کړو.




انځور 6.19  بیم  ABCD




**انځور 6.20 بیم ABCD د توټو نوډونه**




(Free body diagram) د بیم د برخو آزاد انځور

**انځور 6.21 د ABCD بیم د توټو دایګرام (Free body diagram)**

2)(6)(6/2) =36 kN-m




**انځور 6.22 د بیم د جاینټونو نوډونه**

د غړیو فیکسډ ایند مومنټونه ( Fixed End Moments پدې ډول دی:

$$M_{F1} = -\left(\frac{24(6)(10)^2}{16^2}\right) - (09)(16)^2/(12) = -76.0 \text{ kN-m}$$

$$M_{F2} = +\left(\frac{24(10)6^2}{16^2}\right) + (0.9)(16)^2/12 = +53.0 \text{ kN-m}$$

$$M_{F3} = -\left(\frac{(2)24^2}{12}\right) = -96 \text{ kN-m}$$

$$M_{F4} = +\left(\frac{(2)\ 24^2}{12}\right) = 96.0 \text{ kN-m}$$

د میلان ډیفلکشن د (6-14, 6-15) معادلو له مخی د غړی آخری مومنټونه په لاندی ډول دی:

$$M_1 = -76 + \frac{4E(2I)}{16}(0) + \frac{2E(2I)}{16}(\theta_B) = -76 + 0.25(EI)\ \theta_B$$

$$M_2 = +53 + \frac{2E(2I)}{16}(0) + \frac{4E(2I)}{16}(\theta_B) = 53 + 0.5\ EI\ \theta_B$$

$$M_3 = -96 + \frac{4E(5I)}{24}(\theta_B) + \frac{2E(5I)}{24}(\theta_c) = -96 + 0.83EI\ \theta_B + 0.42\ EI\ \theta_c$$

$$M_4 = 96.0 + \frac{2E(5I)}{24}(\theta_B) + \frac{4E(5I)}{24}(\theta_C) = +96.0 + 0.42\ EI\ \theta_B + 0.83\ EI\ \theta_C$$

د لته د دوو جاینټونو میلان شته او په هر جاینټ کی د توازن حالت او معادلی عبارت دی له :

$$M_2 + M_3 = 0$$

$$M_4 - 36 = 0$$

ددی بیم ټول مومنټونه ($M_1$, $M_2$, $M_3$, $M_4$) نا معلوم دی، دوی د غړی په کیڼ لور او په جاینټ کی ښی لور ته فرض کوو .

$M_2 + M_3 = 0$

$53 + 0.5\ EI\ \theta_B\ -96 + 0.83EI\ \theta_B + 0.42\ EI\ \theta_c\ = 0$

$1.33\ EI\ \theta_B + 0.42\ EI\ \theta_c = 43$ ……………….(a)

$M_4 - 36 = 0$

$+96.0 + 0.42\ EI\ \theta_B + 0.83\ EI\ \theta_C - 36 = 0$

$60 + 0.42\ EI\ \theta_B + 0.83\ EI\ \theta_C = 0$

$0.42\ EI\ \theta_B + 0.83\ EI\ \theta_C\ = -60$ (b)

دا دوه معادلی (a, b) چه دوی نا معلومی د میلان زاویی ($\theta_B$ ، $\theta_C$ ) لری حل کوو او ارزښتونه یی پدی لاندی ډول کیږی:

$EI\ \theta_B\ \ = +65\ kN\text{-}m^2$

$EI\ \theta_C\ \ = -105\ kN\text{-}m^2$

دا ارزښتونه ( $EI\ \theta_{B}$, $EI\ \theta_C$) بیرته د میلان ډیفلکشن په معادلو کی ځای په ځای کوو تر څو د غړیو مومنتونه پیدا کړو :

$M_1$= -76 + 0.25(65) $= -60$ kN-m

$M_2$= 53 + 0.5 (65) = 86 kN-m

$M_3$= -96 +0.83(65)+0.42 (-105) = -86 kN-m

$M_4$= +96.0 +0.42 (65)+0.83 (-105) = 36 kN-m

## 6.10 د تعادل او توازن پیرېندل

د ځوابونو درستوالی په هر جاینټ کی د تعادل حالت او معادلی باید ومنی.

$M_2 + M_3 = 0$

$M_4 - 36 = 0$

86-86 =0

$M_4$ =36

## 6.11 دریم مثال

یو دوامداره بیم ABCD په دی لاندی انځور کی ښودل شوی ، یو ویشلشوی او یو تمرکزی لوډوربالندی عمل کړی ، دمیلان د یفلکشن په طریقه یی تحلیل کوو. په اتکا وو کی بیځایه کیدنه یا خوځښت نشته.




انځور 6.23 بیم ABCD چې ویشلشوی او تمرکزی لود وربانډی عمل کړی

جاینټ A او D ټینګ تړل شوی ( Fixed) او تاویدی نشی، اما جاینټ B او C په ازاده توګه تاویدی شی او میلان لری.

ځانګړی بیځایه کیدل (عمودی یا افقی حرکت او تاویدل) په هر جاینټ یا نوډ (node) کی باید وپیژندل شی. دا نه پیژندل شوی بیځایه کید نه په نامه دی د جوړښت د ازادی درجه ( Degree of Freedom) بلل کیږی. دا بیم دوه نه پیژندل شوی بیځایه کیدنه ($\theta_B, \theta_C$) لری اوپدی معنی چې د دی بیم د ازادی درجه دوه ده.

## د توازن معادلی:

د جاینټونو نه پیژندل شوی میلانونه ($\theta_B, \theta_C$) د توازن د معادلو په تحلیل سره پیدا کوو. د جاینټونو آزاد دایګرام پدی لاندی کی ښودل کیږی:






**ا نځور 6.24 بیم ABCD برخې او د جاینټونوآزاد دایګرام (Free body diagram of joints)**

د داخلی مومنټونو ارزښت معلوم ندی ، پدی انځور کی دا فرض شوی چی داخلی مومنټونو جهت په چپ لور دی او دلته دا جهت مثبت فرض کوو. دا بیم په حالت د توازن کیده، پدی اساس هر جاینټ په حالت د توازن کیدی.

جوینټ B $M_{BA} + M_{BC} = 0$

جوینټ C $M_{CB} + M_{CD} = 0$

## د میلان ډ یفلکشن معادلی:

اول باید د جاینټونو څنډو مومنټونه د بهرنی لوډ له امله پیدا کړو. د آخری جاینټونو مومنټونو لپاره خیالی ټرل په جاینټ B او C کی پلی کوو، دا آخری مومنټونه جاینټونه له تاویدو ممانعت کوی او نه یی پریږدی چی تاویدونکی بیځایه کید نه وکړی.




انځور 6.25 بیم ABCD بهرنی لوډ

## د جاینتونو  فیکسډ اینډ مومنټ(Fixed End Moments)










$FEM_{CD} = 0$ $\quad$ $FEM_{DC} = 0$

په دی برخه بهرنی لوډ شتون نلری

**انځور 6.26 بیم ABCD د بهرنی لوډ فیکسډ اینډ مومنټونه**

$$FEM_{AB} = \frac{WL^2}{12} = \frac{(1.0)(10)^2}{12} = 8.33\ kN-m \qquad FEM_{BC} = \frac{PL}{8} = \frac{20(10)}{8} = 25\ kN-m$$

$$FEM_{BA} = -\frac{WL^2}{12} = \frac{(1.0)(10)^2}{12} = -8.33\ kN-m \qquad FEM_{CB} = -\frac{PL}{8} = -\frac{20(10)}{8} = -25\ kN-m$$

## د میلان ډیفلکشن معادلی:

د میلان ډ یفلکشن 6-14 او 6-15 معادلو استفاده کېږو، تړل شوی مومنټ (FEM) ارزښتونه ځای په ځای کوو .

$$M_A = M_{FAB} + \frac{4EI}{L}(\theta_A) + \frac{2EI}{L}(\theta_B) - \frac{6EI}{L^2}\Delta \qquad (6\text{–}14)$$

$$M_B = M_{FBA} + \frac{2EI}{L}(\theta_A) + \frac{4EI}{L}(\theta_B) - \frac{6EI}{L^2}\Delta \qquad (6\text{–}15)$$

$$M_{AB} = 8.33 + \frac{4EI}{L}(0) + \frac{2EI}{L}(\theta_B) - \frac{6EI}{L^2}(0) = \frac{2EI}{10}(\theta_B) + 8.33 = 0.2EI(\theta_B) + 8.33$$

$$M_{BA} = -8.33 + \frac{2EI}{L}(0) + \frac{4EI}{L}(\theta_B) - \frac{6EI}{L^2}(0) = + \frac{4EI}{10}(\theta_B) = 0.40EI(\theta_B) - 8.33$$

$$M_{BC} = 25 + \frac{4EI}{L}(\theta_B) + \frac{2EI}{L}(\theta_C) - \frac{6EI}{L^2}(0) = 25 + \frac{4EI}{10}(\theta_B) + \frac{2EI}{10}(\theta_C) = 25 + 0.40EI(\theta_B) + 0.20EI(\theta_C)$$

$$M_{CB} = -25 + \frac{2EI}{10}(\theta_B) + \frac{4EI}{10}(\theta_C) - \frac{6EI}{L^2}(0) = -25 + 0.20\,EI(\theta_B) + 0.40EI(\theta_C)$$

$$M_{CD} = 0 + \frac{4EI}{10}(\theta_C) + \frac{2EI}{10}(0) - \frac{6EI}{L^2}(0) = 0 + 0.40EI(\theta_C)$$

$$M_{DC} = 0 + \frac{2EI}{10}(\theta_C) + \frac{4EI}{L}(0) - \frac{6EI}{L^2}(0) = 0 + 0.20\,EI(\theta_C)$$

## د جاینټ د توازن معادلی:

B جوینټ $M_{BA} + M_{BC} = 0$

C جوینټ $M_{CB} + M_{CD} = 0$

$$M_{BA} + M_{BC} = 0.40EI(\theta_B) - 8.33 + 25 + 0.40EI(\theta_B) + 0.20EI(\theta_C) = 0$$

$$M_{CB} + M_{CD} = -25 + 0.20\,EI(\theta_B) + 0.40EI(\theta_C) + 0.40EI(\theta_C) = 0$$

$$0.8(\theta_B) + 0.20EI(\theta_C) = -16.67$$

$$0.20\,EI(\theta_B) + 0.80EI(\theta_C) = 25$$

دا دوی معادلی دوه نا معلومه د میلان زاویی $\theta_B$ او $\theta_C$ لری او کله یی چی حل کړو ددی معادلو پایله عبارت ده:

$$EI\,\theta_B = -30.56\text{ kN-m}^2$$

$$EI\,\theta_C = 38.89\text{ kN-m}^2$$

دا ارزښتونه د $\theta_B$ او $\theta_C$ د مومنتونو په معادلوکی ځای په ځای کوو او پایله یی عبارت ده:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| $M_{AB}$ | = | $0.20EI\theta_B + 8.33$ | = | 2.218 |
| $M_{BA}$ | = | $0.40EI\theta_B - 8.33$ | = | **-20.554** |
| | | | | |
| $M_{BC}$ | = | $25 + 0.40EI\theta_B + 0.20EI\theta_c$ | = | **20.554** |
| $M_{CB}$ | = | $-25 + 0.20EI\theta_B + 0.40EI\theta_c$ | = | **-15.556** |
| | | | | |
| $M_{CD}$ | = | $0.40EI\theta_C$ | = | **15.556** |
| $M_{DC}$ | = | $0.20EI\theta_C$ | = | 7.778 |

پیدا شوی مومنتونه باید د توازن معادلی پوره کړي:

| | | |
|---|---|---|
| $M_{BA} + M_{BC}$ | = | 0 |
| $M_{CB} + M_{CD}$ | = | 0 |

## د بیم د غړیو آخری مومنټونه:




**انځور 6.27 بیم ABCD د نوډونو او حصو فیکسډ اینډ مومنټونو دیاګرام**

| -1000 | 1000 | 0.00 | 0.57 | | | 2.65 | | 122.26 | **مجموعه په جوینت** | |

| b | | e | c | | | d | | f | د جوینت نوم | Joint |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ba | bc | ec | cb | ce | cd | dc | df | fd | د جوړښت غړی په نود کی | **Member** |
| 5 | 30 | 25 | 30 | 25 | 20 | 20 | 17 | 17 | د غړی اوږدوالی | **L** |
| 0 | 3 | 2 | 3 | 2 | 3 | 3 | 1 | 1 | دغړی I | **I** |
| | 0.100 | 0.080 | 0.075 | 0.060 | 0.150 | 0.150 | 0.059 | ∞ | د غړی سختی (تعدیل شوی) | **K** |
| | 0.10 | 0.08 | 0.29 | | | 0.21 | | 0.00 | | **Sum** |
| 0 | 1.000 | 1.000 | 0.263 | 0.211 | 0.526 | 0.718 | 0.282 | 0 | د ویشلو فکتور | **DF** |
| 0 | 1.000 | 1.000 | 1.000 | | | 1.000 | | 0 | د جوینت مجموعه د ویشلو فکتور | **Sum** |







**انځور 7.30   د فریم د خوځیدلو مؤمنتونه په کالم او بیم**

$$F_{df} = (M_{df} + M_{fd})/17 = 21.58$$

$$F_{ce} = (M_{ce} + M_{ec})/25 = -10.94$$

$$\Sigma F_x = 0$$

$$100 + 21.58 - 10.94 - F_b = 0$$

$$F_b = 110.64$$

## دوهمه مرحله :

دا فیکسډ اینډ ( FEM ) مومنټونه نسبی دی او وروسته بیا ددوی اصلی ارزښت پیدا کیږی.

اوس ددی فیکسډ اینډ مومنټو لپاره مومنټ ډیستریبیوشن یي کو او دا عملیه په لاندی جدول کی ښودل شوی. تنها فیکسډ مومنټو ته تغیر ورکوو او تیره شوی عملیه تکراره وو :

$$M_{\text{fixed end}} = -\frac{6E(I)\Delta}{(L)(L)} = -\left(\frac{6E}{L}\right)\left(\frac{I}{L}\right)(\Delta)$$

$M_{\text{fixed end df}}$ = - (6E/17) (1I/17)(Δ ) $= -0.0207IE\Delta$

$M_{\text{fixed end ce}}$ = - (6E/25) (2/25)(Δ ) $= -0.0192I\,E\Delta$

د $EI\Delta$ ارزښت فرض کوو چې سل یا هر واحد کیدی شی دلته به یي 1000 فرض کړو

$M_{df}$ = -20.7

$M_{ce}$ = -19.2




**انځور 7.31 د فریم د خوځیدلو مثال**

# د دوهمي مرحلي مؤمنت ډیستریبیوشن

| b | | e | c | | | d | | f | د جوینټ نوم | Joint |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ba | bc | ec | cb | ce | cd | dc | df | fd | د جوړښت غړی په نوډ کی | Member |
| | 0.10 | 0.08 | 0.08 | 0.06 | 0.15 | 0.15 | 0.06 | ∞ | د غړی سختی (تعدیل شوی) | K |
| | 1 | 1.00 | 0.263 | 0.211 | 0.526 | 0.718 | 0.282 | 0.000 | د ویشلو فکتور | DF |
| | 0 | -19.2 | 0 | -19.2 | 0 | 0 | -20.7 | -20.7 | فیکسد اینډ مؤمنټ | FEM |
| | 0 | 19.2 | 5.05 | 4.04 | 10.11 | 14.87 | 5.83 | 0 | اول سا یکل | د و یشلومؤمنټ (DIST) |
| | | | 0.00 | 9.60 | 7.43 | 5.05 | 0.00 | 2.92 | دوهم سایکل | بل لور ته د ورلو فکتور(CO) |
| | | | -4.48 | -3.59 | -8.97 | -3.63 | -1.42 | 0.00 | | د و یشلومؤمنټ (DIST) |
| | | | 0.00 | 0.00 | -1.81 | -4.48 | 0.00 | -0.71 | | بل لور ته د ورلو فکتور(CO) |
| | | | 0.48 | 0.38 | 0.96 | 3.22 | 1.26 | 0.00 | | د و یشلومؤمنټ (DIST) |
| | | | 0.00 | 0.00 | 1.61 | 0.48 | 0.00 | 0.63 | | بل لور ته د ورلو فکتور(CO) |
| | | | -0.42 | -0.34 | -0.85 | -0.34 | -0.13 | 0.00 | | د و یشلومؤمنټ (DIST) |
| | | | 0.00 | 0.00 | -0.17 | -0.42 | 0.00 | -0.07 | | بل لور ته د ورلو فکتور(CO) |
| | | | 0.05 | 0.04 | 0.09 | 0.30 | 0.12 | 0 | | د و یشلومؤمنټ (DIST) |
| | | | 0.00 | 0.00 | 0.15 | 0.05 | 0.00 | 0.0597 | | بل لور ته د ورلو فکتور(CO) |
| | | | -0.04 | -0.03 | -0.08 | -0.03 | -0.01 | | | د و یشلومؤمنټ (DIST) |
| | | | 0.00 | 0.00 | -0.02 | -0.04 | 0.00 | -0.006 | | بل لور ته د ورلو فکتور(CO) |
| | | | 0.00 | 0.00 | 0.01 | 0.03 | 0.01 | | | د و یشلومؤمنټ (DIST) |
| | | | | | 0.01 | | | 0.0056 | | وروسته سایکلونه د تاثیر ور ندی او پروسه دلته توقف کوو |
| | **0.00** | **0.00** | **0.63** | **-9.09** | **8.47** | **15.05** | **-15.05** | **-17.87** | **مجموعه دآخری مؤمنتونو** | |
| | 0.00 | 0.00 | 0.01 | | | 0.00 | | -17.87 | مجموعه په جوینټ | |

| b | | e | c | | | d | | f | د جوینټ نوم | Joint |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ba | bc | ec | cb | ce | cd | dc | df | fd | د جوړښت غړی په نوډ کی | Member |
| 0 | 30 | 25 | 30 | 25 | 20 | 20 | 17 | 17 | د غړی اوږدوالی | L |
| | 3 | 2 | 3 | 2 | 3 | 3 | 1 | 1 | دغړی I | I |
| | 0.100 | 0.080 | 0.075 | 0.060 | 0.150 | 0.150 | 0.059 | ∞ | د غړی سختی (تعدیل شوی) | K |
| | 0.10 | 0.08 | 0.29 | | | 0.21 | | 0.00 | | Sum |
| | 1.000 | 1.000 | 0.263 | 0.211 | 0.526 | 0.718 | 0.282 | 0 | د ویشلو فکتور | DF |
| | 1.000 | 1.000 | 1.000 | | | 1.000 | | 0 | د جوینټ مجموعه د ویشلو فکتور | Sum |




**انځور 7.31** د فريم د خوځيدلو مؤمنتونه په کالم او بيم

$$\Sigma F_x = 0$$

$$1.936 + 0.36 - F_b = 0$$

$$\boxed{F_b = 2.30}$$

$$F_{df} = (M_{df} + M_{fd})/17 = 1.936$$

$$F_{ce} = (M_{ce} + M_{ec})/25 = 0.36$$

د اولی او دوهمی مرحلی ارزښتونه باید توازن ولری.

$$2.30(x) - 110.64 = 0$$

$$X = 110.64/2.30 = 48.45$$

$$Q_{d\ nossway}/Q_{sidesway} = 110.66 / 2.284 = 48.10$$

**د فریم اخری مومنتونه چی اوله او دوهمه مرحلی سره یو ځای شی**

| | | d | | c | | | b | f |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **Frame Status** | | $M_{df}$ | $M_{dc}$ | $M_{cd}$ | $M_{ce}$ | $M_{cb}$ | $M_{bc}$ | $M_{fd}$ |
| **Final Moment With sidesway** | دوهمه مرحلی مؤمنتونه | -15.05 | 15.05 | 8.47 | -9.09 | 0.63 | 0.00 | -1.00 |
| **Sidesway Factor** | د خوځیدلو فکتور | 48.45 | 48.45 | 48.45 | 48.45 | 48.45 | 48.45 | 48.45 |
| **Final Moment With sidesway factor M =B x $M_{phase\ 2}$** | تعدیل شوی د دوهمی مرحلی مؤمنتونه (B x M) | -729.17 | 729.17 | 410.37 | -440.41 | 30.52 | 0.00 | -48.45 |
| **Final Moment With No sidesway** | اوله مرحلی مؤمنتونه | 244.52 | -241.87 | 116.09 | -273.56 | 158.05 | 1000.00 | 122.26 |
| **Total Moment** | مجموعه د مؤمنت | -484.65 | 487.30 | 526.46 | -713.97 | 188.57 | 1000.00 | 73.81 |
| | مجموعه په جوینت | 2.65 | | 1.06 | | | 1000.00 | 73.81 |

## 7.23 مثال 13

پدی لاندی انځور کی  فریم ABCD ښودل شوی د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه یی د جاینټ مومنټونه پیدا کوو. فریم ښی یا کیڼ لور ته خوځیدلی شی. دا مثال د  سلوپ دیفلکشن په طریقه هم حل شوی او د دواړو طریقو ځوابونه  باید یو شان وی.




انځور 7.32   د فریم د خوځیدلو مثال

پدی فریم دوو بهرنی لوډونو عمل کړی او د فریم په غړیو کی فیکسید اینډ مومنټونه جوړه وی چی عبارت دی له:

$$FEM_{AB} = -\frac{wL^2}{12} = -\frac{2(15)^2}{12} = -37.5\ kN.m$$

$$FEM_{BA} = \frac{wL^2}{12} = 37.5\ kN.m$$

$$FEM_{BC} = -\frac{Pab^2}{L^2} = -\frac{100(5)(15)^2}{(20)^2} = -281.25 kN.m$$

$$FEMCB = \frac{Pa^2b}{L^2} = \frac{(100)(5)^2(15)}{20^2} = 93.75\ kN.m$$




انځور 7.33 د فریم د خوځیدلو مؤمنتونه په کالم او بیم




انځور 7.34 د فریم د خوځیدلو فیکسد ایند مؤمنتونه په کالم او بیم

جوينت A :

$K_{AB}= (4I)/15=0.267I$

$\Sigma K_A = K_{AB} + 0 = (0.0267)I$

$DF_{AB} = K_{AB}/(\Sigma k)_C= \frac{0.267I}{0.267I} = 1.0$

جوينت B :

$DF_{ij} = k_{ij}/(\Sigma k) =$ Distribution factor for ij

$K^R_{BA}= (3/4)(4I)/15=0.20I$

$K_{BC}= (3I)/20=0.15I$

$\Sigma K_B = K_{BA} + K_{BC} = (0.20+ 0.15)I =0.35I$

$DF_{BA} = k_{BA}/(\Sigma k)_B= \frac{0.20I}{0.35I} = 0.57$

$DF_{BC} = k_{BC}/(\Sigma k)_B= \frac{0.15I}{0.35I} = 0.43$

جوينت C :

$K^R_{CD}= (3/4)(1I)/15=0.05I$

$K_{CB}= (3I)/20=0.15I$

$\Sigma K_C = K_{CB} + K_{CD} = (0.15+ 0.05)I =0.20I$

$DF_{CD} = K_{CD}/(\Sigma k)_C= \frac{0.05I}{0.20I} = 0.25$

$DF_{CB} = K_{CB}/(\Sigma k)_C= \frac{0.15I}{0.20I} = 0.75$

جوينت D :

$K_{DC}= ( I)/15=0.067I$

$\Sigma K_D = K_{DC} + 0 = (0.067)I$

$DF_{DC} = K_{DC}/(\Sigma k)_D= \frac{0.067I}{0.067I} = 1.0$

## مومنت ډیستریبیو شن - اوله مرحله

| | Joint | د جوینت نوم | A | B | | C | | D |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Member | د جوړښت غړي په نوډ کې | AB | BA | BC | CB | CD | DC |
| 1 | K | د غړي سختي (تعدیل شوی) | 0.267 | 0.200 | 0.150 | 0.150 | 0.050 | 0.067 |
| 2 | DF | د ویشلو فکتور | 1.000 | 0.571 | 0.429 | 0.750 | 0.250 | 1.000 |
| 3 | FEM | فیکسډ اینډ مؤمنت | -37.5 | 37.5 | -281.25 | 93.75 | 0.000 | 0 |
| 4 | (DIST) د و یشلومؤمنت | اول سا یکل | 37.5 | 139.29 | 104.46 | -70.31 | -23.44 | |
| 5 | (CO)بل لور ته د وړلو فکتور | دوهم سایکل | | 18.75 | -35.16 | 52.23 | | |
| 6 | DIST | | | 9.38 | 7.03 | -39.17 | -13.06 | |
| 7 | (CO)بل لور ته د وړلو فکتور | | | | -19.59 | 3.52 | | |
| 8 | (DIST) د و یشلومؤمنت | | | 11.19 | 8.39 | -2.64 | -0.88 | |
| 9 | (CO)بل لور ته د وړلو فکتور | | | | -1.32 | 4.20 | | |
| 10 | (DIST) د و یشلومؤمنت | | | 0.75 | 0.57 | -3.15 | -1.05 | |
| | (CO)بل لور ته د وړلو فکتور | | | | -1.57 | 0.28 | | |
| | (DIST) د و یشلومؤمنت | | | 0.90 | 0.67 | -0.21 | -0.07 | |
| | | | | | -0.11 | 0.34 | | |
| 11 | وروسته سایکلونه د تاثیر ور ندی او پروسه دلته توقف کوو | | | | | | | |
| | | **مجموعه دآخری مؤمنتونو** | **0.00** | **217.76** | **-217.86** | **38.83** | **-38.49** | **0.00** |
| | | **مجموعه په جوینت** | 0.00 | -0.11 | | 0.34 | | 0.00 |

| | Joint | د جوینت نوم | A | B | | C | | D |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Member | د جوړښت غړي په نوډ کې | AB | BA | BC | CB | CD | DC |
| | L | د غړي اوږدوالی | 15 | 15 | 20 | 20 | 15 | 15 |
| | I | دغړي I | 4 | 4 | 3 | 3 | 1 | 1 |
| | K | د غړي سختي (تعدیل شوی) | 0.267 | 0.200 | 0.150 | 0.150 | 0.050 | 0.067 |
| | Sum | مجموعه | 0.267 | 0.350 | | 0.200 | | 0.067 |
| | DF | د ویشلو فکتور | 1 | 0.571 | 0.429 | 0.750 | 0.250 | 1.000 |
| | Sum | د جوینت مجموعه د ویشلو فکتور | 1 | 1.000 | | 1.000 | | 1.000 |







$\Sigma M_{\text{at } A} = 0$

$F_{BX}\,(15) - 2.0x\,(15x15/2) - 217.76 = 0$

$F_{BX} = 29.52$

$\Sigma M_{\text{at } D} = 0$

$F_{CX}(15)) - M_{CD} = 0$

$F_{CX}(15) - (38.49) = 0$

$F_{CX} = (39)/15 = 2.57$




**انځور 7.35 د فریم د خوځیدلو مؤمنتونه په کالم او بیم**

$\Sigma F_X = 0$

$29.52-2.57 = 26.95$ kN

Need 26.95 acting to left to prevent side sway

یو لوډ په ارزښت د 26.95 kN ضرورت دی چی په چپ لور عمل وکړی تر څو د فریم د خوځیدو مخه ونیول شی.

## دوهمه مرحله- د فریم د خوځیدلو ممانعت

پدی مرحله کی اړیکی د غړیو د آخری مومنټونو او افقی لوډ چی په BC عمل کړی پیدا کوو. دلته خوځیدل دلتا ($\Delta$) نا متوازن لوډ مینځ ته راوړی او هغه فیکسید مومنټونه تشکیلوی.

د دلتا ارزښت معلوم ندی اما کیدی شی چی هغه فرض کړو، بیا وروسته به یي اصلی ارزښت پیدا کړو.
فیکسید مومنټ د دلتا ($\Delta$) له امله عبارت دی :

$$M_{\text{fixed end}} = -\frac{6EI\Delta}{L^2}$$

$$\left.\begin{aligned} M_{\text{fixed end BA}} &= FEM_{AB} = -\frac{6EI\Delta}{L^2} = -\frac{6E(4I)\Delta}{15^2} = -0.107EI\Delta \\ M_{\text{fixed end CD}} &= FEM_{DC} = -\frac{6EI\Delta}{L^2} = -\frac{6E(I)\Delta}{15^2} = -0.0267EI\Delta \end{aligned}\right\}$$

د ($EI\Delta$) ارزښت معلوم ندی او دا ارزښت دلته 1000 فرض کړو.

$$M_{\text{fixed end BA}} = FEM_{AB} = -(1000)(0.107) = -107 \text{ kN-m}$$

$$M_{\text{fixed end CD}} = FEM_{DC} = -(1000) \times 0.0267 = -26.7 \text{ kN.m}$$

دا فيکسډ اينډ (26.7-   ,107-) مومنټونه نسبی دی او وروسته بيا ددوی  اصلی  ارزښت پيدا کيږي.

# دوهمه مرحله

| D | C | | B | | A | د جوینت نوم | Joint | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| DC | CD | CB | BC | BA | AB | د جوړښت غړی په نوډ کې | Member | |
| 0.067 | 0.050 | 0.150 | 0.150 | 0.200 | 0.267 | د غړی سختی (تعدیل شوی) | K | 1 |
| 0.067 | 0.250 | 0.750 | 0.429 | 0.571 | 1.000 | د ویشلو فکتور | DF | 2 |
| -26.7 | -26.700 | 0 | 0 | -107 | -107 | فیکسد اېند مؤمنت | FEM | 3 |
| 26.7 | 6.68 | 20.03 | 45.86 | 61.14 | 107 | اول سا یکل | د و یشلومؤمنت (DIST) | 4 |
| | 13.35 | 22.93 | 10.01 | 53.50 | | دوهم سایکل | بل لور ته د ورلو فکتور(CO) | 5 |
| | -9.07 | -27.21 | -27.22 | -36.29 | | | DIST | 6 |
| | | -13.61 | -13.60 | | | | بل لور ته د ورلو فکتور(CO) | 7 |
| | 3.40 | 10.21 | 5.83 | 7.77 | | | د و یشلومؤمنت (DIST) | 8 |
| | | 2.92 | 5.10 | | | | بل لور ته د ورلو فکتور(CO) | 9 |
| | -0.73 | -2.19 | -2.19 | -2.92 | | | د و یشلومؤمنت (DIST) | 10 |
| | | -1.09 | -1.09 | | | | | |
| | 0.27 | 0.82 | 0.47 | 0.62 | | | | |
| | | 0.23 | 0.41 | | | | | |
| | -0.06 | -0.10 | -0.18 | -0.23 | | | بوروسته سایکلونه د تاثیر وړ ندی او پروسه دلته توقف کوو | 11 |
| | | | | | | | | |
| **0.00** | **-12.86** | **12.93** | **23.40** | **-23.40** | **0.00** | **مجموعه دآخری مؤمنتونو** | | |
| 0.00 | 0.08 | | 0.00 | | 0.00 | مجموعه په جوینت | | |

| d | c | | b | | a | د جوینت نوم | Joint | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| dc | cd | cb | bc | ba | ab | د جوړښت غړی په نوډ کې | Member | |
| 15 | 15 | 20 | 20 | 15 | 15 | د غړی اوږدوالی | L | |
| 1 | 1 | 3 | 3 | 4 | 4 | دغړی I | I | |
| 0.067 | 0.050 | 0.150 | 0.150 | 0.200 | 0.267 | د غړی سختی (تعدیل شوی) | K | |
| 0.067 | 0.200 | | 0.350 | | 0.267 | مجموعه | Sum | |
| 0.067 | 0.250 | 0.750 | 0.429 | 0.571 | 1 | د ویشلو فکتور | DF | |
| 1.000 | 1.000 | | 1.000 | | 1 | د جوینت مجموعه د ویشلو فکتور | Sum | |




انځور 7.37 د فریم د خوځیدلو مؤمنتونه په کالم او بیم

$\Sigma M_{\text{at } A} = 0$

$R_{BX}(15) - 23.35 = 0$

$R_{BX} = 1.56$

$\Sigma M_{\text{at } D} = 0$

$F_{CX}(15)) - M_{CD} = 0$

$F_{CX} = (12.82)/15 = 0.855$




$\Sigma F_X = 0$

$1.56 + 0.855 = 2.41$

Need 2.41 acting to left to prevent side sway

په اوله مرحله کی موولیدل چی R= 26.95 په چپ لور ضرورت وا ، مومنټ د دوهمی مرحلی په فکتور B جوړ یږی.

$$R = (B)\,P$$

$$B = \frac{R}{P} = \frac{26.95}{2.41} = 11.18$$

ددوهمی مرحلی مومنټونه باید پدی B فکتور سره تعدیل شی تر څو افقی لوډ په C کی مساوی په 26.95 شی.

د دلتا Δ ارزښت به له پایلی مومنټونه داسی پیدا شی:

**د اولی او دوهمی پایلی ارزښتونه**

| Frame Status | | | $M_{AB}$ | $M_{BA}$ | $M_{BC}$ | $M_{CB}$ | $M_{CD}$ | $M_{DC}$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Final Moment With No sidesway | اوله مرحلی مؤمنتونه | | 0.00 | 217.76 | -217.86 | 38.83 | -38.49 | 0.00 |
| Final Moment With sidesway | دوهمه مرحلی مؤمنتونه | | 0.00 | -23.40 | 23.40 | 12.93 | -12.86 | 0.00 |
| Sidesway Factor =B | 11.18 | | | | | | | |
| Facor x Final M with sidesay | تعدیل شوی د دوهمی مرحلی مؤمنتونه (B x | | 0.00 | -261.67 | 261.67 | 144.59 | -143.81 | 0.00 |
| Final Moment for the frame =sum | مجموعه د مؤمنت | | 0.00 | -43.91 | 43.81 | 183.42 | -182.30 | 0.00 |

دا آخري مومنټونه د سلوپ دیفلکشن مثال له پایلی مومنټونو سره برابر دي.

## 7.24 پرکتس سوالونه

بیم ABC د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، مومنټ او شیر دایګرام سره د ایلستیک کړی کربنې سره جوړ کړی.

(1)




(2)




(3)

بیم ABCD د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، مومنټ او شیر دایګرام یی جوړ کړی.



(4)

بیم ABC د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، مومنټ او شیر دایګرام یې جوړ کړی.




(5)

بیم ABC د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، مومنټ او شیر دایګرام یې جوړ کړی.



(6)

بیم ABC د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، مومنټ او شیر دایګرام یی جوړ کړی.




(7)

بیم ABCD د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، مومنټ او شیر دایګرام یی جوړ کړی.



(8)

بیم ABCD د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، مومنټ او شیر دایگرام یی جوړ کړی.




(9)

فریم ABCDE د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.



(10)

فریم ABCD د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.




(11)

فریم ABCD د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.



(12)

فریم ABCDEF د مومنټ ډیسټریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.




(13)

فریم ABCD د مومنټ ډیسټریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.



(14)

بیم ABCD د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، مومنټ او شیر دایګرام یې جوړ کړی.




(15)

ددی لاندی انځور فریم د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.



(16)

ددی لاندی انځور فریم  د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.




(17)

ددی لاندی انځور فریم  د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.



(18)

ددی لاندی انځور فریم  د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.




(19)

ددی لاندی انځور فریم  د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.



(20)

ددی لاندی انځور فریم  د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.




(21)

بیم  ABCD  د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، مومنټ او شیر دایګرام یی جوړ کړی.



(22)

ددی لاندی انځور فریم  د مومنټ ډیستریبیوشن په طریقه تحلیل کړی، فریم خوځیدل لری.



# 8
# آتم فصل
# میټریکس د جوړښتونو د تحلیل لپاره
# (Matrix)

## 8.0 تعریف

میټریکس (Matrix) د ارقامو ، اعدادو او یا سمبولونو په یوه چوکات کی چی قطار او کالم (ستنیی) ولری ځای په ځای کول دی چی یوه سیستماتیکه عملیه او وسیله ده. د جوړښتونو په تحلیل کی په خاص ډول د هغو جوړښتونو د پاره چی ډیر نا معلوم ریکشنونه او نا معلومه داخلی لوډونه ولری ددی عملیی استعمال حتمی او ګټور دی. مونږ باید د میټریکس په ځانګړتیاوو او خاصیتونو او چی څنګه ورځینی ګټه اخیستل کیدای شي ځان وپوهوو.

که چیری له میټریکس نه د جوړښتونوپه تحلیل کی کار واخیستل شی اړونده ده چی د تحلیل پروسه د توازن (equilibrium)، اړیکیوتوافق (compatibility) ، لوډ اودقواو بیځایه کیدو (-force displacement) اړیکی او معادلات د میټریکس په چوکاټ کی وښودل شی اود میټریکس ځانګړی عملیات او تګلاره په نظر کی ونیول شي. د جوړښت تحلیل پروسه د میټریکس یو سلسله عملیات تر سره کوي چی له دي امله د میټریکس د ریاضی خواصو پیژند نه حتمی ده. دلته به د میټریکس او د میټریکس عملیاتو په باره کی مختصر او یو څه بنسټیز معلومات وړاندی شي.

## 8.1 د میټریکس ښودل

دا لاندی د میټریکس یو مثال دی چی دلته یو سلسله ارقام په یوه چوکاټ کی ځای په ځای شوي.

دا میټریکس دری قطارونه (rows) او دري کالمونه (columns) لري.



د میتریکس اندازه د هغي د قطارونو او کالمونو (یا ستنیو) په شمیر پیژندل کیږي او دا په نامه د میتریکس اندازه (order of the matrix) یادیږي.

## 8.2 د میتریکس نومول

میتریکس په قطار او کالم نومیدل کیږي. دا لاندی میتریکس A نومیږي: 2 x 3

د میتریکس کالمو شمیر

میتریکس د قطارو شمیر

$$A_{2x\,3} = \begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 5 & 4 & 3 \end{bmatrix}$$

### 8.2.1 د میتریکس د غړیوو نښه (Matrix Elements and Notation)

غټ توری د میتریکس د نامه لپاره، او واړه توري د میتریکس د داخلی عناصرو لپاره استعمالیږي.

$$A_{2x\,3} = \begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 6 & -4 & 3 \end{bmatrix}$$

عناصر عبارت دی له:

$a_{1,1} = 1$ $a_{2,1} = 6$

$a_{1,2} = 5$ $a_{2,2} = -4$

$a_{1,3} = 7$ $a_{2,3} = 3$

پورته میتریکس ته A ویل کیږی چی دوه په دری (2 x 3) ده. یعنی دوه قطاره او دری کالمونه لری.که چیري تعداد د قطارو او کالمو سره مساوی وی ، د مثال په توګه دوه په دوه یا دری په دری وی هغه میتریکس په نامه د مربع (square) میتریکس بلل کیږي.

## 8.3 د میتریکس ډولونه

### 8.3.1 کالم میتریکس یا ویکتور (Vector)

که چیری د میتریکس عناصر په یوه کالم کی ترتیب شوی وی هغه په نامه د ویکتور یا کالم میتریکس یادیږی. مثال یی پدی لاندی ډول دی:

$$A_{4x\,1} = \begin{bmatrix} 1 \\ 6 \\ 7 \\ 8 \end{bmatrix}$$

### 8.3.2 قطار میتریکس (Row Matrix)

ددی میتریکس ټول عناصر د میتریکس په یوه قطار کی ځای په ځای شوي.

$$A_{1\,x\,6} = \begin{bmatrix} 1 & 6 & 7 & 8 & 9 & 10 \end{bmatrix}$$

### 8.3.3 مربع میتریکس (Square Matrix)

که د میتریکس د قطارونو او کالمونو شمیر یو بل سره مساوی وي هغه په نامه د مربع (square) میتریکس یادیږي..

$$K_{3 \times 3} = \begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 6 & 4 & 8 \\ 9 & 10 & 11 \end{bmatrix}$$

### 8.3.4 متناظر میتریکس (symmetric Matrix)

کله چې د مربع میتریکس عناصر په یوه اړخ د دایګنل یا قطر ( diagonal ) کرښې د بل اړخ د دایګنل کرښې سره یو شان وي دا میتریکس متناظره میتریکس بلل کیږي.

دا لاندې یو متناظر میتریکس ده.

$$A_{4 \times 4} = \begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 & 8 \\ 5 & -4 & 10 & 9 \\ 7 & 10 & 15 & 20 \\ 8 & 9 & 20 & -9 \end{bmatrix}$$

د میتریکس دایګنل یا قطر

### 8.3.5 دایګنل یا قطری میتریکس (Diagonal Matrix)

کله چې د میتریکس ټول هغه عناصرچې په دایګنل یا قطر پراته ندی ارزښت یې صفر وی ، دا میتریکس په نامه د دایګنل یا قطری میتریکس یا د یږی.

$$A_{4 \times 4} = \begin{bmatrix} 1 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & -4 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 15 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & -9 \end{bmatrix}$$

د میتریکس دایګنل

## 8.3.6 د پورتني اړخ دایګنل میتریکس ( Upper Diagonal Matrix)

کله د مربع میتریکس ټول عناصر په کښتني اړخ د دایګنل یا قطر ( diagonal ) کرښي صفر وی دا میتریکس دایګنل پورتني اړخ میتریکس په نامه بلل کیږي.

دا لاندی یو دایګنل پورتنی اړخ میتریکس ده.

$$C_{4\times 4} = \begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 & 8 \\ 0 & -4 & 10 & 9 \\ 0 & 0 & 15 & 20 \\ 0 & 0 & 0 & -9 \end{bmatrix}$$

د میتریکس دایګنل

## 8.4 د میتریکس عملیات (Operation of Matrix)

### 8.4-1 د دوو میتریکسونو جمع کول: (Addition of Two matrices)

1+2 =3

$$\begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 5 & 4 & 3 \end{bmatrix} + \begin{bmatrix} 2 & 6 & 8 \\ 10 & 12 & 15 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 3 & 11 & 15 \\ 15 & 16 & 18 \end{bmatrix}$$

هغه دوه میتریکسونه چی یو بل سره جمع کیږی باید شمیر د قطارونو او کالمونو یی مساوی وي.

دلته اول میتریکس او دوهم میتریکس دوه قطاراو دری کالمونه لری. که چیری د کالمو او یا قطارو شمیر مساوی نه وی پدی حالت کی یو بل سر ه جمع کیدای نشي.

دوه مهم خاصیتونه د میتریکس د جمع, کیدو د میتریکس A او B دادی :

د میتریکس جمع کول کمیوتیتیو (commutative) دی $A + B = B + A$

د میترکس جمع کول اسوسشیتیو (associative) دی $(A + B) + C = A + (B + C)$

## 8.4-2 منفی عملیه د میټریکس

که چیری یو میټریکس په منفی علامه ضرب شی په دی لاندی ډول ښودل کیږي.

$$- \begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 5 & 4 & 3 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} -1 & -5 & -7 \\ -5 & -4 & -3 \end{bmatrix}$$

## 8.4-3 د تفریق عملیه د یو میټریکس له بل میټریکس سره

2-1 =1

$$\begin{bmatrix} 2 & 6 & 8 \\ 10 & 12 & 15 \end{bmatrix} - \begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 5 & 4 & 3 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 1 & 1 & 1 \\ 5 & 8 & 12 \end{bmatrix}$$

## 8.4-4 د یو میتریکس ضرب د یو ثابت عدد یا ثابت ارزښت ( scalar multiplication) سره




د ضرب پروسه پدی لاندی ډول ده

| | | |
|---|---|---|
| 5 x 2 =10 | 5 x 6 =30 | 5 x 8 =40 |
| 5 x 10 =50 | 5 x 12 =60 | 5 x 15 =75 |

## 8.4-5 د ضرب عملیه د یو میتریکس د بل میتریکس سره ( Multiplying a Matrix by Another Matrix)

د میتریکس د ضرب عملیي لپاره  دا لاندی دوه میتریکسونه وګوري:




د ضرب پروسه پدی لاندی ډول ده

$$1 \times 2 + 5 \times 10 + 7 \times 7 = 101$$

$$\begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 5 & 4 & 3 \end{bmatrix} \times \begin{bmatrix} 2 & 6 \\ 10 & 12 \\ 7 & 11 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 101 & 143 \\ 71 & 111 \end{bmatrix}$$

$$5 \times 2 + 4 \times 10 + 3 \times 7 = 71$$

$$1 \times 6 + 5 \times 12 + 7 \times 11 = 143$$

$$5 \times 6 + 4 \times 12 + 3 \times 11 = 111$$

په عامه توګه که چیری یو میتریکس ( j x k ) ضرب د یو بل میتریکس (k x p) کړو حاصل به یی ( j x p) میتریکس وي. د مثال په توګه دا لاندی میتریکس پروسه وګوري. میتریکس A چی 1 x 3 ده ضرب د میتریکس B چی 3 x 1 ده، حاصل به یی 1 x 1 میتریکس شي.

$$\underset{\substack{A \\ j \times k \\ 1 \times 3}}{\begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \end{bmatrix}} \times \underset{\substack{B \\ k \times p \\ 3 \times 1}}{\begin{bmatrix} 5 \\ 4 \\ 3 \end{bmatrix}} = \begin{bmatrix} 1 \times 5 + 5 \times 4 + 7 \times 3 \end{bmatrix} = \underset{\substack{j \times p \\ 1 \times 1}}{\begin{bmatrix} 46 \end{bmatrix}}$$

$$\underset{\substack{B \\ k \times p \\ 3 \times 1}}{\begin{bmatrix} 5 \\ 4 \\ 3 \end{bmatrix}} \times \underset{\substack{A \\ j \times k \\ 1 \times 3}}{\begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \end{bmatrix}} = \begin{bmatrix} 5 \times 1 & 5 \times 5 & 5 \times 7 \\ 4 \times 1 & 4 \times 5 & 4 \times 7 \\ 3 \times 1 & 3 \times 5 & 3 \times 7 \end{bmatrix} = \underset{\substack{C \\ k \times k \\ 3 \times 3}}{\begin{bmatrix} 5 & 25 & 35 \\ 4 & 20 & 28 \\ 3 & 15 & 21 \end{bmatrix}}$$

## 8.4-6 احد میتریکس (Unity Matrix)

دا ډول میتریکس ارزښت یو (1) په دایګینل یا قطر (diagonal) د میتریکس کی شتون لري. نور ټول عناصر صفر وی، ددی ډول میتریکس مثال لاندی ښودل شوی.

$$I_{3x3} = \begin{bmatrix} 1 & 0 & 0 \\ 0 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

وا حد (Identity) میتریکس د قطار او کالم تعداد مساوی دی، په بل عبارت دا مربع (square) میتریکس ده. ددی میتریکس په دایګنل یو (1) او نور ټول عناصر یی صفر (0) دی. دا میتریکس په (I) ښودل کیږي.

که چیری واحد میتریکس ضرب د یو بل میتریکس شی حاصل یی همهغه میتریکس وی:

$$Q \times I = Q$$
$$I \times Q = Q$$

## 8.4-7 د میتریکس د تقسیم عملیه (Dividing Matrix)

د میتریکس د تقسیم عملیه پدی ډول دي:

$$A/B = A \times (1/B) = A \times B^{-1}$$

دلته $B^{-1}$ په معنی د معکوس د میټریکس B ده. د تقسیم په ځای د معکوس میټریکس سره ضرب کیږي.

## 8.4-8 د میټریکس ترانزپوز (Transposing Matrix)

په ترانزپوز پروسه کی د میټریکس قطار او کالم ځایونه یو بل سره بدلوی.

$$Q = \begin{bmatrix} q_{1,1} & q_{1,2} \\ q_{2,1} & q_{2,2} \\ q_{3,1} & q_{3,2} \end{bmatrix} \qquad Q^T = \begin{bmatrix} q_{1,1} & q_{2,1} & q_{3,1} \\ q_{1,2} & q_{2,2} & q_{3,2} \end{bmatrix}$$

$$\begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 6 & -4 & 3 \end{bmatrix}^T = \begin{bmatrix} 1 & 6 \\ 5 & -4 \\ 7 & 3 \end{bmatrix}$$

## 8.5 د میټریکس ډیټرمینټ (Determinate of a Matrix)

$$T_{2 \times 2} = \begin{bmatrix} p & q \\ r & s \end{bmatrix}$$

$$|T| = (p) \times (s) - (q) \times (r)$$

د ډیټرمینت علامه یا نښانه دوه عمودی لیکی دي.

د مثال په توګه یو میټریکس A لرو غواړو چی ډیټرمینت یی پیدا کړو:

$$A_{2\times 2} = \begin{bmatrix} 1 & 5 \\ 6 & -4 \end{bmatrix}$$

$$|A| = (1) \times (-4) - (5) \times (6)$$

$$= -4 - 30$$

$$= -34$$

یو میټریکس B چی 3x3 ( دری قطار او دری کالم) ډیټرمینت یی پیدا کړو:

$$B_{3\times 3} = \begin{bmatrix} p & q & r \\ s & t & u \\ v & w & y \end{bmatrix}$$

$$|B| = p(ty - uw) - q(sy - uv) + r(sw - tv)$$

د بل مثال په توګه یو میټریکس K لرو غواړو چی ډیټرمینټ یی پیدا کړو:

$$K_{3 \times 3} = \begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 6 & 4 & 8 \\ 9 & 10 & 11 \end{bmatrix}$$

$$|K| = 1 \times (4x11-8x10) - 5 \times (6x11-8x9) + 7x(6x10-4x9)$$

$$= 1 \times (4x11-8x10) - 5 \times (6x11-8x9) + 7x(6x10-4x9)$$

$$= 1 \times (-36) - 5 \times (-6) + 7x(24)$$

$$= 162$$

یو میټریکس چې د اعضاوو یا قطاراو کالم شمار یې له دریو ډیر وی د ډیټرمینت پیدا کول یې لږ څه پیچلې پروسه لري. دا لاندی مثا ل وګوري.

یو مربع میټریکس A چې (k,k) اندازه لري، د دی میټریکس د هر جز کوفکتور( cofactor) یې $(C_{r,s})$ نوموو او عبارت دی:

$$C_{r,s} = \left[ (-1)^{(r+s)} |A_{r,s}| \right] \qquad (8-1)$$

دلته $(A_{r,s})$ هغه میټریکس ده کله چې قطار (r) او کالم (s) د میټریکس چې بعضی وختونه په نامه دی ماینر(minor) د (A) هم یاد شوی حذ ف شوی دی. هر جز یا غړی د میټریکس ځانته کوفکتور (cofactor) لري.

په دا لاندی مثال میټریکس K کې دا پروسه وګوري:

$$K_{3\times3} = \begin{bmatrix} 1 & 5 & 7 \\ 6 & 4 & 8 \\ 9 & 10 & 11 \end{bmatrix}$$

کوفکتورو میټریکس پدی لاندی ډول پیدا کوو:

$$C = \begin{bmatrix} \begin{vmatrix} 4 & 8 \\ 10 & 11 \end{vmatrix} & -\begin{vmatrix} 6 & 8 \\ 9 & 11 \end{vmatrix} & \begin{vmatrix} 6 & 4 \\ 9 & 10 \end{vmatrix} \\ -\begin{vmatrix} 5 & 7 \\ 10 & 11 \end{vmatrix} & \begin{vmatrix} 1 & 7 \\ 9 & 11 \end{vmatrix} & -\begin{vmatrix} 1 & 5 \\ 9 & 10 \end{vmatrix} \\ \begin{vmatrix} 5 & 7 \\ 4 & 8 \end{vmatrix} & -\begin{vmatrix} 1 & 7 \\ 6 & 8 \end{vmatrix} & \begin{vmatrix} 1 & 5 \\ 6 & 4 \end{vmatrix} \end{bmatrix}$$

کولای شو چی د کوفکتور میټریکس هر قطار یا کالم نه کار واخلو تر څو ډیټرمینټ د میټریکس C پیدا کړو.

په عامه توګه د کوفکتور اجزاوی په دی لاندی فورمول سره پیدا کیږي:

$$C_{i,j} = \left[(-1)^{(i+j)}|M_{i,j}|\right]$$

دلته $(M_{i,j})$ دیترمینت د سب میټریکس (sub-matrix or minor) دی کله چی قطار (i) او کالم (j) د میټریکس حذ ف شی.

$$C_{11}= (-1)^{1+1} \begin{vmatrix} 4 & 8 \\ 10 & 11 \end{vmatrix} = -36$$

$$C_{12}= (-1)^{1+2} \begin{vmatrix} 6 & 8 \\ 9 & 11 \end{vmatrix} = 6$$

$$C_{13}= (-1)^{1+3} \begin{vmatrix} 6 & 4 \\ 9 & 10 \end{vmatrix} = 24$$

$$C_{21}= (-1)^{2+1} \begin{vmatrix} 5 & 7 \\ 10 & 11 \end{vmatrix} = 15$$

$$C_{22}= (-1)^{2+2} \begin{vmatrix} 1 & 7 \\ 9 & 11 \end{vmatrix} = -52$$

$$C_{23}= (-1)^{2+3} \begin{vmatrix} 1 & 5 \\ 9 & 10 \end{vmatrix} = 35$$

$$C_{31}= (-1)^{3+1} \begin{vmatrix} 5 & 7 \\ 4 & 8 \end{vmatrix} = 12$$

$$C_{32}= (-1)^{3+2} \begin{vmatrix} 1 & 7 \\ 6 & 8 \end{vmatrix} = 34$$

$$C_{33}= (-1)^{3+3} \begin{vmatrix} 1 & 5 \\ 6 & 4 \end{vmatrix} = -26$$

دا پورتنی اجزاوی د کوفکتور میټریکس دی اود میټریکس په چوکات کی ځای په ځای کووتر څو کو فکتور C میټریکس ورځینی جوړ شي. جوړ شوی کوفکتور میټریکس عبارت ده له:

$$\text{Cofactor matrix} \quad C = \begin{bmatrix} -36 & 6 & 24 \\ 15 & -52 & 35 \\ 12 & 34 & -26 \end{bmatrix}$$

دیترمینت پیدا کول له کوفکتور میټریکس پدی ډول دی:

کله چی د کوفکتور میټریکس جوړه شو، له هر قطاز او یا کالم څخه یی د میټریکس دیترمینت جوړه ولو لپاره کار اخیستل کیدای شي.




د هر قطار i د استعمال لپاره:

کوفکتور $C_i$ جوړه ول په اول قطار او دوهم کالم داسی پیدا کیږي:

د هر کالم j د استعمال لپاره:

کوفکتور Fi جوړه ول په اول قطار او دوهم کالم داسی پیدا کیږي:

$$|K| = \sum_{j=1}^{n} b_{1j} C_{1j}$$

$$= (1) \text{ X } (-36) + (5) \text{ x}(6) + 7(24) = 162$$

$$|K| = \sum_{i=1}^{n} b_{i2} C_{i2}$$

$$= (5) \text{ X } (6) + (4) \text{ x}(-52) + 10(34) = 162$$

## 8.6 د میتریکس معکوسولو عملیه

د میتریکس A معکوس عبارت دی $A^{-1}$ . پوهیږو که چیری یو عدد ضرب د معکوس یی شی حاصل یی یو کیږي. میتریکس $A^{-1}$ کله چی ضرب د A شی حاصل یی باید واحد میتریکس وی. د معکوسیدو پروسه لږ څه پیچلی بنکاری اما د پرکتس سره پوهه وربادی ډیریږی. که چیری دا پروسه کمپیوتری پروګرام شی حل به یی آسانتیا راولي.

$$A^{-1} A = I \qquad (8.2)$$

ډيترمينت د **A** ميټريکس **| A |** دی. او کوفکتور د ميټريکس به ( C) ونوموو ، او اد جاينټ (adjoint) د ميټريکس **A** هم به adj(**A**) ونوموو او هغه داسی پيدا کيږي.

$$\mathbf{adj(A)} = [C_{ij}]^T = \left[(-1)^{(i+j)} |M_{i,j}|\right]^T \qquad (8.3)$$

دلته ($M_{i,j}$) هغه ميټريکس ده کله چی قطار (i) او کالم (j) د ميټريکس چی بعضی وختونه په نامه دی ماينر(minor) د (A) هم ياد شوی حذ ف شوی دی. معکوس د A عبارت دی:

$$A^{-1} = \frac{1}{|A|}\, adj(A) \qquad (8.4)$$

د معکوس پروسه د يو ميټريکس چی دوه په دوه وی او يا دری په دری وی لږ څه کم وخت نيسی اما که درجه يی ډيره وی هغه پيچلی کيږي اود کمپيوتری پروګرام څخه بايد کار واخيستل شي.

## 8.6.1 د ميټريکس معکوسولو مثال

$$A = \begin{bmatrix} 2 & 4 \\ 6 & 3 \end{bmatrix}$$

1 د ميټريکس ديترمينت پيدا کوو:

$$|A| = (2) \times (3) - (4) \times (6) = -18$$

2 د میټریکس کوفکتور (cofactor) اوبیا ټرانزپوز(transpose) یی کوو تر څو اد جاینټ (adjoint) پیدا شی:

3

د کوفکتور فورمول ( 8.3) څخه کار اخلو او اجزاوی د د کوفکتور میټریکس پیدا کوو:

$C_{11} = (-1)^{1+1} \, |3| = 3$

$C_{12} = (-1)^{1+2} \, |6| = -6$

$C_{21} = (-1)^{2+1} \, |4| = -4$

$C_{22} = (-1)^{2+2} \, |2| = 2$

حاصل شوي کوفکتور میټریکس عبارت ده:

$$C_{2 \times 2} = \begin{bmatrix} 3 & -6 \\ -4 & 2 \end{bmatrix}$$

دا میټریکس ټرانسپوز کوو ترڅو اډ جاینټ پیدا شي.

$$Adj(A) = C^T = \begin{bmatrix} 3 & -6 \\ -4 & 2 \end{bmatrix}^T = \begin{bmatrix} 3 & -4 \\ -6 & 2 \end{bmatrix}$$

$$A^{-1} = \frac{1}{|A|} adj(A) = \frac{1}{(-18)} \begin{bmatrix} 3 & -4 \\ -6 & 2 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} -3/18 & 4/18 \\ 6/18 & -2/18 \end{bmatrix}$$

## 8.6.2 د میټریکس معکوس پیدا کول د حذ فولو په طریقه

د معکوس میټریکس پیاد کولو لپاره به په ورکړل شوي میټریکس یو واحد میټریکس ور اضافه شي. او عملیه داسی تر سره کیږی چی واحد میټریکس چپ لورد ورکړل شوي میټریکس جوړ شي. ښی لور میټریکس به معکوس میټریکس شي. د مثال په توګه د لاندی میټریکس د معکوسولو پروسه وګوري.

غواړو ددی میټریکس معکوس پیدا کړو:

$$\begin{bmatrix} 2 & 4 \\ 6 & 3 \end{bmatrix}$$

اول کالم صفر کوو پرته له قطار اول او اول کالم نه. بیا اول قطار ضرب د دری (3) او د دوهم قطار څخه تفریق شي (R2 = R2-(3)R1).

$$\left[\begin{array}{cc|cc} 2 & 4 & 1 & 0 \\ 6 & 3 & 0 & 1 \end{array}\right]$$

$$\left[\begin{array}{cc|cc} 2 & 4 & 1 & 0 \\ 0 & -9 & -3 & 1 \end{array}\right]$$

اول قطار تقسیم په دوو (2) کیږي . ( R1 = R1/2 )

$$\left[\begin{array}{cc|cc} 1 & 2 & ½ & 0 \\ 0 & -9 & -3 & 1 \end{array}\right]$$

دوهم قطار تقسیم په (9-)  کړی. $(R_2 = R_2/(-9))$

$$\left[\begin{array}{cc|cc} 1 & 2 & ½ & 0 \\ 0 & 1 & 1/3 & -1/9 \end{array}\right]$$

دوهم قطار ضرب د دوو او تفریق کوو یی له اول قطاره $(R_1 = R_1-(2)R_2)$:

$$\left[\begin{array}{cccc} 1 & 0 & -1/6 & 2/9 \\ 0 & 1 & 1/3 & -1/9 \end{array}\right]$$

چپ لور د میټریکس واحد میټریکس شو، ښي لور معکوس میټریکس شوه :

$$\left[\begin{array}{cc} -1/6 & 2/9 \\ 1/3 & -1/9 \end{array}\right]$$

## 8.7 د خطی معادلو ښودنه د میټریکس په چوکات کی

که جیري دا لاندی خطی معادلی ولرو، دا معادلی د میټریکس  په چوکاټ کی ځای په ځای کوو:

$$5x - 2y = -14$$
$$7x + 3y = -37 \qquad (8\text{-}5)$$

د پورتنیو معادلو ثابت اعداد په چوکاټ د میټریکس راټولو اوهلته یی پدی لاندی ډول د میټریکس C په چوکات کی ځای په ځای کوو. او هم نا معلوم غړی د معادلو په لاندی کالم میټریکس یا ویکتور کی ځای په ځای شوي.

$$C = \begin{bmatrix} 5 & -2 \\ 7 & 3 \end{bmatrix} \times \begin{bmatrix} x \\ y \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} -14 \\ -37 \end{bmatrix}$$

د ثابتو ارقامو میټریکس چی په چپ لور د کالم میټریکس ده معکوس یي پیدا کوو

$$\begin{bmatrix} 5 & -2 \\ 7 & 3 \end{bmatrix}$$

د ثابت اعدادود میټریکس د پاره معکوس میټریکس جوړه وو. د معکوسولو لپاره د حذفولو له طریقي کار اخلو.

د حذفولو طریقي په اساس چپ لور د میټریکس واحد میټریکس جوړ یږی. د معکوس میټریکس جوړولو لپاره په ورکړل شوی میټریکس یو واحد میټریکس ور اضافه کیږی. او عملیه داسی تر سره کیږي. کله چی واحد میټریکس چپ لور ته جوړه شي. ښی لور میټریکس به معکوس میټریکس وي.

اول کلم صفر کو پرته له قطار اول اود کالم اول جز.

بیا اول قطار تقسیم په  پنځو (5) ( R1 = R1/5  ).

$$\left[\begin{array}{cc|cc} 1 & -2/5 & 1/5 & 0 \\ 7 & 3 & 0 & 1 \end{array}\right]$$

اول قطار ضرب د اوو  (7)  او له دوهم قطاره یی تفریق کوو $(R_2 = R_2 - (7)(R_1))$

$$\left[\begin{array}{cc|cc} 1 & -2/5 & 1/5 & 0 \\ 0 & 29/5 & -7/5 & 1 \end{array}\right]$$

دوهم قطار صفر کوو پرته له جز په دوهم قطار او دوهم کالم        $(R_2 = (5/29)(R_2))$

$$\left[\begin{array}{cc|cc} 1 & -2/5 & 1/5 & 0 \\ 0 & 1 & -7/29 & 5/29 \end{array}\right]$$

دوهم قطار ضرب د (2/5) او له اول قطار سره یی جمع کړي.        $(R_1 = R1 + (2/5)(R_2))$

$$\left[\begin{array}{cc|cc} 1 & 0 & 3/29 & 2/29 \\ 0 & 1 & -7/29 & 5/29 \end{array}\right]$$

لیدل کیږی چی چپ لور د میټریکس واحد میټریکس شوه، ښی لور معکوس میټریکس ده.

$$\begin{bmatrix} 3/29 & 2/29 \\ -7/29 & 5/29 \end{bmatrix}$$

## مثال 8.7.1

دا لاندی معادلی د سلوپ دیفلکشن د یو مثال (6.18 اوم مثال) د توازن معادلی دی غواړو چی د نا معلومو ارزښتونه د میټریکس په حلولو پیدا کړو.

د جوینټ B توازن: مجموعه د ټولو لوډونو باید صفر وی :

Joint B

$$1.06EI\ q_B + (0.40EI)\ q_C - 0.40\ EI\ y_1 = 576 \qquad (a)$$

Joint C

$$0.40EI\ q_B + 1.067EIq_C - 0.40EIy_1 = 616 \qquad (b)$$

$$0.40EI\ q_B + 0.133EI\ q_C - 1.6EIy_1 = 750 \qquad (c)$$

$$\frac{53}{50}x + \frac{2}{5}y - \frac{2}{5}z = 576$$

$$\frac{2}{5}x + \frac{1067}{1000}y - \frac{2}{5}z = 616$$

$$\frac{2}{5}x + \frac{133}{1000}y - \frac{8}{5}z = 750$$

د پورتني خطي معادلو ثابت اعدادد میتریکس په چوکات کی ځای په ځای کوو

$$\begin{bmatrix} \frac{53}{50} & \frac{2}{5} & -\frac{2}{5} \\ \frac{2}{5} & \frac{1067}{1000} & -\frac{2}{5} \\ \frac{2}{5} & \frac{133}{1000} & -\frac{8}{5} \end{bmatrix} \begin{bmatrix} X \\ Y \\ z \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 576 \\ 616 \\ 750 \end{bmatrix}$$

$$[B] \quad [Y] = [C]$$

$$BY = C$$

اوس د میټریکس  دا معادله حل کوو، او ددی لپاره دواړه  اړخونه ضرب د معکوس د B کوو:

$$B^{-1}\ BY = B^{-1}\ C$$

$$B^{-1}\ BY = \ B^{-1}\ CC$$

$(B^{-1}\ B = 1)$

$$Y = \ B^{-1}\ C$$

معکوس د B پیدا کوو او بیا د ضرب عملیه د C سره اجرا کوو

د معکوس میټریکس پیدا کولو لپاره به له حذفولو طریقی کارواخلو.  په دی طریقه کی دی راکړل شوی میټریکس ته واحد میټریکس اضافه کوو. او عملیه داسی تر سره کیږی چی واحد میټریکس چپ لور ته جوړ شي. بنی لور میټریکس به معکوس میټریکس شي.

$$\left[\begin{array}{ccc|ccc} \frac{53}{50} & \frac{2}{5} & -\frac{2}{5} & 1 & 0 & 0 \\ \frac{2}{5} & \frac{1067}{1000} & -\frac{2}{5} & 0 & 1 & 0 \\ \frac{2}{5} & \frac{133}{1000} & -\frac{8}{5} & 0 & 0 & 1 \end{array}\right]$$

اول کالم صفر تبدیل وو پرته له یوه جز چی د قطار اول او کالم اول دی.

بیا اول قطار تقسیم په $(50/53)$ ( $R1 = (50/53)R1$ ).

$$\begin{bmatrix} 1 & \frac{20}{53} & -\frac{20}{53} & \frac{50}{53} & 0 & 0 \\ \frac{2}{5} & \frac{1067}{1000} & -\frac{2}{5} & 0 & 1 & 0 \\ \frac{2}{5} & \frac{133}{1000} & -\frac{8}{5} & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

اول قطار ضرب د $(2/5)$ او له دوهم قطاره یی تفریق کوو $(R_2 = R_2-(2/5)(R_1))$

$$\begin{bmatrix} 1 & \frac{20}{53} & -\frac{20}{53} & \frac{50}{53} & 0 & 0 \\ 0 & \frac{48551}{53000} & -\frac{66}{265} & -\frac{20}{53} & 1 & 0 \\ \frac{2}{5} & \frac{133}{1000} & -\frac{8}{5} & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

اول قطار ضرب د $(2/5)$ او له د ریم قطاره یی تفریق کوو $(R_3 = R_3-(2/5)(R_1))$

$$\begin{bmatrix} 1 & \frac{20}{53} & -\frac{20}{53} & \frac{50}{53} & 0 & 0 \\ 0 & \frac{48551}{53000} & -\frac{66}{265} & -\frac{20}{53} & 1 & 0 \\ 0 & -\frac{951}{53000} & -\frac{384}{265} & -\frac{20}{53} & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

دوهم کالم په صفر تبدیل وو پرته له یوه جز چی په دوهم قطار او دوهم کالم کی دی .

بیا دوهم قطار ضرب د (53000 /48551) . ( $R_2$ = (53000/48551)$R_1$ ).

$$\begin{bmatrix} 1 & \frac{20}{53} & -\frac{20}{53} & \frac{50}{53} & 0 & 0 \\ 0 & 1 & -\frac{13200}{48551} & -\frac{20000}{48551} & \frac{53000}{48551} & 0 \\ 0 & -\frac{951}{53000} & -\frac{384}{265} & -\frac{20}{53} & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

دوهم قطار ضرب د (20/53) او له اول قطار یی تفریق کوو ($R_1$ =$R_1$-(20/53 )($R_1$))

$$\begin{bmatrix} 1 & 0 & -\frac{13340}{48551} & \frac{53350}{48551} & -\frac{20000}{48551} & 0 \\ 0 & 1 & -\frac{13200}{48551} & -\frac{20000}{48551} & \frac{53000}{48551} & 0 \\ 0 & -\frac{951}{53000} & -\frac{384}{265} & -\frac{20}{53} & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

دوهم قطار ضرب د (951/53000) او له دریم قطار سره جمع کوو ( $R_3 = R_3 + (951/53000)$ )

$$\begin{bmatrix} 1 & 0 & -\frac{13340}{48551} & \frac{53350}{48551} & -\frac{20000}{48551} & 0 \\ 0 & 1 & -\frac{13200}{48551} & -\frac{20000}{48551} & \frac{53000}{48551} & 0 \\ 0 & 0 & -\frac{70590}{48551} & -\frac{18680}{48551} & \frac{951}{48551} & 1 \end{bmatrix}$$

دریم کالم په صفر تبدیل وو پرته له یوه جز چې په دریم قطار او دریم کالم کې دی .

بیا دریم قطار ضرب د  (-48551 /70590) . ( $R_3 = (-48551/70590)R_3$ ).

$$\begin{bmatrix} 1 & 0 & -\frac{13340}{48551} & \frac{53350}{48551} & -\frac{20000}{48551} & 0 \\ 0 & 1 & -\frac{13200}{48551} & -\frac{20000}{48551} & \frac{53000}{48551} & 0 \\ 0 & 0 & 1 & \frac{1868}{7059} & -\frac{317}{23530} & -\frac{48551}{70590} \end{bmatrix}$$

دریم قطار ضرب د  (13340 /48551). او بیا له اول قطار سره جمع کوو.

$(R_1 = R_1 + (13340/48551)R_3)$

$$\begin{bmatrix} 1 & 0 & -\frac{13340}{48551} & \frac{8270}{7059} & -\frac{978}{2353} & -\frac{1334}{7059} \\ 0 & 1 & -\frac{13200}{48551} & -\frac{20000}{48551} & \frac{53000}{48551} & 0 \\ 0 & 0 & 1 & \frac{1868}{7059} & -\frac{317}{23530} & -\frac{48551}{70590} \end{bmatrix}$$

دریم قطار ضرب د  (13200 /48551). او بیا له دوهم قطار سره جمع کوو.

$(R_2 = R_2 + (13200/48551)R_3)$

$$\left[\begin{array}{ccc|ccc} 1 & 0 & 0 & \frac{8270}{7059} & -\frac{978}{2353} & -\frac{1334}{7059} \\ 0 & 1 & 0 & -\frac{800}{2353} & \frac{2560}{2353} & -\frac{440}{2353} \\ 0 & 0 & 1 & \frac{1868}{7059} & -\frac{317}{23530} & -\frac{48551}{70590} \end{array}\right]$$

لیدل کیږی چی چپ لور د ا صلی میتریکس په ځای واحد میتریکس شوه، ښی لور معکوس میتریکس ده

$$\begin{bmatrix} \frac{53}{50} & \frac{2}{5} & -\frac{2}{5} \\ \frac{2}{5} & \frac{1067}{1000} & -\frac{2}{5} \\ \frac{2}{5} & \frac{133}{1000} & -\frac{8}{5} \end{bmatrix}^{-1} = \begin{bmatrix} \frac{8270}{7059} & -\frac{978}{2353} & -\frac{1334}{7059} \\ -\frac{800}{2353} & \frac{2560}{2353} & -\frac{440}{2353} \\ \frac{1868}{7059} & -\frac{317}{23530} & -\frac{48551}{70590} \end{bmatrix}$$

$B^{-1}$

## 8.8 د ټرس تحلیل د میټریکس په طریقه

د میټریکس استعمال د ټرسونو په تحلیل کی یو مثال ګورو چې په ځلورم فصل کی بحث پری شو ی او دلته یی بیا ګورو.

پدی مثال کی په ټرس بهرنی لوډ عمل کړی او غواړو چې د جاینټ (E) بیځایه کیدل یی پیدا کړو. د ټرس د غړیو تعداد (m) دی.

د ټرس د غړیو داخلی قواوی د خارجی لوډ (P) له کبله (Fᵢ) په غړی (i) کی ونوموو. هغه داخلی قواوی د واحد لوډ له کبله (qᵢ) یاد کړو.

د تراس غړیو داخلی لوډونه د اصلی لوډ له کبله :

$$\delta_P = \sum_{i=1}^{n} F_{qi}\,(F_{pi}\,L_i)/(A_iE_i) \qquad (8.6)$$

د غړیو داخلی لوډونه د خیالی لوډ له کبله

دا پورتنی معادله پدی لاندی ډول هم لیکلی شو:

$$[\,\Delta\,] = [\,q\,]^T [\,k\,] [\,F\,] \qquad (8.7)$$

په پورتنی معادله کی q میټریکس باید ټرسفوز شی او بیا یی د k میټریکس سره ضرب او وروسته ضرب د F میټریکس شي چې حاصل به یی معادله (8.6) شي.

د پورتنی معادلی د ښی پوهی او تشریح لپاره بیځایکیدل د ټرس ددریو جاینټو پدی لاندی توګه ګورو:

$$\begin{bmatrix} \Delta_1 \\ \Delta_2 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} q_{11} & q_{12} \\ q_{21} & q_{22} \\ q_{31} & q_{32} \end{bmatrix}^T \begin{bmatrix} k_{11} & & \\ & k_{22} & \\ & & k_{23} \end{bmatrix} \begin{bmatrix} F_1 \\ F_2 \\ F_3 \end{bmatrix}$$

$$\begin{bmatrix} \Delta_1 \\ \Delta_2 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} q_{11} & q_{21} & q_{31} \\ q_{12} & q_{22} & q_{32} \end{bmatrix} \begin{bmatrix} k_{11} & & \\ & k_{22} & \\ & & k_{33} \end{bmatrix} \begin{bmatrix} F_1 \\ F_2 \\ F_3 \end{bmatrix}$$

$$\begin{bmatrix} \Delta_1 \\ \Delta_2 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} q_{11}k_{11} & q_{21}k_{22} & q_{31}k_{33} \\ q_{12}k_{11} & q_{22}k_{22} & q_{32}k_{33} \end{bmatrix} \begin{bmatrix} F_1 \\ F_2 \\ F_3 \end{bmatrix}$$

$$\begin{bmatrix} \Delta_1 \\ \Delta_2 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} q_{11}k_{11}F_1 & q_{21}k_{22}F_2 & q_{31}k_{33}F_3 \\ q_{12}k_{11}F_1 & q_{22}k_{22}F_2 & q_{32}k_{33}F_3 \end{bmatrix}$$

ددی لپاره چی د ټرس د تحلیل  د پاره د مټریکس له طریقی کار واخلو، اول د دا لاندی میټریکسونو پیژندنه دلته وړاندی کوو:

1. د ټرس د غړیو  داخلی لوډونه د بهرنی لوډونو له کبله پدی لاندی کالم میټریکس (Fi) کی ښودل کیږي:

$$\begin{bmatrix} F_i \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} F_1 \\ F_2 \\ F_3 \\ F_n \end{bmatrix} \qquad \text{(a)}$$

2. د ټرس د غړیو  داخلی لوډونه ($q_{ij}$)  د واحد لوډ (unit load)  له کبله پدی لاندی میتریکس ($q_{ij}$) کی ښودل شوي:

$$[q_{ij}] = \begin{bmatrix} q_{11} & q_{12} & q_{13} & \dots q_{1n} \\ q_{21} & q_{22} & q_{23}\dots\dots & q_{2n} \\ q_{31} & q_{23} & q_{33}\dots\dots & q_{3n} \\ \dots\dots & & & \\ q_{m1} & q_{m2} & q_{m3} & q_{mn} \end{bmatrix} \qquad (b)$$

دا میتریکس ($q_{ij}$) د هندسی میتریکس  په نامه یادیږي، ځکه ټول اجزاوي ددی میتریکس له هندسی معلوماتو جوړیږي.

3. د ټرس د m غړیو  فلکسیبلتی میتریکس (Flexibility Matrix)  $k_i$، دا یو قطری (Diagonal) میتریکس ده :

$$[k_i] = \begin{bmatrix} k_{11} & 0 & 0 \dots\dots\dots\dots & 0 \\ 0 & k_{22} & 0 \dots\dots\dots\dots & 0 \\ 0 & 0 & k_{23} \quad \dots\dots\dots & 0 \\ & & & \\ 0 & 0 & 0 & k_{m3} \end{bmatrix} \qquad (c)$$

## 8.8.1        اول مثال

د خلورم فصل د **ټرس** مثال (دوهم مثال 4.14.2 )  دلته د میتریکس په طریقه سره د  جاینټ  بيځايه کیدنه معلوموو.

د ټرس جوړښت 9 غړی او شپږ (6) نودونه لری او دوه بهرنی لودونونه په د ټرس په جوړښت عمل کړی.




**انځور 8.1 تراس جوړښت**

د ټرس جوړښت د تعادل او توازن په حالت کی دی، هر جاینټ او هره برخه باید په توازن او تعادل کی وی.

په څلورم فصل کی مو ولیدل چی په هغه جاینټ چی بیځایه کیدنه غوښتل شوی هلته یو واحد لوډ عمل کړی. د ټرس د غړیو داخلی لوډونه د بهرنی لوډ او واحد لوډ له کبله پیدا کوو. دا لوډونه به میټریکس کی ځای په ځای کوو.

د بهرنی لوډ میټریکس (F)، واحد لوډ میټریکس (q)، او هم فلکسټیبیلیټی (k) میټریکس باید جوړی کړو. په څلورم فصل کی مو د جاینټ له طریقی کار واخیست او د ټرس جوړښت داخلی لوډونه مو پیدا کړل. دا جوړښت 9 غړی لري د بهرنی او واحد لوډ میټریکس به (9x1) وی. د فلکسیبیلټی میټریکس به (9x9) وی. له دی میټریکسونو به پدی لاندی معادله کی کار واخلو.

$$[\Delta] = [q]^T [k] [F]$$

د میټریکسونو (q,k,F) اجزاوي په ځلورم فصل کی پیدا کړلي او دلته به يي د میټریکس په چوکات کي په لاندی جدول کی ځاي په ځاي کړو.

| جوینت | غړی | داخلی لوډ دبهرنی لوډ له کبله ($F_P$) | $A_i$ | $L_i$ | د غړی داخلی لوډ د واحد لوډ (q=1) له امله چه د بیځایکودو په ټکی عمل کړی |
|---|---|---|---|---|---|
| A | AB | -11.11 | ١ | 15 | 0 |
| | AE | 16.67 | ١ | 9 | 1 |
| B | BE | 20 | ١ | 12 | 0 |
| | BF | -13.89 | ١ | 15 | 0 |
| | BC | 1.67 | ١ | 9 | 0 |
| C | CF | 11.11 | ١ | 12 | 0 |
| | CD | -13.89 | ١ | 15 | 0 |
| D | DF | 8.33 | ١ | 9 | 1 |
| F | FE | 16.66 | ١ | 9 | 1 |
| | | | | | |
| مجموعه | Σ(FQ*FP*L)/AE | | | | |
| | | | | | |

ددی ترس د غړیو ماجولس د موادو يي ثابت E دی، او (1/AE) په معادلو کی وتلي ساتل شوي.

$$[q] = \begin{bmatrix} 0 \\ 1 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 1 \\ 1 \end{bmatrix} \qquad F_i = \begin{bmatrix} -11.11 \\ 16.67 \\ 20 \\ -13.89 \\ 1.67 \\ 11.11 \\ -13.89 \\ 8.33 \\ 16.66 \end{bmatrix}$$

$$[q]^T = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 1 & 1 \end{bmatrix}$$

$$K = \begin{bmatrix} 15 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 9 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 12 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 15 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 9 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 12 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 15 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 9 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 9 \end{bmatrix}$$

$$[q_i]^{\mathbf{T}} [K] = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 1 & 1 \end{bmatrix} \cdot \begin{bmatrix} 15 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 9 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 12 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 15 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 9 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 12 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 15 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 9 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 9 \end{bmatrix}$$

$$[q_i]^{\mathbf{T}} [K] = \begin{bmatrix} 0 & 9 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 9 & 9 \end{bmatrix}$$

دا حاصل شوی میتریکس د F میتریکس سره ضربه وو.

$$[q]^T[k][F] = \begin{bmatrix} 0 & 9 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 9 & 9 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} -11.11 \\ 16.67 \\ 20 \\ -13.89 \\ 1.67 \\ 11.11 \\ -13.89 \\ 8.33 \\ 16.66 \end{bmatrix}$$

$$= \Big[(0)\cdot\left(-\frac{1111}{100}\right) + (9)\cdot\left(\frac{1667}{100}\right) + (0)\cdot(20) + (0)\cdot\left(-\frac{1389}{100}\right) + (0)\cdot\left(\frac{167}{100}\right) + (0)\cdot\left(\frac{1111}{100}\right) + (0)\cdot\left(-\frac{1389}{100}\right) + (9)\cdot\left(\frac{833}{100}\right) + (9)\cdot\left(\frac{833}{50}\right)$$

$$= \Big[(0)\cdot\left(-\frac{1111}{100}\right) + (9)\cdot\left(\frac{1667}{100}\right) + (0)\cdot(20) + (0)\cdot\left(-\frac{1389}{100}\right) + (0)\cdot\left(\frac{167}{100}\right) + (0)\cdot\left(\frac{1111}{100}\right) + (0)\cdot\left(-\frac{1389}{100}\right) + (9)\cdot\left(\frac{833}{100}\right) + (9)\cdot\left(\frac{833}{50}\right)\Big]$$

$$= \left[\frac{18747}{50}\right] / (AE)$$

$$= \boxed{374.94/(AE)}$$

د میتریکس د طریقی ځواب او هغه چی په څلورم فصل کی د بیځایه کیدو د مثال وا یو ډول دی.

## 8.8.2 دوهم مثال

دترس د جاینټ دیفلکشن غواړو د میتریکس په طریقه یی پیدا کړو

په ټرس جوړښت (ABCDE) بهرنی لوډونه عمل کړی، غواړو د ټرس جوړښت جاینټ A بیځایه کیدل په X لور پیدا کړو.

دا مثال به د میټریکس په طریقه حل کړو. اول به د لاندی فورمول دری میټریکسونه جوړ کړو.

$$[\Delta] = [q]^T [k][F]$$




انځور 8.2 تراس جوړښت

| چوینت | غړی | داخلی لوړ دبهرنی لوړ له کبله $(F_P)$ | $A_i$ | $L_i$ | غړی لوړ د واحد لوړ$(F_Q)$ $e_i$ په نقطه د بیځایکودو |
|---|---|---|---|---|---|
| A | AB | -8 | 1 | 8 | 0.5 |
| | AE | 10 | 1 | 10 | 0.625 |
| B | BE | -9 | 1 | 6 | 0 |
| | BC | -8 | 1 | 8 | 0.5 |
| C | CE | 5 | 1 | 10 | 0.625 |
| | CD | -3 | 1 | 6 | 0.375 |
| D | DE | 4 | 1 | 8 | 1 |
| مجموعه | Σ(FQ*FP*L)/AE | | | | |

ددی ترس د غړیو ماجولس د موادو يي ثابت E دی، او هغه په معادلو کی وتلي ساتل شوي.

$$\left[\Delta\right] = \left[q\right]^T \left[k\right] \left[F\right]$$

$$\left[q_i\right] = \begin{bmatrix} 0.50 \\ 0.625 \\ 0 \\ 0.5 \\ 0.625 \\ 0.375 \\ 1 \end{bmatrix}$$

$$(q_i)^T = \begin{bmatrix} 0.5 & 0.63 & 0 & 0.5 & 0.6 & 0.4 & 1 \end{bmatrix}$$

$$k_{ij} = \begin{bmatrix} 8 & & & & & & \\ & 10 & & & & & \\ & & 6 & & & & \\ & & & 8 & & & \\ & & & & 10 & & \\ & & & & & 6 & \\ & & & & & & 8 \end{bmatrix}$$

$$F_i = \begin{bmatrix} -8 \\ 10 \\ -9 \\ -8 \\ 5 \\ -3 \\ 4 \end{bmatrix}$$

$$\begin{bmatrix} \frac{1}{2} & \frac{5}{8} & 0 & \frac{1}{2} & \frac{5}{8} & \frac{3}{8} & 1 \end{bmatrix} \cdot \begin{bmatrix} 8 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 10 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 6 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 8 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 10 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 6 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 8 \end{bmatrix}$$

]

$$= \left[ \left(\tfrac{1}{2}\right)\cdot(8) + \left(\tfrac{5}{8}\right)\cdot(0) + (0)\cdot(0) + \left(\tfrac{1}{2}\right)\cdot(0) + \left(\tfrac{5}{8}\right)\cdot(0) + \left(\tfrac{3}{8}\right)\cdot(0) + (1)\cdot(0) \quad \left(\tfrac{1}{2}\right)\cdot(0) + \right.$$

$$= \begin{bmatrix} 4 & \frac{25}{4} & 0 & 4 & \frac{25}{4} & \frac{9}{4} & 8 \end{bmatrix}$$

$$\begin{bmatrix} 4 & \frac{25}{4} & 0 & 4 & \frac{25}{4} & \frac{9}{4} & 8 \end{bmatrix} \cdot \begin{bmatrix} -8 \\ 10 \\ -9 \\ -8 \\ 5 \\ -3 \\ 4 \end{bmatrix}$$

$$= \left[ (4)\cdot(-8) + \left(\tfrac{25}{4}\right)\cdot(10) + (0)\cdot(-9) + (4)\cdot(-8) + \left(\tfrac{25}{4}\right)\cdot(5) + \left(\tfrac{9}{4}\right)\cdot(-3) + (8)\cdot(4) \right]$$

$$= [55] / AE$$

د میټریکس د طریقه ځواب او هغه چی په څلورم فصل کی د بیځایه کیدو مثال وا یو ډول دی.

## 8.9 دریم مثال د ټرس جوړښت تحلیل د میټریکس په طریقه

دلته غواړو چې د ټرس تحلیل لپاره د میټریکس یو عمومی معادله جوړه کړو. پدی لاندی ټرس جوړښت کی چې ستاتیکلی معلوم او دوی اتکا وی لری ، بهرنی لوډونه (P) په جاینټونو کی وربانډی پلي شوي. د ټرس د غړیو داخلی قواوی په (F) بنودل شوي.




انځور 8.3 د تراس جوړښت بهرنی لوډونه (P) د لوډونو تعداد = 9 $(P_i = 9)$ ریکشنونه هم ښودل شوی چی تعداد = 3 $(R_i = 3)$



انځور8.4 د ټرس جوړښت د غړیوداخلی لوډونه د بهرنی لوډونو له کبله $(F_i)$ د داخلی لودونو تعداد = 9 $(F_i = 9)$

## 8.9.1 د ټرس د جاینټونو ګرافیک ازاد دایګرام:




انځور8.5 د ټرس جوړښت د غړیوداخلی لوډونه او د بهرنی لوډونه په هر جاینټ کی ښودل شوي

## 8.9.2 دریم مثال (د مخکنی مثال په دوام)

د ټرس جوړښت په تعادل او توازن حالت کی دی، هر جاینټ او هره برخه یی باید په توازن او تعادل کی وی. ټول *جاینټونه* د بهرنی او داخلی لوډونوسره پدی لاندی ډول ښودل کیږی:

په هر جاینټ کی د توازن معادلی په افقی (X) او عمودی (Y) جهتونو پدی لاندی ډول لیکو:

$$\Sigma F_x = 0 \qquad (8.8)$$
$$\Sigma F_y = 0$$

دتوازن معادلو په ګڼه اخستلو سره کولای شو چی د هرنود بهرنی لوډ او د ټرس د غړیو اړیکی یو د بل سره پیدا او د میټریکس په معادلو یی بدلی کړو:

جوینت $U_1$ : $\Sigma F_x = 0$

$$F_2 + P_1 - (3/5)\, F_1 = 0$$

$$P_1 = 0.60\, F_1 - F_2$$
$$P_2 - F_7 - (4/5)\, F_1 = 0$$

$$P_2 = 0.80\, F_1 + F_7$$

دلته (P) بهرنی لوډ، (A) سټاټیک (statics) میټریکس ده چی اصلا د غړیو هندسی معلومات دی. او (F) د غړیو داخلی لوډونه دی. د تحلیل د آسانتیا لپاره د جاینټونو د توازن معادلی پدی لاندی جدول کی ښودل کیږي.

| Joint | $\Sigma F_x = 0$ | $\Sigma F_y = 0$ |
|---|---|---|
| $U_1$ | $P_1 = 0.60F_1 - F_2$ | $P_2 = 0.80F_1 + F_7$ |
| $U_2$ | $P_3 = F_2 - 0.60F_3 + 0.60F_8$ | $P_4 = -0.80F_3 - 0.80F_8 + F_9$ |
| $L_1$ | $P_9 = 0.60F_1 + F_4$ | $R_1 = 0.80F_1$ |
| $L_2$ | $P_5 = F_4 - F_5 - 0.6F_8$ | $P_6 = -F_7 + 0.8F_8$ |
| $L_3$ | $P_7 = F_5 - F_6$ | $P_8 = -F_9$ |
| $L_4$ | $R_3 = F_6 + 0.6F_3$ | $R_2 = -0.8F_3$ |
| | | |

په پورتنی جدول کی وینو چی بهرنی لوډونه او د ټرس داخلی لوډونه یو د بل سره د توازن معادلو پواسط تړلي دی، او د میټریکس په ټکیو یي پدی لاندی ډول لیکلی شو:

$$[P]_{j \times 1} = [A]_{j \times k} [F]_{k \times 1} \qquad (8.9)$$

دلته (j) د بهرنی لوډونو شمیر، او (k) د غړیو داخلی لوډونو شمیر دی. پدی معادله (8.9) کی A د سټاتیک میټریکس په نامه یادیږی. که چیری جوړښت سټاتیکلي معلوم وی (تعداد د نا معلومو قواوو مساوی په تعداد د بهرنی لوډونو وی) د (A) میټریکس به مربع میټریکس وی. او که ټرس جوړښت نامعلوم وی په هغه صورت کی به د (A) میټریکس مستطیل چوکاټ ولری.

له معادلو کولای شو چی د غړیو داخلی قواوی یا داخلی لوډونه داسی پیدا کړو:

$$[F]_{k \times 1} = [A^{-1}]_{j \times k} \times [P]_{j \times 1} \qquad (8.10)$$

د تراس جولښت د غړیو داخلي لوډونه F د بهرني لوډ P له امله چې دا لاندې د میترکس عضو ورځيني جوړيږي

بهرنی لوډ P چې په نوډونو کې عمل کړی

| | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 0.6 | -1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | 0.8 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 |
| 3 | 0 | 1 | -0.6 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0.6 | 0 |
| 4 | 0 | 0 | 0.8 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0.8 | 1 |
| 5 | 0 | 0 | 0 | 1 | -1 | 0 | 0 | -0.6 | 0 |
| 6 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | -1 | -0.8 | 0 |
| 7 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | -1 | 0 | 0 | 0 |
| 8 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | -1 |
| 9 | 0.6 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |

لدی پورتني جدول نه دا لاندی د A ستاتيک میتریکس جوړوو او بیا ددی ستاتيک میتریکس معکوس پیدا کوو:

A =

| | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 3/5 | -1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | 4/5 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 |
| 3 | 0 | 1 | - 3/5 | 0 | 0 | 0 | 0 | 3/5 | 0 |
| 4 | 0 | 0 | 4/5 | 0 | 0 | 0 | 0 | 4/5 | 1 |
| 5 | 0 | 0 | 0 | 1 | -1 | 0 | 0 | - 3/5 | 0 |
| 6 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | -1 | - 4/5 | 0 |
| 7 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | -1 | 0 | 0 | 0 |
| 8 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | -1 |
| 9 | 3/5 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |

معکوس میټریکس $A^{-1}$ عبارت ده له:

$$A^{-1} = \begin{bmatrix} \frac{5}{9} & \frac{5}{6} & \frac{5}{9} & \frac{5}{12} & 0 & \frac{5}{6} & 0 & \frac{5}{12} & 0 \\ \frac{-2}{3} & \frac{1}{2} & \frac{1}{3} & \frac{1}{4} & 0 & \frac{1}{2} & 0 & \frac{1}{4} & 0 \\ \frac{-5}{9} & \frac{5}{12} & \frac{-5}{9} & \frac{5}{6} & 0 & \frac{5}{12} & 0 & \frac{5}{6} & 0 \\ \frac{-1}{3} & \frac{-1}{2} & \frac{-1}{3} & \frac{-1}{4} & 0 & \frac{-1}{2} & 0 & \frac{-1}{4} & 1 \\ \frac{-2}{3} & \frac{-1}{4} & \frac{-2}{3} & \frac{-1}{2} & -1 & \frac{-1}{4} & 0 & \frac{-1}{2} & 1 \\ \frac{-2}{3} & \frac{-1}{4} & \frac{-2}{3} & \frac{-1}{2} & -1 & \frac{-1}{4} & -1 & \frac{-1}{2} & 1 \\ \frac{-4}{9} & \frac{1}{3} & \frac{-4}{9} & \frac{-1}{3} & 0 & \frac{-2}{3} & 0 & \frac{-1}{3} & 0 \\ \frac{5}{9} & \frac{-5}{12} & \frac{5}{9} & \frac{5}{12} & 0 & \frac{-5}{12} & 0 & \frac{5}{12} & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & -1 & 0 \end{bmatrix}$$

د بهرنی لوډونو ویکټور یا میټریکس P عبارت ده له:

$$P = \begin{bmatrix} -10 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ -20 \\ 0 \end{bmatrix}$$

د ستاتیک میټریکس معکوس او د لوډ میټریکس مو جوړ کړل. اوس به دا دواړه سره ضرب کړو تر څو د ټرس د غړیو داخلی قواوی پیدا کړو، او له فورمول 8.10 به ګټه واخلو:

$$[F]_{k \times 1} = [A^{-1}]_{j \times k} \times [P]_{j \times 1} \qquad (8.10)$$

$$[F]_{9 \times 1} = [A^{-1}]_{9 \times 9} [P]_{9 \times 1} = \begin{bmatrix} \frac{5}{9} & \frac{5}{6} & \frac{5}{9} & \frac{5}{12} & 0 & \frac{5}{6} & 0 & \frac{5}{12} & 0 \\ \frac{-2}{3} & \frac{1}{2} & \frac{1}{3} & \frac{1}{4} & 0 & \frac{1}{2} & 0 & \frac{1}{4} & 0 \\ \frac{-5}{9} & \frac{5}{12} & \frac{-5}{9} & \frac{5}{6} & 0 & \frac{5}{12} & 0 & \frac{5}{6} & 0 \\ \frac{-1}{3} & \frac{-1}{2} & \frac{-1}{3} & \frac{-1}{4} & 0 & \frac{-1}{2} & 0 & \frac{-1}{4} & 1 \\ \frac{-2}{3} & \frac{-1}{4} & \frac{-2}{3} & \frac{-1}{2} & -1 & \frac{-1}{4} & 0 & \frac{-1}{2} & 1 \\ \frac{-2}{3} & \frac{-1}{4} & \frac{-2}{3} & \frac{-1}{2} & -1 & \frac{-1}{4} & -1 & \frac{-1}{2} & 1 \\ \frac{-4}{9} & \frac{1}{3} & \frac{-4}{9} & \frac{-1}{3} & 0 & \frac{-2}{3} & 0 & \frac{-1}{3} & 0 \\ \frac{5}{9} & \frac{-5}{12} & \frac{5}{9} & \frac{5}{12} & 0 & \frac{-5}{12} & 0 & \frac{5}{12} & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & -1 & 0 \end{bmatrix}_{9 \times 9} \times \begin{bmatrix} -10 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ -20 \\ 0 \end{bmatrix}_{9 \times 1}$$

کله چې دا دوه میټریکس یود بل سره ضرب شی پایلی یی د ټرس د غړیو داخلی قواوی پدی لاندی ډول حاصلیږی:

$$[F]_{9\times1} = \begin{bmatrix} \frac{-125}{9} \\ \frac{5}{3} \\ \frac{-100}{9} \\ \frac{25}{3} \\ \frac{50}{3} \\ \frac{50}{3} \\ \frac{100}{9} \\ \frac{-125}{9} \\ 20 \end{bmatrix}_{9\times1}$$

| | |
|---|---|
| $F_{CD}$ | -13.89 |
| $F_{BC}$ | 1.67 |
| $F_{BA}$ | 11.11 |
| $F_{DF}$ | 8.33 |
| $F_{FE}$ | 16.67 |
| $F_{AE}$ | 16.67 |
| $F_{FC}$ | 11.11 |
| $F_{BF}$ | -13.89 |
| $F_{BE}$ | 20.00 |

دا ځوابونه او د دريم فصل د مثال جوابونه چی د جاینټ په طريقه پيدا شوی وو يو شان دي.

## 8.10 څلورم مثال

دا لاندی ترس د جاینټ په طريقه چی له ميتريکس کار اخيستل کيږی تحليل کووو غواړو د ترس د غړيو داخلی قواوی او د ريکشنو ارزښت پيدا کړو:




انځور8.6 څلورم مثال

په هر جاينټ کی به د توازن له معادلو کار واخلو او د A میتریکس به جوړ کړو.




انځور 8.7 په جوينتونو کي داخلي او بهرني لودونه

د A میټریکس د اجزاوو ارزښتونه له توازن معادلو په هر جاینټ کی پدی لاندی ډول پیدا کوو:

A

$\Sigma F_x = 0$

$P_1 = F_1$

$\Sigma F_Y = 0$

$P_2 = F_2$

B

$\Sigma F_x = 0$

$P_4 = -F_1 - 0.707F_3$

$\Sigma F_Y = 0$

$P_3 = F_4 + 0.707F_3$

C

$\Sigma F_x = 0$

$P_5 = -F_5$

$\Sigma F_Y = 0$

$R_{CY} = -F_4$

D

$\Sigma F_x = 0$

$R_{DX} = F_5 + 0.707F_3$

$\Sigma F_Y = 0$

$R_{DY} = -F_2 - 0.707F_3$

د ارزښتونه پدی لاندی جدول کی ځای په ځای کوو او بیا د A میټریکس ورځینی جوړه وو:

| | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | $R_{cy}$ | $R_{Dx}$ | $R_{DY}$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | | 0 | 0 |
| 3 | 0 | 0 | 0.707 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 4 | -1 | 0 | -0.707 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 5 | 0 | 0 | 0 | 0 | -1 | 0 | 0 | 0 |
| $R_{CY}$ | 0 | 0 | 0 | -1 | 0 | 1 | 0 | 0 |
| $R_{DX}$ | 0 | 0 | 0.707 | 0 | 1 | 0 | 1 | 0 |
| $R_{DY}$ | 0 | -1 | -0.707 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 |

له دی پورتنی جدول د A میټریکس جوړه وو او بیا د A میټریکس معکوس پیدا کوو.

[A]=

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0.707 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| -1 | 0 | -0.707 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | -1 | 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 | -1 | 0 | 1 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0.707 | 0 | 1 | 0 | 1 | 0 |
| 0 | -1 | -0.707 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 |

د A میټریکس معکوس $A^{-1}$ عبارت دی له:

$$[A^{-1}] = \begin{bmatrix} 1 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 1 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ \frac{-1000}{707} & 0 & 0 & \frac{-1000}{707} & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 1 & 1 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & -1 & 0 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 1 & 1 & 0 & 1 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 0 & 1 & 1 & 0 & 1 & 0 \\ -1 & 1 & 0 & -1 & 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

د بهرنی لود P میټریکس عبارت دی له:

$$[P] = \begin{bmatrix} -10 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \end{bmatrix}$$

اوس د میټریکس A معکوس $A^{-1}$ او بهرنی لوډ میټریکس یو بل سره ضرب کوو تر څو د غړیو داخلی قواوی او د اتکاوو ریکشنونه حاصل شي.

$$\begin{bmatrix} 1 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 1 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ \frac{-1000}{707} & 0 & 0 & \frac{-1000}{707} & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 1 & 1 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & -1 & 0 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 1 & 1 & 0 & 1 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 0 & 1 & 1 & 0 & 1 & 0 \\ -1 & 1 & 0 & -1 & 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix} \text{ X } \begin{bmatrix} -10 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} -10 \\ 0 \\ \frac{10000}{707} \\ -10 \\ 0 \\ -10 \\ -10 \\ 10 \end{bmatrix}$$

د ټرس داخلی غړیو قواوی او د اتکاوو ریکشنونه عبارت دی له:

| | |
|---|---|
| $F_1$ = | -10 |
| $F_2$ = | 0 |
| $F_3$ = | 14.14 |
| $F_4$ = | -10 |
| $F_5$ = | 0 |
| $R_{CY}$ = | -10 |
| $R_{DX}$ = | -10 |
| $R_{DY}$ = | 10 |

## 8.11 پنځم مثال

دا لاندی ټرس چی په څلورم فصل کی موهم ولید غواړه د جاینټ په طریقه چی له میټریکس کار اخیستل کیږی تحلیل کړو او د ټرس د غړیو داخلی قواوی او د ریکشنو ارزښت پیدا کړو:




انځور 8.8 پنځم مثال ټرس

د A میټریکس د اجزاوو ارزښتونه له توازن معادلو په هر جاینټ کی پیدا کوو او دا ارزښتونه پدی لاندی جدول کی ځای په ځای کوو ترڅو د A میټریکس ورځینی جوړه شی:

او بیا یي معکوس پیدا کوو:

| | 1 | 2 | 3 | Ax | Ay | Cy |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 0 | -0.8 | -1 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | 0 | 0.8 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 3 | 1 | 0.6 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| Ax | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 |
| Ay | -1 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 |
| Cy | 0 | -0.6 | 0 | 0 | 0 | 1 |

له دی پورتنی جدول د A میتریکس جوړه وو او بیا د A میتریکس معکوس پیدا کوو.

$$[A]=\begin{bmatrix} 0 & -0.8 & -1 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0.8 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 1 & 0.6 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 1 & 1 & 0 & 0 \\ -1 & 0 & 0 & 0 & 1 & 0 \\ 0 & -0.6 & 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

د A میتریکس معکوس $A^{-1}$ عبارت دی له:

$$[A^{-1}]=\begin{bmatrix} 0 & \frac{-3}{4} & 1 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & \frac{5}{4} & 0 & 0 & 0 & 0 \\ -1 & -1 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 1 & 1 & 0 & 1 & 0 & 0 \\ 0 & \frac{-3}{4} & 1 & 0 & 1 & 0 \\ 0 & \frac{3}{4} & 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

بهرنی لوډونه عبارت دی له:

$$P = \begin{bmatrix} -1 \\ -2 \\ -3 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \end{bmatrix}$$

د میټریکس A معکوس $A^{-1}$ او بهرنی لوډ میټریکس یو د بل سره ضربه وو تر څو د غړیو داخلی قواوی او د اتکاءووریکشنونه حاصل شي.

$$\begin{bmatrix} 0 & \frac{-3}{4} & 1 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & \frac{5}{4} & 0 & 0 & 0 & 0 \\ -1 & -1 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 1 & 1 & 0 & 1 & 0 & 0 \\ 0 & \frac{-3}{4} & 1 & 0 & 1 & 0 \\ 0 & \frac{3}{4} & 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix} \times \begin{bmatrix} -1 \\ -2 \\ -3 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} \frac{-3}{2} \\ \frac{-5}{2} \\ 3 \\ -3 \\ \frac{-3}{2} \\ \frac{-3}{2} \end{bmatrix}$$

| | |
|---|---|
| $F_1$ | -1.5 |
| $F_2$ | -2.5 |
| $F_3$ | 3 |

وینو چی د میټریکس طریقه ځواب او د څلورم  فصل  ځواب یو شان دی.

که چیری تنها د داخلی غړیو پیداکولو لپاره د میټریکس پروسه  وړاندی کړو هغه به داسی وی:

د A میټریکس به داسی وی:

$$A = \begin{bmatrix} 0 & -\frac{4}{5} & -1 \\ 0 & \frac{4}{5} & 0 \\ 1 & \frac{3}{5} & 0 \end{bmatrix}$$

د A میټریکس معکوس جوړول پدی لاندي ډول دی:

د میټریکس A  ښی لور ته واحد میټریکس اضافه کوو.

$$\left[\begin{array}{ccc|ccc} 0 & -\frac{4}{5} & -1 & 1 & 0 & 0 \\ 0 & \frac{4}{5} & 0 & 0 & 1 & 0 \\ 1 & \frac{3}{5} & 0 & 0 & 0 & 1 \end{array}\right]$$

د چپ لور میټریکس  اول کالم او دریم قطار دریم عضو او اول سره بدلوو:

$$\left[\begin{array}{ccc|ccc} 1 & \frac{3}{5} & 0 & 0 & 0 & 1 \\ 0 & \frac{4}{5} & 0 & 0 & 1 & 0 \\ 0 & -\frac{4}{5} & -1 & 1 & 0 & 0 \end{array}\right]$$

دوهم قطار په په دریم قطار اضافه کوو: ($R_3 = R_3 + R_2$)

$$\left[\begin{array}{ccc|ccc} 1 & \frac{3}{5} & 0 & 0 & 0 & 1 \\ 0 & \frac{4}{5} & 0 & 0 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & -1 & 1 & 1 & 0 \end{array}\right]$$

دریم  قطار ضرب د (-1) کوو : ($R_3 = -1 \times R_3$)

$$\left[\begin{array}{ccc|ccc} 1 & 0 & 0 & 0 & -\frac{3}{4} & 1 \\ 0 & 1 & 0 & 0 & \frac{5}{4} & 0 \\ 0 & 0 & 1 & -1 & -1 & 0 \end{array}\right]$$

څرنګه چی لیدل کیږی چپ لور میټریکس واحد میټریکس شوه پدی معنی چی ښی لور میټریکس به معکوس میټریکس وی.

میټریکس دی.

$$A^{-1} = \begin{bmatrix} 0 & -\frac{3}{4} & 1 \\ 0 & \frac{5}{4} & 0 \\ -1 & -1 & 0 \end{bmatrix} \quad = \begin{bmatrix} 0 & -0.75 & 1 \\ 0 & 1.25 & 0 \\ -1 & -1 & 0 \end{bmatrix}$$

اوس معکوس میټریکس او د بهرنی لوډ میټریکس یو د بل سره ضربه وو او حاصل به یی د غړیو داخلی لوډ شي.

$$\begin{bmatrix} 0 & \frac{-3}{4} & 1 \\ 0 & \frac{5}{4} & 0 \\ -1 & -1 & 0 \end{bmatrix} \times \begin{bmatrix} -1 \\ -2 \\ -3 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} \frac{-3}{2} \\ \frac{-5}{2} \\ 3 \end{bmatrix}$$

| | |
|---|---|
| $F_1$ | -1.5 |
| $F_2$ | -2.5 |
| $F_3$ | 3 |

دلته وینو چی د میټریکس طریقی ځواب او د څلورم فصل ځواب یو شان دی.

## 8.12 د میټریکس د بیځایه کیدو طریقه: Matrix Displacement Method

### 8.12.1 د سټاټیک میټریکس جوړه ول

د سټاټیک میټریکس جوړه ول د سټاټیکی پیژندل شویو او نا پیژندل شویو جوړښتونو د پاره یو شان پروسه لري. د پیژندلشویو جوړښتونو سټاټیک میټریکس (A) مربع چوکاټ اما د نا پیژندلشویو جوړښتونو سټاټیک میټریکس مستطیل چوکاټ لري. دا دواړه ډوله میټریکسونه بنسټ د جوړښت په هندسه یا جیومیټری پوری اړه لری. دا لاندی مثال د سټاټیک میټریکس جوړه ولو لپاره ګورو:

## 8.13 بنېږم مثال







**انځور 8.9 شپږم مثال**

پدی پورتنی شکل کی د ټرس جوړښت دری غړی لری او د هندسی معالوماتو له مخی چی پدي شکل کي ښودل شوی کولاي شو چی د A میتریکس د توازن د معادلوله مخی په هر جاینت کی جوړه کړو.

B

$$\Sigma F_x = 0$$

$$P_1 + F_1 \cos \theta_1 = 0$$

$$P_1 = - F_1 \cos \theta_1$$

$$\Sigma F_y = 0$$

$$P_2 - F_2 - F_1 \sin \theta_1 = 0$$

$$P_2 = F_2 + F_1 \sin \theta_1$$

A

$$\Sigma F_x = 0$$

$$P_3 - F_1 \cos \theta_1 + F_3 = 0$$

$$P_3 = F_1 \cos \theta_1 - F_3$$

| | 1 | 2 | 3 |
|---|---|---|---|
| 1 | $-\cos \theta_1$ | 0 | 0 |
| 2 | $\sin\theta_1$ | 1 | 0 |
| 3 | $\cos\theta_1$ | 0 | -1 |




انخور8.10 شيرم مثال دترس غمري

$$e_1 = \; x_1 \cos \theta_1 - x_2 \sin \theta_1 + x_3 \cos \theta_1$$

$$e_2 = -x_2$$

$$e_3 = -x_3$$

| | | | x | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | e | 1 | 2 | 3 |
| $[B]$ | = | 1 | $\cos \theta_1$ | $\sin \theta_1$ | $\cos \theta_1$ |
| | | 2 | 0 | -1 | 0 |
| | | 3 | $\cos\theta_1$ | 0 | -1 |

## 8.14 د غړيو د سختوالی میتریکس (Member Stiffness Matrix)

د هوکس لا (Hook's Law ) د موادو د اړیکو قانون په اساس لیکلی شو

$$\sigma = \varepsilon E \qquad (8.11)$$

پدی پورتنی معادله کی (E) د جوړښت دموادو ارتجاعیت او (e) سترین (strain) یا نسبی بدلون د اوږدوالي دی. موږ دا هم لیکلی شو چی د جوړښت فشار (stress) او مساحت یو بل سره دا لاندی تړون لري:

$$\sigma = \frac{F}{A} \qquad (8.12)$$

په همدی ډول سترین او اوږدوالي د یوبل سره دا لاندی تړون لري:

$$\varepsilon = \frac{\Delta}{L} = \frac{e}{L} \qquad (8.13)$$

پدی پورتنی معادله (8.13) کی د اوږدوالی بدلون دیلتا (Δ) په شکل کی په (e) بنودل شوی. کله چی دا دواړی معادلی سره یو ځای کړو لیکلی شو:

$$\frac{e\,E}{L} = \frac{F}{A} \qquad (8.14)$$

له دی معادلی (8.14 ) د جوړښت دغړی قوه  عبارت ده :

$$F = \frac{A\ E}{L} e \qquad (8.15)$$

پدی معادله (8.15) کی $\frac{A\ E}{L}$ د جوړښت دغړی سختوالی یا ستیفنیس (S) یادیږي  او دا معادله پدی لاندی ډول لیکلي شو:

$$[F] = [S][e] \qquad (8.16)$$

دلته سختوالی یا ستیفنیس (S) هغه قوه ده چی د جوړښت غړی ته یو واحد اوږدوالی ورکړي.

$[S]_{3x3}$ =

| | د جولښت غړی | | |
|---|---|---|---|
| $e_i$ | 1 | 2 | 3 |
| 1 | $EA_1/L_1$ | 0 | 0 |
| 2 | 0 | $EA_2/L_2$ | 0 |
| 3 | 0 | 0 | $EA_3/L_3$ |

## 8.15 د جوړښت عمومی سختوالی میټریکس (General Stiffness Matrix)

که چیری وغواړو د جوړښت بهرنی لوډونه او د  جاینتونو د بی ځایه کیدلو اړیکی د میټریکس په چوکاټ کی جوړ کړو، دا اړیکي د عمومی سختوالی میټریکس په واسط ترتیب کیږی. او دا اړیکی عبارت دی له:

$$[P] = [K][X] \qquad (8.17)$$

اوس هغه ټولی معادلی چی مو پیدا کړیی  پدی لاندی توګه  لیکلی شو:

$$[P] = [A][F] \quad (8.18)$$

$$[F] = [S][e] \quad (8.19)$$

$$[e] = [B][X] \quad (8.20)$$

ارزښتونه ددی پورتنیو معادلو د اړیکو په ترتیب یو بل سره ځای په ځای کوو

$$[F] = [S\ B]\ [X] \quad (8.21)$$

$$[B] = [A^T] \quad (8.22)$$

$$[F] = [S\,A^T]\ [X] \quad (8.23)$$

$$[P] = [A]\,[F] = [ASA^T]\ [X] \quad (8.24)$$

پدی پورتنی معادله (8.24) کی د عمومی سختوالی میتریکس (K) عبارت ده:

$$[K] = [ASA^T] \quad (8.25)$$

دا ګلوبل میټریکس متناظر (symmetrical) او ترانسپوز یی یو شان په اصلی میټریکس دی.

## 8.16 اوم مثال

ددی ټرس لپاره غواړه ګلوبل میټریکس جوړ کړو.




انځور 8.11 اوم مثال

د ټرس د هر غړی  مساحت (area) عبارت ده:

$A_1 = A_5 = 2\ cm^2$

$A_2 = A_4 = 3\ cm^2$

$A_3 = 4\ cm^2$

د ټرس د غړیو  متریکسونه پدی لاندی ډول جوړه وو:

$$[A]_{5x5} = \begin{bmatrix} 1 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 1 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0.707 & 1 & 0 \\ -1 & 0 & -0.707 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & -1 \end{bmatrix}$$

$$[B]_{5x5} = [A]^T_{5x5} = \begin{bmatrix} 1 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 1 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0.707 & 1 & 0 \\ -1 & 0 & -0.707 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & -1 \end{bmatrix}^T = \begin{bmatrix} 1 & 0 & 0 & -1 & 0 \\ 0 & 1 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & \frac{707}{1000} & \frac{-707}{1000} & 0 \\ 0 & 0 & 1 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & -1 \end{bmatrix}$$

$$[S]_{5x5} = \begin{bmatrix} \frac{EA_1}{L_1} & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & \frac{EA_2}{L_2} & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & \frac{EA_3}{L_3} & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & \frac{EA_4}{L_4} & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & \frac{EA_5}{L_5} \end{bmatrix}$$

په پورتنی میټریکس کی د ټرس د غړیو ارزښتونه ځای په ځای کوو، د هر غړی سره د ارتجاعیت ماجولس (E) له میټریکس بیرون ښودلی شوی.

$$[S] = (EA_i/L_i) = (E) \times \begin{bmatrix} 0.500 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0.750 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 1.413 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0.750 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0.500 \end{bmatrix}$$

$$[A][S] = \begin{pmatrix} 1 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 1 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & \frac{707}{1000} & 1 & 0 \\ -1 & 0 & -\left(\frac{707}{1000}\right) & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & -1 \end{pmatrix} \times \begin{pmatrix} \frac{1}{2} & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & \frac{3}{4} & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & \frac{1413}{1000} & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & \frac{3}{4} & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & \frac{1}{2} \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} \frac{1}{2} & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & \frac{3}{4} & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & \frac{998991}{1000000} & \frac{3}{4} & 0 \\ \frac{-1}{2} & 0 & \frac{-998991}{1000000} & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & \frac{-1}{2} \end{pmatrix}$$

$$[A][S][A^T] = \begin{bmatrix} 0.5 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0.75 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0.999 & 0.75 & 0 \\ -0.5 & 0 & -0.999 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & -0.5 \end{bmatrix} \times \begin{bmatrix} 1 & 0 & 0 & -1 & 0 \\ 0 & 1 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0.707 & -0.707 & 0 \\ 0 & 0 & 1 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & -1 \end{bmatrix}$$

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | 0.5 | 0 | 0 | -0.5 | 0 |
| = | 0 | 0.75 | 0 | 0 | 0 |
| | 0 | 0 | 1.456 | -0.706 | 0 |
| | -0.5 | 0 | -0.706 | 1.206 | 0 |
| | 0 | 0 | 0 | 0 | 0.5 |

ددی ټرس ګلوبل میټریکس عبارت ده له:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | 0.5 | 0 | 0 | -0.5 | 0 |
| | 0 | 0.75 | 0 | 0 | 0 |
| [K] = | 0 | 0 | 1.456 | -0.706 | 0 |
| | -0.5 | 0 | -0.706 | 1.206 | 0 |
| | 0 | 0 | 0 | 0 | 0.5 |

## 8.17 آتم مثال-د تیر مثال دوام

د ګلوبل شخی (Stiffness) په پیژندلو سره کولا ی شو چی د  جاینټونو بیځایه کیدل پدی لاندی ډول پیدا کړو:

د ګلوبل شخی میټریکس معکوس ($K^{-1}$) یي عبارت دی له:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | 4.750 | 0 | 1.334 | 2.750 | 0 |
| | 0 | 1.333 | 0 | 0 | 0 |
| $[K^{-1}]$ = | 1.334 | 0 | 1.334 | 1.334 | 0 |
| | 2.750 | 0 | 1.334 | 2.750 | 0 |
| | 0 | 0 | 0 | 0 | 2 |

$$[X] = [K^{-1}][P] = \begin{bmatrix} 4.750 & 0 & 1.334 & 2.750 & 0 \\ 0 & 1.333 & 0 & 0 & 0 \\ 1.334 & 0 & 1.334 & 1.334 & 0 \\ 2.750 & 0 & 1.334 & 2.750 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 2 \end{bmatrix} \times \begin{bmatrix} -10 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \\ 0 \end{bmatrix}$$

$$[X] = (1/E) \begin{bmatrix} -47.50 \\ 0 \\ -13.34 \\ -27.5 \\ 0 \end{bmatrix}$$

$$X_1 = \frac{-47.5}{E}$$
$$X_2 = 0$$
$$X_3 = \frac{-13.34}{E}$$
$$X_4 = \frac{-27.5}{E}$$
$$X_5 = 0$$

اوس کولای شو چی د ترس دغړیو داخلی قواوی پیدا کړو:

$$[F] = [S\ A^T][X]$$

$$[F] = [S\ A^T]\,[X] = (E)\begin{bmatrix} 0.5 & 0 & 0 & -0.5 & 0 \\ 0 & 0.75 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 1 & -0.999 & 0 \\ 0 & 0 & 0.75 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & -0.5 \end{bmatrix} (1/E) \begin{bmatrix} -47.50 \\ 0 \\ -13.34 \\ -27.5 \\ 0 \end{bmatrix}$$

$$\begin{bmatrix} F_1 \\ F_2 \\ F_3 \\ F_4 \\ F_5 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} -10 \\ 0 \\ 14.146 \\ -10.01 \\ 0 \end{bmatrix}$$

دا یو شان جواب دی چی مخکنی  په څلورم مثال کی داخلی قواوی پیدا شوی وی.

## 8.18 دبیم تحلیل د میټریکس په طریقه

د تحلیل لپاره بیم په یو  شمیر توټو یا برخو جلا او د ا برخی یو بل سره په نود یا  جاینټ کی یو بل سره وصل کیږی. دا برخی یو حصه د بیم د اوږدوالی یا ټول اوږدوالی وی. هر ټکی چی پکی هینج یا نا معلم ریکشن شتون ولری هغه نقطه باید نود یا  جاینټ ونیول شی. دا لاندی شکل کی یو بیم ګورو چی یوه څنډه یی  ټینګه تړل شوی (fixed) او دوی نور اتکا وی لری. دا تړل شوی څنډه او د اتکا ټکی نود یا  جاینټ نومول کیږی




انځور 8.12  بیم د نوډنونو

پدی پورتنی شکل کی وینو دوه جاینټونه په اتکاء (B) او (C) جوړ شوی. که چیری په د (A) او (B) په منځکی او یا (B) او (C) په منځکی جاینټ جوړ شی هلته به دوه نا معلوم بی ځایه کیدل ( کړیدړنکی زاویه او کښته یا پورته بیځایه کید نه) اضافه شی. د کنتیلور څنډه کیدای شی چی جاینټ یا نود ونومول نشی ځکه لوډ يي هغه نژدی نود ته لیږدول کیدای شي.

## 8.18.1. د سټاتیک میټریکس جوړه ول

دا لاندی بیم څلور جاینټونه لری او د میټریکس جوړه ولو په ارتباط څلور بیځایه کیدل چی X1, X2, X3 او X4 نومیړی ښودل شوی. او هم څلور ګرزیدونکی بیځایه کیدل ($\theta_B, \theta_C, \theta_d, \Delta$) شتون لري.




**انځور8.13 بیم د نوډنونو**

پدی بیم په پورتنی شکل کی داخلی او بهرنی لوډونه او بیځایه کیدل ښودل کیږی:




**انځور8.14 بیم -بهرني لوډ او بیځایه کیدل**




**انځور8.15  بیم -آخری مؤمنتونه او دا لستیک کږیدل یا**




**انځور8.16  بیم - بهرني او داخلي لودونه په جوينتونو کی پلي شوي**

د توازن معادلی په هر  جاینټ کی:

$$\Sigma M = 0$$

- B




$$P_1 - M_2 - M_3 = 0$$

$$P_1 = M_2 + M_3$$

- C




$$P_2 - M_4 + M_5 = 0$$

$$P_2 = M_4 - M_5$$




$$P_3 - M_6 = 0$$

$$P_3 = M_6$$

$$P_4 + V_3 = 0$$

$$P_4 = -V_3 = -\ (M_5 + M_6)/L_3$$

بهرنی او د اخلی لوړونه د میتریکس په چوکات کی ځای په ځای کوو:

## 8.18.2 د بیم  بیځایه کیدو میتریکس جوړه ول




انځور8.17  بیم -د بیځایه کیدو میترکس جوړه ول

## 8.18.3 د بیم د B میټریکس جوړه ول

له پورتنی شکل داسی لیکلی شو:

$$\left.\begin{aligned}
\theta_1 &= 0\\
\theta_2 &= X_1\\
\theta_3 &= X_1\\
\theta_4 &= X_2\\
\theta_5 &= X_2 - X_4/L_3\\
\theta_6 &= X_3 - X_4/L_3
\end{aligned}\right\}$$

د $\theta_5$, او $\theta_6$ اندازه یی له هغه لیکی ده چی دواړه څنډی د ایلستیک کورد یا په بل عبارت دوه څنډی د ایلستیک منحني سره وصل کړی دی :

د B میټریکس له پورتنیو معادلو جوړه وو:

$[B]$

| | X | | | |
|---|---|---|---|---|
| $\theta_i$ | 1 | 2 | 3 | 4 |
| 1 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | 1 | 0 | 0 | 0 |
| 3 | 1 | 0 | 0 | 0 |
| 4 | 0 | 1 | 0 | 0 |
| 5 | 0 | 1 | | $-1/L_3$ |
| 6 | 0 | 0 | 1 | $-1/L_3$ |

د شپږم فصل شکل 6.7 او معادلی 6.6 او 6.7 دا لاندی لیکلی شو:

$$\theta_i = \frac{L}{(3EI)} M_i - \frac{L}{(6EI)} M_j$$

$$\theta_j = \frac{L}{(6EI)} M_i - \frac{L}{(3EI)} M_j$$

دا پورتنی معادله په میټریکس چوکات کی داسی لیکلی شو:

$$\begin{bmatrix} \theta_1 \\ \theta_2 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} L/(3EI) & -L/(6EI) \\ -L/(6EI) & L/(6EI) \end{bmatrix} \begin{bmatrix} M_i \\ M_j \end{bmatrix}$$

دا دغړی د فلکسیبیلیتی (flexibility) په نامه یادیږي.

او بیا هم د بنپږم فصل معادلی 6.14 او 6.15 داسی لیکلی شو:

$$M_i = \frac{4EI}{(L)}\,\theta_i + \frac{2EI}{(L)}\,\theta_j$$

$$M_i = \frac{4EI}{(L)}\,\theta_i + \frac{2EI}{(L)}\,\theta_j$$

$$\begin{bmatrix} M_i \\ M_j \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} \frac{4EI}{(L)} & \frac{2EI}{(L)} \\ \frac{2EI}{(L)} & \frac{4EI}{(L)} \end{bmatrix} \begin{bmatrix} \theta_i \\ \theta_j \end{bmatrix}$$

دا په نامه د غړی شخی (stiffness) د میترکس غړی یادیږي.

## 8.19 دبیم گلوبل میتریکس (Beam Global Matrix)




$x_1$ صفر ندی او شتون لری




د بیم مؤمنتونه

**انځور8.18  بیم -ګلوبل شخي میترکس** جوړه ول







د ا بیم په حالت توازن کی ده هره برخه او هر  جاینټ یی باید په  توازن او تعدل کی وی.  د توازن معادلی په  جاینټونو کی  پدی لاندی ډول دی:

$$M_1 = \frac{4EI_1}{L_1} + \frac{4EI_2}{L_2}$$

$$M_2 = \frac{2EI_2}{L_2}$$

$$M_3 = M_4 = 0$$

د بیم ګلوبل شخی میټریکس عبارت ده له:

| | | | بیځایه کیدنه د جوینت | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | 1 | 2 | 3 | 4 |
| | بهرنی لود (M) | 1 | $(4EI_1/L_1) + (4EI_2/L_2)$ | $(2EI_2/L_2)$ | 0 | 0 |
| K = | | 2 | $2EI_2/L_2$ | $(4EI_2/L_2) + (4EI_3)/L_3$ | $(2EI_3/L_3)$ | $-(6EI_3/L^2_3)$ |
| | | 3 | 0 | $(2EI_3/L_3)$ | $4EI_3/L_3$ | $-(6EI_3/L^2_3)$ |
| | | 4 | 0 | $-(6EI_3/L^2_3)$ | $-(6EI_3/L^2_3)$ | $(12EI_3/L^3_3)$ |




$x_4$ صفر ندی او شتون لری




پیدا شوی شیر او مؤمنتونه




د جوینت دایگرام

**انځور8.19 بیم -ګلوبل شخي میترکس جوړه ول**

د توازن معادلی په جاینټونو کی پدی لاندی ډول دی:

$M_1 = 0$

$M_2 = -\frac{6EI_3}{L_3{}^2}$

$M_3 = -\frac{6EI_3}{L_3{}^2}$

$M_4 = \frac{12EI_3}{L_3{}^3}$

| | |
|---|---|
| $[P] = [A]\ [F]$ | د بیم د ځنډو مؤمنتونه او میترکس A اړیکی |
| $[F] = [S]\ [e]$ | د هوک قانون (Hook's Law) د بیم برخی شخی (stiffness)او داخلي لوډ اړيکي معادله |
| $[e] = [B]\ [X]$ | د توافق (compataibility) معادله: بیځایه کیدو میترکس (B) او د جوینت دورانی یا ځرخونکی بیځایه کول (X) میترکس اړيکي معادله |
| $[F] = [SB]\ [X]$ | د بیم د ځنډو مؤمنتونه او ځرخیدونکی زاويي معادله |
| $[F] = [SA^T]\ [X]$ | د ستاتیک میترکس تراسپوز او بیځایه کیدو میترکس اړیکی او فورمول يي |
| $[P] = [ASA^T]\ [X]$ | د ګلوبل ستفنیس ، بهرنی لوډ اوی جوینت بیځایه کیدو اړیکی او فورمول يي |
| $[K] = [ASA^T]$ | ګلوبل ستفنیس میترکس د بیم |

## 8.20 د بیم د یوی برخی د شخی میتریکس (local stiffness matrix) عبارت ده له

| | | بیځایه کیدل (X) | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | 1 | 2 | 3 | 4 |
| بهرنی لوډ | 1 | (4EI/L) | (2EI/L) | $(6EI/L^2)$ | $-(6EI/L^2)$ |
| | 2 | (2EI/L) | (4EI/L) | $(6EI/L^2)$ | $-(6EI/L^2)$ |
| | 3 | $(6Ei/L^2)$ | $(6EI/L^2)$ | $(12EI/L^3)$ | $-(12EI/L^3)$ |
| | 4 | $-(6EI/L_2)$ | $-(6EI/L^2)$ | $-(12EI/L^3)$ | $(12EI/L^3)$ |




انځور8.20 بيم -ګلوبل شخي ميټرکس جوړه ول




انځور8.21  بیم -ګلوبل شخي میترکس جوړه ول

$$M_{ij} = \left(\frac{4EI}{L}\right)(\theta_i) + \left(\frac{2EI}{L}\right)\theta_j$$

$$M_{ji} = \left(\frac{2EI}{L}\right)(\theta_i) + \left(\frac{4EI}{L}\right)\theta_j$$

د میټریکس په چوکاټ کې دا پورتنی معادلی داسی لیکلی شو:

$$\begin{bmatrix} M_{ij} \\ M_{ji} \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} \left(\frac{4EI}{L}\right) & \left(\frac{2EI}{L}\right) \\ \left(\frac{2EI}{L}\right) & \left(\frac{4EI}{L}\right) \end{bmatrix} \begin{bmatrix} (\theta_i) \\ (\theta_j) \end{bmatrix}$$

د بیم د یوی برخی شخی میټریکس عبارت دی له:

$$\begin{bmatrix} K \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} K_{ii} & k_{ij} \\ K_{ji} & k_{jj} \end{bmatrix}$$

د سلوپ دیفلکشن په (6.14) معادلو کی مو ولیدل چی د میټریکس دا عناصر څنګه پیدا شول.

## 8.21 نهم مثال




انځور8.22  بیم -نهم مثال




بهرنی لوډ Q او بیځایه کیدنه X




د بیم عمومي یا ګلوبل دیاګرام

فیکسد اینډ مؤمنتونه (M) او د جوینټونو څرخولونکی (θ) زاویې



د بیم ځانګړی اولی برخی  دایاګرام



د بیم ځانګړی دوهمی
برخی  دایاګرام

د بیم ځانګړی برخو  دایاګرام

انځور8.23  بیم -نهم مثال د بیم دوه برخي

## 8.21.1 د جاینټونو د توازن معادلې




**انځور8.24 د بیم ځانګړی برخو فیکسډ اینډ مومنټونه**

### د جاینټونو توازن:




د جوینټونو توازن

## 8.21.2 بهرنی لوډ P او بیځایه کیدنه X







د جوینت د توافق حالت بیځایه کیدنه او ورسره داخلی بی ثباتی( Compatibility of internal deformation with joint displacement)

**انځور8.25 د جا ینټ د توافق حالت**

## 8.21.3 فیکسد ایند مومنټونه د جاینټ په فیکسد حالت کی



**د جاينټونو توازن حالت:**

$$Q_1 = M_2 + M_3$$

$$Q_2 = M_4$$

دا معادلې د میټریکس په چوکات کې:

$$[A] = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

**د (deformation) میټریکس (B)**

$$B = A^T$$

$$\begin{pmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 \end{pmatrix}^T = \begin{pmatrix} 0 & 0 \\ 1 & 0 \\ 1 & 0 \\ 0 & 1 \end{pmatrix}$$

## 8.21.4 د ځانګړې برخې د شخې میټریکس (Local stiffness matrix)

$$[S] = \begin{bmatrix} 4EI_1/L_1 & 2EI_1/L_1 & 0 & 0 \\ 2EI_1/L_1 & 4EI_1/L_1 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 4EI_2/L_2 & 2EI_2/L_2 \\ 0 & 0 & 2EI_2/L_2 & 4EI_2/L_2 \end{bmatrix}$$

$$
[S] = \begin{bmatrix} 4/9 & 2/9 & 0 & 0 \\ 2/9 & 4/9 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 4/3 & 2/3 \\ 0 & 0 & 2/3 & 4/3 \end{bmatrix}
$$

د میتریکس او ځانګړی برخی د بیم د شخی میتریکس یو بل سره ضربه ول یی:

$$
[S][A^T] = \begin{bmatrix} 4/9 & 2/9 & 0 & 0 \\ 2/9 & 4/9 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 4/3 & 2/3 \\ 0 & 0 & 2/3 & 4/3 \end{bmatrix} \times \begin{pmatrix} 0 & 0 \\ 1 & 0 \\ 1 & 0 \\ 0 & 1 \end{pmatrix}
$$

$$
= \begin{bmatrix} 0.22 & 0 \\ 0.44 & 0 \\ 1.33 & 0.67 \\ 0.67 & 1.33 \end{bmatrix}
$$

$$
[K] = [ASA^T]
$$

$$K = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix} \times \begin{pmatrix} \frac{2}{9} & 0 \\ \frac{4}{9} & 0 \\ \frac{4}{3} & \frac{2}{3} \\ \frac{2}{3} & \frac{4}{3} \end{pmatrix}$$

$$K = \begin{pmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 \end{pmatrix} \times \begin{pmatrix} \frac{2}{9} & 0 \\ \frac{4}{9} & 0 \\ \frac{4}{3} & \frac{2}{3} \\ \frac{2}{3} & \frac{4}{3} \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} \frac{16}{9} & \frac{2}{3} \\ \frac{2}{3} & \frac{4}{3} \end{pmatrix}$$

$$[K] = \begin{bmatrix} 1.778 & 0.667 \\ 0.667 & 1.333 \end{bmatrix}$$

د بیځایه کیدو میتریکس x عبارت دی:

$$[x] = [K^{-1}][Q]$$

$$[K^{-1}] = \begin{bmatrix} 9/13 & -9/26 \\ -9/26 & 12/13 \end{bmatrix}$$

$$[x] = \begin{bmatrix} 9/13 & -9/26 \\ -9/26 & 12/13 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 3 \\ 3.75 \end{bmatrix}$$

$$[x] = 1/(EI) \begin{bmatrix} (81/104) \\ (63/26) \end{bmatrix}$$

$$\theta_B = \frac{(81)}{(104EI)}$$

$$\theta_C = \frac{(63)}{(26EI)}$$

د بیم د برخو داخلی لودونه  عبارت دی له:

$$[M] = [SA^T][x]$$

$$\begin{bmatrix} 2/9 & 0 \\ 4/9 & 0 \\ 4/3 & 2/3 \\ 2/3 & 4/3 \end{bmatrix} X \begin{bmatrix} 81/104 \\ 63/26 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 9/52 \\ 9/26 \\ 69/26 \\ 15/4 \end{bmatrix}$$

$$[M] = \begin{bmatrix} 0.22 & 0 \\ 0.44 & 0 \\ 1.33 & 0.67 \\ 0.67 & 1.33 \end{bmatrix} X \begin{bmatrix} 0.78 \\ 2.42 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 0.173 \\ 0.346 \\ 2.654 \\ 3.750 \end{bmatrix}$$

| | | |
|---|---|---|
| $M_1$ | = | 0.173 |
| $M_2$ | = | 0.346 |
| $M_3$ | = | 2.654 |
| $M_4$ | = | 3.750 |

## 8.21.5 د جاينټونو ټول مومنټونه




انځور8.26  د جوينټونو ټول مؤمنټونه

$M_1$ = 6.75
$M_2$ = 0.173 + 6.75 = 6.96
$M_3$ = 0.346 -6.75 = 6.40
$M_4$ = 3.75 -3.75 = 0.0

## 8.22 لسم مثال

دا لاندی بیم د میتریکس په طریقه یی حل کوو




انځور8.26 لسم مثال

## 8.22.1

## فیکسد اېند مؤمنت:

$$FEM_{BC} = \frac{Pa^2b}{L^2} = \frac{(20)(6)^2(4)}{10^2} = +28.8$$

$$FEM_{CB} = \frac{Pab^2}{L^2} = \frac{(20)(6)(4)^2}{10^2} = -19.2$$

$$FEM_{BA} = -\frac{qL^2}{12} = -\frac{(5)(15)^2}{12} = -93.75$$

$$FEM_{AB} = +\frac{qL^2}{12} = -\frac{(5)(15)^2}{12} = +93.75$$




فیکسد اېند مؤمنت او څرخید لی زاویي

## 8.22.2 دبیم ځانګړی برخی




انځور 8.27 لسم مثال




## 8.22.3 جاینتونه د بهرنی او داخلی لودونو سره




شکل 8.28 لسم مثال

## 8.22.4 توازن په جاینټونو کی

$$Q_1 = M_2 + M_3$$

$$Q_2 = M_1$$

د (A) میټریکس جوړه ول د جاینټونو د توازن د معادلو چی هره برخه د بیم دوه کالمه او دوه قطارونه د میټریکس (A) په چوکات کی جوړوی :

$$[A]_{2x4} = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

د (A) میټریکس ترانسپوز عبارت دی له:

$$[A]^T_{4x2} = \begin{bmatrix} 0 & 0 \\ 1 & 0 \\ 1 & 0 \\ 0 & 1 \end{bmatrix}$$

## 8.22.5 د بیم د ځانګړیو برخو د شحی میټریکس $(k)$ عبارت دی له

$$[k]_{4x4} = \begin{bmatrix} \frac{4EI_1}{L_1} & \frac{2EI_1}{L_1} & 0 & 0 \\ \frac{2EI_1}{L_1} & \frac{4EI_1}{L_1} & 0 & 0 \\ 0 & 0 & \frac{4EI_2}{L_2} & \frac{2EI_2}{L_2} \\ 0 & 0 & \frac{2EI_2}{L_2} & \frac{4EI_2}{L_2} \end{bmatrix}$$

$$[k]_{4x4} = (EI)\begin{bmatrix} \frac{4}{10} & \frac{2}{10} & 0 & 0 \\ \frac{2}{10} & \frac{4}{10} & 0 & 0 \\ 0 & 0 & \frac{4}{5} & \frac{2}{5} \\ 0 & 0 & \frac{2}{5} & \frac{4}{5} \end{bmatrix}$$

$a_{11} = 4EI_1/L_1 = 4(I)\ E/10 = (EI)(4/10)$

$a_{33} = 4EI_2/L_2 = 4(3I)\ E/15 = (EI)(4/5)$

ترانسپوز د (A) میټریکس او دبیم ځانګړی برخی شخی میټریکس $(k)$ یو بل سره ضربه وو:

$$[k]_{4x4} \times [A]^T_{4x2} = (EI)\begin{bmatrix} \frac{4}{10} & \frac{2}{10} & 0 & 0 \\ \frac{2}{10} & \frac{4}{10} & 0 & 0 \\ 0 & 0 & \frac{4}{5} & \frac{2}{5} \\ 0 & 0 & \frac{2}{5} & \frac{4}{5} \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 0 & 0 \\ 1 & 0 \\ 1 & 0 \\ 0 & 1 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 1/5 & 0 \\ 2/5 & 0 \\ 4/5 & 2/5 \\ 2/5 & 4/5 \end{bmatrix}$$

## 8.22.6 د بیم ګلوبل (Global) شخی

$$[K]_{2x2} = [A\ kA^T] = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 1/5 & 0 \\ 2/5 & 0 \\ 4/5 & 2/5 \\ 2/5 & 4/5 \end{bmatrix}$$

$$[K]_{2x2} = \begin{bmatrix} 6/5 & 2/5 \\ 2/5 & 4/5 \end{bmatrix}$$

## 8.22.7 د بیم بیځایه کیدنی (X) یا څرخونکی زاویی (θ)

$$[X]_{2x1} = [K^{-1}]\,[Q]$$

$$[K^{-1}] = \begin{bmatrix} 1 & -1/2 \\ -1/2 & 3/2 \end{bmatrix}$$

$Q_1 = -28.8 + 93.75 = 64.95$
$Q_2 = -\ 93.75$

$$[X] = \begin{bmatrix} 1 & -1/2 \\ -1/2 & 3/2 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 64.95 \\ -93.75 \end{bmatrix}$$

$$[X]_{2x1} = \begin{bmatrix} 111.83/EI \\ -173.1/EI \end{bmatrix}$$

## 8.22.8 د بیم د هرې برخې مومنټونه (M) عبارت دی

$$[M]_{4x1} = [k\ A^T]\ [X] = \begin{bmatrix} 1/5 & 0 \\ 2/5 & 0 \\ 4/5 & 2/5 \\ 2/5 & 4/5 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 111.83/E \\ -\ 173.1/E \end{bmatrix}$$

برخې شخې میترکس ضرب د ستاتیک ترانسپوز

$$[M]_{4x1} = \begin{bmatrix} 22.37 \\ 44.732 \\ 20.224 \\ 93.748 \end{bmatrix}$$

## 8.22.9 د جاینتو پایلی مومنتونه

$$M_1 = 22.37 - 19.2 = 3.17 \text{ kN-m}$$

$$M2 = 44.732 + 28.8 = 73.53 \text{ kN-m}$$

$$M3 = 20.224 - 93.75 = -73.53 \text{ kN-m}$$

$$M4 = 93.75 - 93.75 = 0$$

د ا پورتنی مومنتونه او د مومنټ ډیستریبیوشن مومنتونه یو شان دی.

## 8.23 یولسم مثال




انځور8.29 یو لسم مثال

$$FEM_A = 5 \times 5 \times 2.5 = -62.5 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{AB} = \frac{qL^2}{12} = \frac{(5)(20)^2}{12} = 166.67 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{BA} = -\frac{qL^2}{12} = -\frac{(5)(20)^2}{12} = -166.67.0 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{BC} = \frac{Pa^2b}{L^2} = \frac{(20)(5)^2(10)}{15^2} = 22.22 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{BC} = \frac{qL^2}{12} = \frac{(2)(15)^2}{12} = 37.5 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{BC} = 22.22 + 37.5 = 59.72 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{CB} = -\frac{Pab^2}{L^2} = -\frac{(20)(5)(10)^2}{15^2} = -44.44 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{CB} = -\frac{qL^2}{12} = -\frac{(2)(15)^2}{12} = -37.5 \text{kN-m}$$

$$FEM_{CB} = -44.44 - 37.5 = -81.94 \text{ kN-m}$$




فیکسد اینډ مؤمنت

د جوینت ترلولپاره اړین مؤمنت

## دبیم ځانګړی برخی:




**انځور 8.30 یو لسم مثال**




**شکل 8.31 یو لسم مثال**

توازن په جاینټونو کی :

$$Q_1 = M_2 + M_3$$

$$Q_2 = M_4$$

کنتیلور په  جاینټ (A) کی مؤمنت یی معلوم دی او  هغه د  جاینټ په ټول مومنټ کی  یوځای و شمیرل شی.

د  (A)  میټریکس چی یو سټاتیک میټریکس ده د بیم د  جاینټونو د توازن له معادلوجوړیږي.   هره برخه د بیم  دوه کالمه او دوه قطارونه د میټریکس  (A) په چوکات کی ځای لری :

$$[A]_{2x4} = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

د  (A)  میترکس ترانسپوز  عبارت دی له:

$$[A]^T_{4x2} = \begin{bmatrix} 0 & 0 \\ 1 & 0 \\ 1 & 0 \\ 0 & 1 \end{bmatrix}$$

د بیم د ځانګړیو برخو د شحی میټریکس (***k***) عبارت دی له:

$$[k]_{4x4} = \begin{bmatrix} \frac{4EI_1}{L_1} & \frac{2EI_1}{L_1} & 0 & 0 \\ \frac{2EI_1}{L_1} & \frac{4EI_1}{L_1} & 0 & 0 \\ 0 & 0 & \frac{4EI_2}{L_2} & \frac{2EI_2}{L_2} \\ 0 & 0 & \frac{2EI_2}{L_2} & \frac{4EI_2}{L_2} \end{bmatrix}$$

$$[k]_{4x4} = (EI) \begin{bmatrix} \frac{8}{15} & \frac{4}{15} & 0 & 0 \\ \frac{4}{15} & \frac{8}{15} & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 1 & \frac{1}{2} \\ 0 & 0 & \frac{1}{2} & 1 \end{bmatrix}$$

$a_{11} = 4EI_1/L_1 = 4(2I)\ E/15 = (EI)(8/15)$

$a_{33} = 4EI_2/L_2 = 4(5I)\ E/20 = (EI)$

د (A) میټریکس ترانسپوز او دبیم ځانګړی برخی شخی میټریکس (*k*) یو بل سره ضربه وو:

$$[k]_{4\times4} \times [A]^T_{4\times2} = (EI)\begin{bmatrix} \frac{8}{15} & \frac{4}{15} & 0 & 0 \\ \frac{4}{15} & \frac{8}{15} & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 1 & \frac{1}{2} \\ 0 & 0 & \frac{1}{2} & 1 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 0 & 0 \\ 1 & 0 \\ 1 & 0 \\ 0 & 1 \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 4/15 & 0 \\ 8/15 & 0 \\ 1 & 1/2 \\ ½ & 1 \end{bmatrix}$$

د بیم ګلوبل شخی میټریکس (Global Stiffness) :

$$[K]_{2\times2} = [A\ kA^T] = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 4/15 & 0 \\ 8/15 & 0 \\ 1 & ½ \\ ½ & 1 \end{bmatrix}$$

$$[K]_{2\times2} = \begin{bmatrix} 23/15 & 1/2 \\ 1/2 & 1 \end{bmatrix}$$

د بیم بیځایه کیدنی (X) یا څرخونکی زاویی (θ):

$$[X]_{2\times1} = [K^{-1}]\,[Q]$$

$$[K^{-1}] = \begin{bmatrix} 60/77 & -30/77 \\ -30/77 & 92/77 \end{bmatrix}$$

$$Q_1 = -59.82 + 166.67 = 106.85$$

$$Q_2 = -\,104.17$$

$$\underset{2x1}{\begin{bmatrix} X \end{bmatrix}} = \begin{bmatrix} 60/77 & -30/77 \\ -30/77 & 92/77 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 106.85 \\ -104.17 \end{bmatrix}$$

$$\underset{2x1}{\begin{bmatrix} X \end{bmatrix}} = \begin{bmatrix} 123.85/E \\ -166.093/E \end{bmatrix}$$

$$\theta_2 = 123.85/EI)$$
$$\theta_3 = -166.093/EI$$

د بیم  د هرغړي مومنتونه (M) عبارت دی:

$$\underset{4x1}{\begin{bmatrix} M \end{bmatrix}} = \begin{bmatrix} k\,A^T \end{bmatrix} \begin{bmatrix} X \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 4/15 & 0 \\ 8/15 & 0 \\ 1 & ½ \\ ½ & 1 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 123.85 \\ -166.093 \end{bmatrix}$$

برخی شخی میترکس ضرب د ستاتیک ترانسپوز

بیخایه کیدلو میترکس

$$\begin{bmatrix} M \end{bmatrix} = \begin{bmatrix} 33.03 \\ 66.05 \\ 40.80 \\ -104.17 \end{bmatrix}$$

## د جاينټ پایلی مومنتونه :

د جوینتو پایلی مؤمنتونه :

$M_1$ = -81.947 +33.03 = -48.92 kN-m

M2 = 59.82 + 66.05 = 125.87 kN-m

M3 = -166.67 +40.80 = -125.87 kN-m

M4 = -104.17 +104.17 = 0

## 8.24 دولسم مثال

دا لاندی فریم د میتریکس په طریقه سره غواړو تحلیل یی کړو. د فریم تحلیل د بیم په شان باید بهرنی لوډونه په جاینتونو کی و پیرنو او بیا ستاتیک میتریکس، او د شخی میتریکس جوړی کړو. د میتریکس عملیي د فریم جوړښت د بیم جوړښت په شان دی.




شکل 8.32 دو لسم

$$FEM_{BC} = \frac{qL^2}{12} = \frac{(20(5^2)}{12} = 41.67 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{CB} = -\frac{qL^2}{12} = -\frac{(20)(5)^2}{12} = -41.67 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{CD} = \frac{PL}{8} = \frac{(50)(10)}{8} = 62.5 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{FC} = -\frac{Pab^2}{L^2} = -\frac{(30)(2)(5)^2}{7^2} = -30.61 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{CF} = \frac{Pa^2b}{L^2} = \frac{(30(2)^2(5)}{7^2} = 12.25 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{DC} = -\frac{PL}{8} = -\frac{(50)(10)}{8} = -62.5 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{BA} = (15)(1) = 15 \text{ kN-m}$$




انخورr 8.33 دو لسم مثال




بهرنی لوړونه په جوینتونو




بهرنی لوړونه فیکسد ایند مؤمنتونه  په جوینتونو

**انځور 8.34 بهرني لوړونه په جوینتونو کی**

د ا فریم په حالت د توازن کی دی او د جاینتونو توازن  په دی لاندی توګه ګورو:




**انځور 8.35  دجا ینتونو توازن**

$\Sigma M$ at C =0

$$Q_1 = M_2 + M_5 + M_3$$

$\Sigma M$ at B =0

$$Q_2 = M_4$$




**انځور 8.36 دجوینتونو توازن**

د ستاتیک میترکس A جوړه ول:

$$Q_2 = M_2 + M_3 + M_5$$

$$Q_3 = M_4$$

A- Matrix

$[A]_{2x6}$ =

| | $M_1$ | $M_2$ | $M_3$ | $M_4$ | $M_5$ | $M_6$ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| $Q_1$ | 0 | 1 | 1 | 0 | 1 | 0 |
| $Q_2$ | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 |

$[B]_{2x6} =$

| | $Q_1$ | $Q_2$ |
|---|---|---|
| $M_1$ | 0 | 0 |
| $M_2$ | 1 | 0 |
| $M_3$ | 1 | 0 |
| $M_4$ | 0 | 1 |
| $M_5$ | 1 | 0 |
| $M_6$ | 0 | 0 |

## د ځانګړیو غړیوشخی میټریکس *k* :

دا فریم دری ځانګړی غړی لری، د شخی میټریکس هر غړی دوه څنډی لری شخی میټریکس ***k***
۶ قطاره او ۶ کالمونه **لری**

$[k]_{6x6}$ =

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 4(2EI)/10 | 2(2EI)/10 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 4EI/10 | 8EI/10 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 4EI/5 | 2EI/5 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 2EI/5 | 4EI/5 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 4E(2I)/7 | 2E(2I)/7 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 4EI/7 | 8EI/7 |

$[k]_{6x6}$ = (EI)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 8/10 | 4/10 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 4/10 | 8/10 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 4/5 | 2/5 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 2/5 | 4/5 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 87 | 4/7 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 4/7 | 8/7 |

د د بهرنی لوډونو میترکس Q :




$$Q_1 = -62.5 + 41.67 - 12.27 = -33.08$$

$$Q_2 = -41.67 + 15 = -26.67$$

$$Q = \begin{bmatrix} -33.08 \\ -26.67 \\ \end{bmatrix}$$

:متريكس $kA^T$

$kA^T$ =

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 8/10 | 4/10 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 4/10 | 8/10 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 4/5 | 2/5 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 2/5 | 4/5 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 8/7 | 4/7 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 4/7 | 8/7 |

| | |
|---|---|
| 0 | 0 |
| 1 | 0 |
| 1 | 0 |
| 0 | 1 |
| 1 | 0 |
| 0 | 0 |

$kA^T$ =

| | |
|---|---|
| 2/5 | 0 |
| 4/5 | 0 |
| 4/5 | 2/5 |
| 2/5 | 4/5 |
| 8/7 | 0 |
| 4/7 | 0 |

د فريم ګلوبل شخی میترکس **K** :

| | $M_1$ | $M_2$ | $M_3$ | $M_4$ | $M_5$ | $M_6$ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| $Q_1$ | 0 | 1 | 1 | 0 | 1 | 0 |
| $Q_2$ | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 |

$$K = \mathbf{A}\,\mathbf{k}A^T = EI \begin{bmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 & 0 & 0 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} 2/5 & 0 \\ 4/5 & 0 \\ 4/5 & 2/5 \\ 2/5 & 4/5 \\ 8/7 & 0 \\ 4/7 & 0 \end{bmatrix}$$

$$K = \mathbf{A}\,\mathbf{k}A^T = EI \begin{bmatrix} 96/35 & 2/5 \\ 2/5 & 4/5 \end{bmatrix}$$

د ګلوبل شخی معکوس میترکس $K^{-1}$ :

$$K^{-1} = \begin{bmatrix} 35/89 & -35/178 \\ -35/178 & 120/89 \end{bmatrix}$$

$$x = [K^{-1}\ Q] = \begin{bmatrix} 35/89 & -35/178 \\ -35/178 & 120/89 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} -33.08 \\ -26.67 \end{bmatrix}$$

$$= (1/EI) \begin{bmatrix} -27643/3560 \\ -5243/178 \end{bmatrix}$$

$$[M] = [kA^T]\,[x] = \begin{bmatrix} 2/5 & 0 \\ 4/5 & 0 \\ 4/5 & 2/5 \\ 2/5 & 4/5 \\ 8/7 & 0 \\ 4/7 & 0 \end{bmatrix} \begin{bmatrix} -27643/3560 \\ -5243/178 \end{bmatrix}$$

$$[M] = [kA^T]\,[x] = \begin{bmatrix} -27643/8900 \\ -27643/4450 \\ -80073/4450 \\ -2667/100 \\ -3949/445 \\ -3949/890 \end{bmatrix}$$

DC $M_1 = -27643/8900 - 62.5 = -3.11-62.5 = -65.61$

CD $M_2 = -6.21 + 62.5 = 56.29$

CB $M_3 = -17.99 - 41.67 = -59.66$

BC $M_4 = -26.67 + 41.67 = 15$

CF $M_5 = - 8.87 + 12.25 = 3.375$

FC $M_6 = -4.43 - 30.61 = -35.05$

جوابونه پدی طریقه او مؤمنت دیستربیوشن د یو بل سره نیږدی دي.

## 8.25 دیارلسم مثال

دا لاندی فریم چی د مؤمنت دیستربیوشن په فصل کی مو ولید د میتریکس په طریقه یوازی هغه مرحله چی بیځایه کیدل یا خوځیدل یی شي یا چپ لور ته و نلری تحلیل کوو.




انځور8.37   دیارلسم مثال

پدی فریم کی د غړیو مومنتونه پدی لاندی شکل کی ښودل شوي.




انځور8.37   د فریم د غړیو مؤمنتونه

بهرنی لوډونه او داخلی مومنټونه چی په جاینټونو کی جوړیږی په دی لاندی ډول دی:




**شکل 8.38 د فریم د غړیو مؤمنتونه**

هر جاینټ باید د توازن په حالت کی وی او د توازن معادلی به پوره کړی.

$\Sigma M$ at b $\quad Q_1 = M_2 + M_3$

$\Sigma M$ at c $\quad Q_2 = M_4 + M_6 + M_7$

$\Sigma M$ at d $\quad Q_3 = M_8$

د جاینټونو د توازن معادو څخه د A میتریکس جوړه وو او هغه عبارت ده له:

$$\underset{3x6}{A} = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 & 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

بهرنی لوډونه او فیکسد اینتد مومنټونه په دی لاندی شکل کی ښودل شوي.




انځور8.39 د فریم د غړیو مؤمنتونه

فیکسد اېند مومنټونه چی بهرنی لوډونو د فریم په غړیو کی جوړ کړی عبارت دی :

$$FEM_{bc} = -\frac{qL^2}{12} = -\frac{(5)(25^2)}{12} = -260.42 \text{ kN-m}$$

$$M_{ba} = 5\,(5)(5/2) = 62.5 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{cb} = \frac{qL^2}{12} = \frac{(5)(25)^2}{12} = 260.42 \text{kN-m}$$

$$FEM_{cd} = -\frac{qL^2}{12} = -\frac{(5)(30^2)}{12} = -375 \text{ kN-m}$$

$$FEM_{dc} = \frac{qL^2}{12} = \frac{(5)(30)^2}{12} = 375 \text{ kN-m}$$

$$M_{de} = 5\,(7)(7/2) = -122.5 \text{ kN-m}$$




انځور8.40   د فريم په جوينټونو کي

لدی ففیکسډ آینډ  مومنټونه د  Q  میټریکس جوړه وو، او هغه عبارت ده له:

$$Q_1 = -260.42 + 62.5 = -197.92$$
$$Q_2 = -375 + 260.4 = -114.6$$
$$Q_3 = 122.5 - 375 = -252.5$$

دا فریم څلور ځانګړی غړی او هر غړی دوه جاینټونه  لری چی د فریم د غړیو د شخی میټریکس $k$ به آته قطاره او آته   کالمونه   (8 x 8) ولری او پدی  لاند ډول جوړیږي:

$$[k]_{8x8} = EI$$

| bc | | cd | | fb | | gc | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4/15 | 2/15 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 2/15 | 4/15 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 4/25 | 2/25 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 2/25 | 4/25 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 4/12 | 2/12 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 2/12 | 4/12 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 4/30 | 2/30 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2/30 | 4/30 |

د A میټریکس ټرا نسپوز $(A^T)$ عبارت دی له:

$$[A^T]_{8x3} = \begin{bmatrix} 0 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 0 \\ 0 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 \\ 0 & 1 & 0 \\ 0 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

اوس د فریم د غړیو میټریکس $(k)$ او د ستاتیک میټریکس A ترانسپوز $(A^T)$ د یو بل سره ضربه وو، او حاصل یی عبارت دی له:

$$[K A^T]_{3x8} = EI \begin{bmatrix} 2/15 & 0 & 0 \\ 4/15 & 0 & 0 \\ 4/25 & 2/25 & 0 \\ 2/25 & 4/25 & 0 \\ 0 & 1/6 & 0 \\ 0 & 1/3 & 0 \\ 0 & 2/15 & 1/15 \\ 0 & 1/15 & 2/15 \end{bmatrix}$$

## د فریم ګلوبل د شخی میټریکس K (Global Stiffness Matrix)

د فریم د شخی ګلوبل میټریکس د غږیو له سټاتیک میټریکس او $A^T$ جوړه شوی میټریکس او له سټاتیک میټریکس A پدی لاندی ډول جوړیږي :

$$[\mathbf{k}]_{3x3} = A\,k\,A^{T} = \begin{bmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 & 0 & 1 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix} EI \begin{bmatrix} 2/15 & 0 & 0 \\ 4/15 & 0 & 0 \\ 4/25 & 2/25 & 0 \\ 2/25 & 4/25 & 0 \\ 0 & 1/6 & 0 \\ 0 & 1/3 & 0 \\ 0 & 2/15 & 1/15 \\ 0 & 1/15 & 2/15 \end{bmatrix}$$

د فریم د شخي ګلوبل

او د پورتنی میتریکس د ضربولو پایلی عبارت دی له دی لاندی ګلوبل میتریکس:

$$[\mathbf{k}]_{3x3} = A\,k\,A^{T} = EI \begin{bmatrix} 32/75 & 2/25 & 0 \\ 2/25 & 47/75 & 1/15 \\ 0 & 1/15 & 2/15 \end{bmatrix}$$

د ګلوبل میتریکس معکوس (inverse) عبارت دی له:

$$[K^{-1}]_{3x3} = \frac{1}{EI}$$

| | | |
|---|---|---|
| 6675/2776 | -225/694 | 225/1388 |
| -225/694 | 600/347 | -300/347 |
| 225/1388 | -300/347 | 5505/694 |

کله چې ګلوبل میتریکس له بهرنی لوډ میتریکس سره ضرب کړو حاصل به یی د فریم د جاینټونو د بیځایه کیدو میتریکس (**X**) شي. دا میتریکس درې قطارونه او درې کالمونه لرې. د فریم درې جاینټونه دی چې په هغو بهرنی لوډ فیکسد ایند مومنټونه جوړ کړی.

$$[X]_{3x3} = K^{-1}\ Q = \frac{1}{EI}$$

| | | |
|---|---|---|
| 6675/2776 | -225/694 | 225/1388 |
| -225/694 | 600/347 | -300/347 |
| 225/1388 | -300/347 | 5505/694 |

| |
|---|
| 197.92 |
| 114.6 |
| -252.5 |

د جاینټونو د بیځایه کیدو (displacement) پایلی میتریکس (**X**):

$$[X]_{1x3} = \frac{1}{EI}$$

| |
|---|
| 1104351/2776 |
| 122244/347 |
| -2873013/1388 |

کله چی د  جاینټ د بیځایه کیدو میټریکس پیدا شوه بیا د فریم د غړیو آخری مومنټونه  چی بهرنی لوډ جوړ کړی پدی لاندی ډول حاصلیږي:

$$\underset{8x3}{\left[M\right]} = \left[\, k \;\; A^{T}\right]\left[X\right]$$

پدی معادله کی  د غړیو ځانګړی میټریکس ، د سټاتیک میټریکس ترانسپوز او د  جاینټ بیځایه کیدلو میټریکسونه یو بل سره د میټریکس عملیي اجرا کړی. لدی سببه موږ اول دا عملیي ټولي اجرا کړلي، اوس کولای شو چی پایلی مومنټونه  د فریم په غړیو کی پیدا کړو.

$$M_{8x3} = [k\ A^T][X] =$$

| | | |
|---|---|---|
| 2/15 | 0 | 0 |
| 4/15 | 0 | 0 |
| 4/25 | 2/25 | 0 |
| 2/25 | 4/25 | 0 |
| 0 | 1/6 | 0 |
| 0 | 1/3 | 0 |
| 0 | 2/15 | 1/15 |
| 0 | 1/15 | 2/15 |

| |
|---|
| 1104351/2776 |
| 122244/347 |
| -2873013/1388 |

د فريم غړي

$$[M]_{8x1}\ (kN\text{-}m) =$$

| | | |
|---|---|---|
| 368117/6940 | 53.04 | fb |
| 368117/3470 | 106.09 | bf |
| 1593327/17350 | 91.83 | bc |
| 612051/6940 | 88.19 | cb |
| 20374/347 | 58.72 | gc |
| 40748/347 | 117.43 | cg |
| -631687/6940 | -91.02 | cd |
| -505/2 | -252.5 | dc |

| د فریم دغړیو مومنټونه | د فریم غړی | $M = K A^T X$ | د فریم دغړیو پایلی مومنټونه |
|---|---|---|---|
| $M_1$ | fb | 53.04 | 53.04 kN -m |
| $M_2$ | bf | 106.09 | 106.09 kN-m |
| $M_3$ | bc | 91.83 | 91.83 - 260.42 = -168.59 kN-m |
| $M_4$ | cb | 88.19 | 260.42 + 88.19 = 349 kN-m |
| $M_5$ | gc | 58.72 | 58.72 kN-m |
| $M_6$ | cg | 117.43 | 117.43 kN-m |
| $M_7$ | cd | -91.02 | - 91.02 - 375 = -466 kN-m |
| $M_8$ | dc | -252.5 | - 252.6 + 375 = 122.5 kN-m |

داځوابونه او د مؤمنت ديستريبيوشن د اولي مرحلي جوابونه سره نيږدی دی. که چيری د مؤمنت ديستريبيوشن سايکلونه نور هم ډير شی جوابونه به يو شان شی.

## 8.26 پرکتس سوالونه

1. د لاندی ښودل شوی میټریکسونو لپاره غوښتل شوی عملیی اجرا کړی:

$$A = \begin{bmatrix} 3 & 2 & 1 \\ 0 & 1 & 4 \\ 2 & 0 & 3 \end{bmatrix} \qquad B = \begin{bmatrix} 2 & 0 & 1 \\ 1 & 4 & -1 \\ -3 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

$$C = \begin{bmatrix} -2 & 5 \\ 1 & 4 \end{bmatrix} \qquad D = \begin{bmatrix} 0 & -2 \\ 1 & 3 \\ -2 & -1 \end{bmatrix} \qquad E = \begin{bmatrix} 5 & 7 \\ -1 & -5 \\ 2 & 1 \end{bmatrix}$$

A +B

A-B

D+E

(A) x (B)

A C

BD

AE

AD

$A^{-1}$ $B^{-1}$

$A^{T}$

$D^{T}$

$E^{T}$

ددی لاندی میټریکسو  معکوس پیدا کړی:

1. $\begin{bmatrix} 1 & 2 \\ 3 & 5 \end{bmatrix}$

2. $\begin{bmatrix} 1 & -2 \\ -3 & 7 \end{bmatrix}$

3. $\begin{bmatrix} 3 & 5 \\ -10 & 2 \end{bmatrix}$

4. $\begin{bmatrix} 1 & 3 & 2 \\ 5 & 4 & -1 \\ 2 & 6 & 7 \end{bmatrix}$

5. $\begin{bmatrix} -1 & 4 & 2 \\ 3 & 10 & -2 \\ 2 & 3 & 4 \end{bmatrix}$

(6)

$$A = \begin{bmatrix} \mathbf{1} & \mathbf{0} & \mathbf{-1} & \mathbf{2} \\ \mathbf{0} & \mathbf{3} & \mathbf{1} & \mathbf{-1} \\ \mathbf{2} & \mathbf{4} & \mathbf{0} & \mathbf{3} \\ \mathbf{-3} & \mathbf{1} & \mathbf{-1} & \mathbf{2} \end{bmatrix}$$

$$B = \begin{bmatrix} 1 & 2 \\ 3 & -1 \\ 0 & -2 \\ 4 & 1 \end{bmatrix} \qquad C = \begin{bmatrix} 3 & -1 & 5 & 0 \\ 1 & -3 & 0 & 4 \end{bmatrix}$$

$EF$ =?

$E^T$ =?

$E^{-1}$ =?

$EG$ =?

$FG$ =?

$F^T$ =?

$E^{-1}$ =?

(7) دا خطی معادلی د میټریکس په طریقه حل کړی.

1. x=y =6
x-y =2

2. x + y +z =6
x+2y +z =8
y +z = 1

(8) ددی میټریکس ډیټر مینیټ (Determinate) پیدا کړی:

$$J = \begin{bmatrix} 5 & 8 & 40 & 50 \\ 5 & 7 & 30 & 35 \\ 2 & 3 & 4 & 5 \\ 1 & 0 & 0 & 1 \end{bmatrix}$$

$$I = \begin{bmatrix} 10 & 3 & -7 & 5 \\ 0 & -4 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 5 & -2 \\ 2 & 0 & 3 & 0 \end{bmatrix}$$

(9) د جاينټ A بېځايه کېدنه د ميټريکس په طريقه پيدا کړی.




(10) د دی لاندی ټرس د غړيو داخلی قواوی د ميټريکس په طريقه پيدا کړی.



(11) د دی لاندی ترس د غړیو داخلی قواوی د میتریکس په طریقه پیدا کړی




(12)




د دی لاندی جوړښتونو داخلی قواوی د میتریکس په طریقه پیدا کړی

(13)




مماس به پیچومی کرشه
مماس به پیچومی کرشه
1.0 kN/m
20kN
$\theta_B$
$\theta_C$
A
B
C
D
10 m
5 m
5 m
10 m

(14)


5 kN
5 kN
7 kN
6 kN/m
E
D
C
B
A
3m
2m
2m
3m
2m
3m
4m

(15)


7 kN
10 kN/m
C
B
A
2m
2m
4m

(16)


4 kN
2 kN/m
C
EI
B
2EI
A
4m
6m

(17)


60 kN
30 kN/m
4m
C
EI
B
EI
A
6m
6m

(18)


10 kN
4 kN/m
C
2EI
B
3EI
6m
A
4m
4m

(19)


q=50 kN/m
D
I
B
I
C
I
I
5 m
E
A
2 m
12m
3 m

(20)

(21)


100 kN
7 m
7 m
B
C
3I
W = 5 kN/m
I
I
6m
A
D
14 m

(22)


P1=100 kN
C
5 m
7 m
B
(3I)
3 m
P =50 kN
(2I)
(2I)
6 m
5 m
A
D
12 m

(23)



# 9

## نهم فصل

# د جوړښتونو ډینامیک تحلیل

## (Dynamic Analysis of Structures)

### 9.0 ډینامیک انالیسیز

په تیرو فصلونو کی مو یوازی د ستاتیک یا دریدلیو لوډونو اغیزی په جوړښتونو او یا ددوی په غړیو و په پام کی نیولی وی. ډیر حالتونه شته چی د جوړښتونو غبرګون د متحرک یا ناثابه پلی کیدونکیو لوډونو لپاره په نظر کی ونیول شی. ددی ډول لوډونو تحلیل په داینمکس طریقه کیږی. ډینامیک انالیسیزس یوه پراخه ساحه ده. دلته یوازی یو څو اساسی او بنسیټیز اصول وړاندی کیږی.

د متحرک او ناثابه لوډونو مثالونه لکه واوره، باد، زلزله، چاودني، متحرک (خوځیدونکی یا ژوندی) لوډونه په پلونو او د باد (gust) اغیزی په هوايي بیړیو اولوړو تعمیرو (buildings) او داسي نوردی.

هر جوړښت له یو شمیر غړیو جوړ دی چی د یو بل سره په یو ډول ایلستیک (elastic) پیوستون وصل او جوړ دی، او که چیری جوړښت لږ څه وښوری د توازن او تعادل حالت په لړزیدو یااهتزاز راځی. له دی کبله ډیر وختونه مونږ کولای شو چی جوړښت په یوه شخه کتله (rigid mass) چی په ایلستیک سپرینګ یا فنروصل یا تړلی وی ایدیالیزیشن کړو. د مثال په توګه یو ساده پریزماتیک بیم (prismatic beam) (ضخامت او عرض یي ثابت دی) چی د اوږدوالی په یوه حصه کی یو ماشینی وزن ورباندی تینګ ایښودل شوی، هغه پدی لاندی ډول ایدیالیز کولای شو:







**انځور 9.1 بیم او ایډیالایزیشن یي** ایډیالایزیشن د بیم او ماشین وزن

د بیم او ماشین وزن ایدیالایزیشن په پام کی نیسو وینو د کتلی د خوځیدل تنها په عمودی جهت دی. او دا په نامه دی یوه درجه ازادی (one degree of freedom) یادیږی، پدی معنی چی تنها یو نا معلوم ارزښت ( x ) د سیستم بیځایه کیدنه او موقعیت معلومولود پاره اړتیا ده.

او دا بل مثال یو فریم چی دروند سخت (stiff) پوړ لری او په فلکسیبل (flexible) ستنیو (چی په اسانی سره تاویدی شی) تړلی دی ګورو (انځور 9.2 ) ، موږ ګمان کوو چی د فریم ستنیی کتله (mass) نلری ، ددی فریم ایدیالایزیشن یو کتله چی په سپرینګ (spring) تړلي ده ښودل کیدی شي (انځور 9.2a ). پدی حالت کی دا یو درجه ازادی سیستم دی، پدی معنی چی تنها یو نا معلوم ارزښت (x) په کار دی چی د ی فرش موقعیت وروسته لدی چی یوڅوندی لوډ ورباندی عمل وکړی پیدا کړو.




(a) ایدیالایزیشن د

**انځور 9.2 فریم او ایدیالایزیشن يي**

پدی لاندی انځور (9.3) کی سپرینګ د وزن (W) له امله په اندازه دی ($\delta_{st}$) خوځیږی تر څو بیرته په حالت د توازن کی راشي. دا خوځیدل $\delta_{st}$ عبارت دی له:

$$\delta_{st} = \frac{W}{k} \qquad (9.1$$




**انځور9.3 د وزن او فنر ایډیالایز دایګرام**

په پورتنی معادله (9.1) کی ($k$) د فنر ثابت نمبر یا سپرینګ کانستنت (spring constant) او W د ماشین وزن دی. د فنر ثابت نمبر عبارت له هغه لوډ دی چی یو واحد خوځیدل په سپرینګ کی راولی. که چیری د وزن واحد کیلو ګرام وی او خوځیدل سانتی متر وی د $k$ واحد به کیلو ګرام په سانتی متر وی.

که چیری یو ناڅاپه بهرنی قوه یا ډینامیکی لوډ په جوړښت عمل وکړی او ژر لري شی سیستم په لړزه راځی، دا ډول لړزه په نامه دی آزاد او طبعی لړزه (free or natural vibration) یادیږی. د نیوټن دوهم قانون په اساس لیکلي شو چی کتله یا مس (m= W/g) ضرب د تعجیل مساوی ده په هغه قوه چی د تعجیل په لور پلی شوي. دلته تعجیل عبارت دی له دوهم مشتق یا دریویتیو (derivative) د خوځیدو (x) ده. هغه قوه چی د لړزی په حالت کی په سیستم عمل کړی عبارت ده له وزن W او قوه یا لوډ په سپرینګ کی مساوی دی په $W = kx$

## 9.1 د نیوټن د حرکت معادله

غواړو د یوی کتلی **m** (انځور 9.3) بیځایه کیدنه او سرعت په هره لحظه د وخت **t** د نیوټن دوهم قانون معادلی سره پیدا کړو. د نیوټن دوهم قانون معادله پدی لاندی ډول لیکلی شو:

$$F = ma \qquad (9.2)$$

دلته په معادله (9.2) کی F هغه قوه ده چی په کتله m يي عمل کړی او a پيدا شوی تعجيل دی.
معادله 9-2 د تعجيل له برخو سره داسی هم ليکل کيدی شی:

$$\Sigma F_x = ma_x$$
$$\Sigma F_y = ma_y \qquad (9.3)$$
$$\Sigma F_z = ma_z$$

له انځور 9-3 او معادله 9-2 نه د مشتق په استعمال سره دا لاندی معادله ليکلی شو:

$$\frac{W}{g}\ddot{x} = W - (W + kx) = -kx \qquad (9.4)$$

په معادله ( 9-4) کی دوه ټکی د x پر سر ليکل شوی پدی معنی چی دا خوځيدل تابع x دوهم مشتق يا دوهم ډريوټيو (derivative) نظر وخت ته دی. دا يوه خطی ديفرينشل ( Differential) معادله د بيځايه کيدو ده او دلته يي حل داسی فرض کوو:

$$X = A \cos t (\omega t) \qquad (9\text{-}5)$$
$$X = B \sin (\omega t) \qquad (9\text{-}6)$$

په معادله 9-5 او 9-6 کی A, B ثابت ارزښتونه دی چی د کتلی m اود سپرينګ له هغه حالت چی په شروع د حرکت يي لری پيدا کيږی. پدی معادلو کی ω فزيکی خاصيت د سيستم بيانوی. که چيری معادله (9-5) په معادله (9-4) کی ځای په ځای کړو دمعادلی حل داسی کيږی:

$$(-m\omega^2 + k) A \cos(\omega t) = 0 \qquad (9.7)$$

دا معادله هغه وخت صحت مومي کله چی $(-m\omega^2 + k)$ مساوی په صفر شي.

$$(-m\omega^2 + k) = 0$$

$$\omega^2 = \frac{k}{m} \qquad (9\text{-}8)$$

$$\omega = \sqrt{\frac{k}{m}} \qquad (9\text{-}9)$$

په معادله 9.9 کی $\omega$ د سیستم د لړزیدو فریکونسي ( frequency) ده.

په عامه توګه د پورتنی دیفرینشل معادلی حل چی دوه ثابت A او B لری داسی لیکلی شو:

$$x = A\cos(\omega t) + B\sin(\omega t) \qquad (9\text{-}10)$$

د معادلی 9.10 مشتق چټکتیا (سرعت) راکوي:

$$\dot{x} = -A\,\omega\sin(\omega t) + B\,\omega\cos(\omega t) \qquad (9.11)$$

د معادلی 9.11 ثابت ارزش A او B د سیستم حالت په شروع د بیځایه کیدو کی (t=0) پیدا کوو:

$$t = t_0$$

$$x = x_0 \qquad (9.12)$$

$$\dot{x} = v_0$$

کله چی دا ارزښتونه په معادلی 9.10 او 9.11 کی ځای په ځای شی:

$$
\begin{aligned} A &= x_0 \\ B\omega &= v_0 \end{aligned} \qquad (9.13)
$$

معادلی 9-13 په 9-10 کی ځای په ځای کوو، او حاصل يي دا لاندی معادله کيږی:

$$
x = y_0 \cos t\,(\omega t) + \frac{v_0}{\omega} \sin\,(\omega t) \qquad (9.14)
$$

معادله 9-14 د کتلی بيځايه کيدلو موقعيت x پيدا کوی. که يو نا ښاپه بهرني لوړ چی نظر په وخت سره تغير مومي په سيستم پلی شی( انځور 9.3 سيستم ) په هره لحظه t کی يي موقعيت پيدا کيدای شی.

دا معادله داسی حرکت جوړه وی چی په نامه د هارمانيک (Harmonic) ياديږي او د ساين (sine) يا کوساين (cosine) پواسطه چی يوشان فريکونسی ولری ښودل کيدای شي. او پيريود (period) د حرکت عبارت دی :

$$
\begin{aligned} \omega T &= 2\pi \\ T &= \frac{2\pi}{\omega} \end{aligned} \qquad (9.15)
$$




**انځور9.4 د يو سيستم پيريود**

معکوس د پیریود نچرل فریکونسی ده

$$f = \frac{1}{T} \qquad (9.16)$$

نچرل فریکونسی (f) واحد یی هرتز (hertz) یا سایکل په هره ثانیه (cps) کی دی. په معادله (9.15) f او فریکونسی ω له یو بل په اندازه د (2π) فرق لری. f په نامه د نچرل فریکونسی ( natural frequency) یادیری. ω په نامه د دورانی یا زاویه وی نچرل فریکونسی بلل کیږی او واحد د دواړو هم فرق لری. د نچرل فریکونسی واحد سایکل په ثانیه کی (cps) دی او د دورانی فریکونسی (ω) واحد ریدین په ثانیه (rad/sec) کی دی.

## 9.2 اول مثال

ددی لاندی کانتیلیور بیم سیستم نچرل فریکونسی پیدا کوو.




**انځور 9.4 بیم یو وزن W په فنر تړلي**

لدی لاندی ارزښتونو او فورمول کار اخلو:

$$\omega = \sqrt{k_e/m}$$

د کنتیلیور بیم چی یو بهرنی لوډ چی په څنډه يي پلی شوی وی بيځايه کيدنه يي پدی لاندی فورمول پيدا کيږی:

$$\Delta = PL^3/(3EI)$$

په دی فورمول کی P بهرنی لوډ ، L د بیم اوږدوالی او E د موادو ایلستیک ماجولس او I د مقطع د انرشيا مؤمنت دی.

$$E\ steel = 20e6\ N/cm^2$$

د فولادی اوسپنی ایلستیک ماجولس

د ځمکی تعجیل g دی $g = 981\ cm/sec^2$

د آسانتيا لپاری ټول محاسبات په دی لاندی جدول کی ښودل شوي:

جدول 9.0 د نچرل فريکونسی پيدا کول

| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ارتجایت ماجولس | بیم اوږدوالی | بیم مقع ارتفاع | د بیم مقطع | وزن (نیوتن) | کتله (ماس) | انرشا یزه مؤمنت | د فنر ثابت عد د |
| $E\ (N/cm^2)$ | L (cm) | h (cm) | b (cm) | W | m = W/g | $I = (1/12)\ (bh^3)$ | $k_s$ |
| 2.00E+07 | 50 | 2 | 0.5 | 200 | 0.204 | 0.333 | 20 |
| | | | | | | | |

| 9 | 10 | 11 | 12 | 13 |
|---|---|---|---|---|
| د بیم سپرینګ ثابت ارزشت | د سپرینګ برابر ثابت ارزشت | د سپرینګ سیستم ثابت عدد | دورانی فریکونسی | ناچرل فریکونسی |
| $k_b = P/\Delta = (3EI)/(L^3)$ | $k_e = 1/(k_s) + (1/k_b)$ | $k_{system} = 1/k_e$ | $\omega\ (rps) = (k/m)^{1/2}$ | $f\ (cps) = (\omega/2\pi)$ |
| 1.60E+02 | 5.63E-02 | 1.78E+01 | 9.34E+00 | 1.49E+00 |
| | | | | |

## 9.3 دوهم مثال

ددی لاندی فریم نچرل فریکونسی پیدا کوو. دا یو سخت (rigid) د اوسپنی فریم دی او یو افقی ډینامیکی قوه وربانډی عمل کړی. د کا لمونو او دیوالونو وزن نظر فرش ته ډیر لږ دی او کیدای شی چی حساب یی نکړو. او هم فرش په تړلشویو ځایو د ستني سره پدی اندازه سخت دی چی دورانی (کرزنده)حرکت په جوینت کی نه راولي.




(9.5 a) ایدیالایزیشن د فریم او کالمونو




**انځور 9.5 فریم چی یوه قوه F(t) وربانډی عمل کړی**

د توازن او د نیوټن دوهم قانون په اساس انځور (9.5a) داسی لیکلی شو:

$$F(t) - kx = m\ddot{x}$$

$$F(t) - kx - m\ddot{x} = 0 \qquad (9.16)$$

د آسانتیا لپاره د نچرل فریکونسی پیدا کولو ټول محاسبات په دی لاندی جدول کی بنودل شوي:

جدول 9.1 د نچرل فریکونسی پیدا کول

| ١ | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|
| د ارتجایت ماجولس | د کالم ارتفاع | وزن (نیوتن) | کتله (ماس) | انرشا یزه مؤمنت |
| E ($N/cm^2$) | h (cm) | W (N) | m = W/g | I ($cm^4$) <1> |
| 2.00E+07 | 500 | 150,000 | 152.91 | 2,330 |

| 6 | 7 | 8 | 9 |
|---|---|---|---|
| د سپرینګ ثابت عدد | ټول فریم سپرینګ ثابت ارزښت | دورانی فریکونسی | ناچرل فریکونسی |
| $k_{s\ (N/cm))}$ =(12E (2I)/($L^3$) <2> | $k_{system} = k_s$ | ω (rps) =$(k/m)^{1/2}$ | f (cps) =(ω/2π) |
| 8.95E+03 | 8.95E+03 | 7.65E+00 | 1.22E+00 |
| | | | |

> دوی ستنيي دی له دی خاطره انرشيا مؤمنت ضرب د دوو شوی

<2> په آخره څنډه د یو کالم چې بله خوا يي فيکسډ وی د یو واحد بيځايه کيدنه اړين قوه عبارت ده له ($12EI/h^3$).
معادله 9.16 د ديفرينشل معادله ده ، کله چې بهرنی لوډ F(t) او دشروع حالت د سيستم معلوم وی د فريم بيځايه کيدنه په هره لحظه د وخت کی پيدا کيدی شی.

## 9.3.1 د نوميريکل انتيګريشن لنډه پيژندنه

دلته لنډه پيژندنه د نوميريکل انتيګريشن وړاندی کوو:

نوميريکل انتيګريشن يوه عمليه ده چې د وخت په شيبو کی د ديفرينشل معادله حل پيدا کوی. کله چې فاصله تابع د وخت وی له اولی شيبی تر پایه په هره شيبه کی فاصله او چټکتيا پيدا کيدای شی او د ديفرينشل معادله حليږی . د نومريکل انتيګريشن ډيری عمليی شته او دلته يو طريقه وړاندی کيږی. د فزيک له هغو اساساتو او ټرونو چی فاصله ، وخت او تعجيل يو بل سره لري ګټه اخيستل شوي.

فاصله تابع د وخت ده . او وخت (t) په جلا وقفو يا شيبو ويشل کيږی اود فاصلی پيداکول له يوی وقفی تر بلی وقفی پوری پرمختګ کوی. د مثال په توګه فاصله x داسی بنودل کيږي:




که چیرې فاصله ($x_p$) د وقفې یا شیبې په محل p او $x_{(p-1)}$ فاصله په مخکني تیر شوي شیبه (p-1) کې پیدا شوې وي. پدې حالت کې تعجیل ($\ddot{x}$) د وخت په وقفه محل (p) کې د فاصلې له معادلې (9.16) پیدا کولای شو.

مخ په وړاندې راتلونکې بله شیبه کې فاصله پدې لاندې ډول پیدا کیدای شي:

$$x^{(p+1)} = x^{(p)} + (\dot{x}_{av})\,\Delta t \qquad (9.17)$$

په معادله (9.17) کې ($\dot{x}_{av}$) اوسط چټکتیا (average velocity ) په بین دې شیبه (p) او (p+1) او ($\Delta t$) د وخت د شیبې ارزښت دی. او اوسط چټکتیا داسې پیدا کیدی شي:

$$\dot{x}_{av} = \frac{x^{(p)} - x^{(p-1)}}{\Delta t} + \ddot{x}^{(p)}(\Delta t) \qquad (9.18)$$

اول حصه په معادله (9.18) اوسط چټکتیا په بین د (p) او (p-1) کې ده. دوهم حصه زیات والی د چټکتیا په دې دواړو وقفو کیدی. البته دا فرض شوی چې تعجیل اوسط تعجیل په بین د دو شیبو کې دی.

کله چې معادله (9.18) په (9.17) کې ځای په ځای کړو لیکلی شو:

$$x^{(p+1)} = 2x^{(p)} - x^{(p-1)} + \ddot{x}^{(p)}(\Delta t)^2 \qquad (9.19)$$

په معادله (9.19) د راتلونکی ستیشن یا شیبی فاصله پیدا کولای شو. له معادلی (9.16) د $\ddot{x}\ (p)$ ارزښت پیدا کولای شو ځکله $x^{(p)}$ پخوا معلوم شوی او قوه F(t) هم معلومه ده.

د اولی شیبی لپاره کله چی t=0 او د $x^{(p-1)}$ ارزښت شتون نلری فاصله پیدا کولو لپاره دا لاندی معادله پکاریږی:

$$x^{(1)} = 1/6(2\ddot{x}^{(0)} + \ddot{x}^{(1)})(\Delta t)^2 \qquad (9.20)$$

که چیری تعجیل په شیبه t=0 کی صفر نه وی له لاندی معادلی 9.21 د کاروااخیستل شی . او وروسته شیبو لپاره هم له دی لاندی معادلی ګټه اخیستل کیدی شی. او که چیری په t=0 تعجیل صفر وی 9.20 باید استعمال شی. تعجیل د لمړی ځل لپاره کیدی شی چی ثابت او مساوی په اول ارزښت وګنل شي. او د وروسته وقفو لپاره دا لاندی معادله په کار ده.

$$x^{(1)} = 1/2(\ddot{x}^{(0)})(\Delta t)^2 \qquad (9.21)$$

دا عملیه په اول کی لږ څه پیچلي معلومیږی اما له پرکتس سره ستونزی کمیږی.

دا لاندی مثال ګورو:

## 9.3.2 دریم مثال

د دوهم مثال ډینامیک قوه F(t) چی پروفایل یی پدی لاندی انځور کی ښودل شوی په جوړښت یي عمل کړي غواړو چی د فریم بیځایه کید نه یا خوځیدل تابع د وخت د بهرني ډینامیک لوډ په پلی کیدو پیدا کړو.




**انځور 9.6 د دینامیک بهرنی لوډ پریوفایل چی په فریم یي عمل کړی**




**انځور 9.5 فریم چی یوه قوه F(t) وربانډی عمل کړی**

فریم جوړښت چی ایدیالایزیشن یي په انځور (9.5a) کی ښودل شوي مشخصات یي پدی لاندی ډول دی:

$K$ =8,950 n/cm

m = w/g = 15.3

f = 3.85 cps

T =2π$\sqrt{W/kg}$

T = 1/f = 1/3.85) = 0.259

1/10(T )= 0.0259

د وخت شیبه د انتیګریشن لپاره = 0.025 sec

جدول 9.1 د نچرل فریکونسی پیدا کول

| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|
| د ارتجایت ماجولس | د کالم ارتفاع | وزن (نیوتن) | کتله (ماس) | انرشا یزه مؤمنت |
| E ($N/cm^2$) | h (cm) | W (N) | m = W/g | I ($cm^4$) <1> |
| 2.00E+07 | 500 | 15,000 | 15.29 | 2,330.00 |
| | | | | |

| 6 | 7 | 8 | 9 |
|---|---|---|---|
| د فنر ثابت عدد | دکاتم فنری ثابت ارزشت | دورانی فریکونسی | **ناچرل فریکونسی** |
| $k_{s\ (N/cm))}$ =(12E (2I)/($L^3$) <2> | $k_{system} = k_s$ | ω (rps) | f (cps) |
| 8.95E+03 | 8.95E+03 | 2.42E+01 | 3.85E+00 |
| | | | |

د هری شیبی ارزښت به یو پر لسم د پیریود (period) تخمین کړو، او هغه عبارت دی په (0.025) .
د نیوتن دوهم قانون په اساس دا لاندي لیکلی شو:

$$F(t) - kx - m\ddot{x} = 0$$

$$F(t) - 8950x - 15.3\ddot{x} = 0$$

$$\ddot{x} = (1/15.3)\,F(t) - 585x \qquad (9.22\ A)$$

په معادله 9.22A کی (1/15.3)F(t) شته او د هغه ارزښت له بهرنی ډینامیک لوډ دایګرام نه پیدا کوو او هغه پدی لاند جدول کی بنودل شوی:

جدول 9.4 د بهرني ډیناميک لوډ ارزښتونه

| د بهرنی لوډ ارزشتونه د لوډ له پروفایل په ټاکل شویو شیبو کی | | | (1/15.3)F(t) $cm/sec^2$ |
|---|---|---|---|
| t (sec) | (1600t+200) | ( -4000t +900) | |
| 0.000 | 200 | | 13.000 |
| 0.025 | 240 | | 15.600 |
| 0.050 | 280 | | 18.200 |
| 0.075 | 320 | | 20.800 |
| 0.100 | 360 | | 23.400 |
| 0.125 | 400 | 400 | 26.000 |
| 0.150 | | 300 | 19.500 |
| 0.175 | | 200 | 13.000 |
| 0.200 | | 200 | 13.000 |
| 0.225 | | 200 | 13.000 |
| 0.250 | | 200 | 13.000 |
| 0.275 | | 200 | 13.000 |
| 0.300 | | 200 | 13.000 |
| 0.325 | | 200 | 13.000 |
| 0.350 | | 200 | 13.000 |
| 0.375 | | 200 | 13.000 |
| 0.400 | | 200 | 13.000 |
| 0.425 | | 200 | 13.000 |
| 0.450 | | 200 | 13.000 |
| 0.475 | | 200 | 13.000 |
| 0.500 | | 200 | 13.000 |
| 0.525 | | 200 | 13.000 |
| 0.550 | | 200 | 13.000 |
| 0.575 | | 200 | 13.000 |
| 0.600 | | 200 | 13.000 |

د مثال په توګه په شیبه 0.125 = $(\Delta t)$ کی (1/15.3)F(t) مساوی دی په $26.0\ cm/sec^2$ ، او په شیبه ( 0.20sec) کی (1/15.3)F(t) مساوی دی په $13.00\ cm/sec^2$ . پدی اساس د ټولو وقفو یا شیبو تر پایه ارزښتونه پیدا کیدی شی. پدی مثال کی به تر 1.0 sec د جوړښت خوځیدل په ټولو شیبو کی پیدا کړو، او پایلی به یي په یوه ګراف کی وښودل شي. په لاندی یو بل جدول 9.5 کی د معادلی 9.22A ټول ارزښتونه له شروع تر آخر وخت چی 1.0sec ټاکل شوی ځای په ځای کوو.

شروع کوو له وخت (t =0) :

په معادله 9.22A کی د 585x ارزښت د هری شیبی ( Δt ) لپاره په پنځم کالم د جدول کی ځای په ځای کوو.

په شیبه (Δt=0) کی فاصله (x =0) صفر ده. د هری شیبي ارزښت (T/10) یو په لسم د پیریود نیول شوي.




د تعجیل $\ddot{x}$ ارزښت له معادلی 9.22A پدی لاندی ډول پیدا کیږی:

$$\ddot{x} = (1/15.3)\,F(t) - 585x = (1/15.3)\,F(t) - 0 = 13.0\ \text{cm/sec}^2$$

د $\ddot{x}\,(\Delta t)2$ ارزښت په اوم کالم کی ځای په ځای کوو.

$$\ddot{x}^{(0)}(\Delta t)^2 = 13.0(0.025)^2 = 0.00813$$

فاصلی x ارزښت په څلورم کالم کی لیکو. او دا ارزښت په شیبه t=0 کی صفر دی.

شیبه t=0.025 :

د تیر شوی شیبی په شان ټول ارزښتونه پیدا کوو.



شیبه p د t = 0.025 sec ستیشن دی. وقفه p-1 t= 0.0 sec ستیشن شتون نلری. او وقفه p+1 ستیشن t= 0.05 sec کیږی.

د (1/15.3) F(t) ارزښت د بهرني ډینامیک لوډ (جدول 8.4 ) له دایگرام چی په دریم کالم کی لیکل شوی مساوی دی په $15.60\ cm/sec^2$

د 585x ارزښت :

x ارزښت له معادلی 9.21 کار اخلو:

$$x^{(p)} = 1/2(\ddot{x}^{(0)})(\Delta t)^2$$

$$x^{(p)} = 1/2(\ddot{x}^{(0)})(\Delta t)^2 = ½(13)(0.025)^2 = 0.0041$$

$$585x = 585\,(0.0041) = 2.377$$

د $\ddot{x}$ ارزښت:

له معادله 9.22A کار اخلو

$$\ddot{x} = (1/15.3)\,F(t) - 585x = 15.60 - 2.377 = 13.223$$

د $\ddot{x}\,(\Delta t)^2$ ارزښت:

$$\ddot{x}\,(\Delta t)^2 = 13.223(0.025)^2 = 0.00826$$

شیبه t=0.025+0.025= 0.05 :

د تیر شوی شیبی په شان تول ارزښتونه پیدا کوو.




شیبه p د t = 0.05 sec ستیشن دی. شیبه p-1 t=0.025 sec ستیشن دی. او شیبه p+1 ستیشن t= 0.075 sec کیږی.

د (1/15.3) F(t) ارزښت د بهرني ډینامیک لوډ له دایګرام چی په دریم کالم کی لیکل شوی مساوی دی په $18.20\ cm/sec^2$ .

د 585x ارزښت

x ارزښت پیدا کولو لپاره له معادلی 9.19 کار اخلو: (پدی معادله کی $(x^p)$ د تیر شوي شیبی (t=0.025) ارزښت دی)

$$x^{(p+1)} = 2x^{(p)} - x^{(p-1)} + \ddot{x}^{(p)}(\Delta t)^2 = 2(0.0041) - 0 + (13.223)(0.025)^2 = 0.0164$$

$$585(x) = 585(0.0164) = 9.59$$

د $\ddot{x}$ ارزښت لپاره له معادلی 9.22A کار اخلو

$$\ddot{x} = (1/15.3)\, F(t) - 585x = 18.2 - 9.588 = 8.612$$

د $\ddot{x}\,(\Delta t)^2$ ارزښت

$$\ddot{x}\ (\Delta t)^2 = (8.612)(0.025)^2 = 0.00538$$

شیبه  t=0.05+0.025=0.075 :

د تیر شوی شیبی په شان ټول ارزښتونه پیدا کوو.

شیبه  p  د  t = 0.075sec ستیشن دی. وقفه  p-1  t=0.05sec ستیشن دی.  او وقفه   p+1 ستیشن t= 0.10 sec  کیږی.

د  F(t) (1/13.5)  ارزښت د بهرني ډینامیک لوډ له دایګرام چی په څلورم کالم کی لیکل شوی مساوی دی په $20.80\ cm/sec^2$

د 585x  ارزښت

x ارزښت پیدا کولو لپاره له معادلی 9.19 کار اخلو: (پدی معادله کی ($x^p$) د تیر شو شیبی (t=0.05 ارزښت حساب کیږی)

$x^{(p+1)} = 2x^{(p)} - x^{(p-1)} + \ddot{x}^{(p)}(\Delta t)^2 = 2(0.0164) - 0.0041 + (0.00538) = 0.0341$
$585(x) = 585(0.0341) = 19.948$

د $\ddot{x}$ ارزښت.   معادله  9.22A کار اخلو

$$\ddot{x} = (1/15.3)\ F(t) - 585x = 20.8 - 19.948 = 0.852$$

د $\ddot{x}\ (\Delta t)^2$ ارزښت:

$$\ddot{x}\ (\Delta t)^2 = 0.852(0.025)^2 = 0.00053$$

شیبه  t=0.075 +0.025=0.10

د تیر شوی شیبی په شان ټول ارزښتونه پیدا کوو.

وقفه p د t = 0.10 sec ستیشن دی. وقفه p-1 t=0.075sec ستیشن دی او وقفه p+1 ستیشن t=0.125 sec کیږی.

د F(t) (1/15.3) ارزښت د بهرني ډینامیک لوډ له دایګرام چی په دوهم کالم کی لیکل شوی مساوی دی په 23.40 cm/sec$^2$

د 585x ارزښت : د x ارزښت پیداکولو لپاره له معادل 9.19 کار اخلو: (پدی معادله کی ($x^p$) د تیر شوی شیبی (t=0.075) ارزښت دی

$$x^{(p+1)} = 2x^{(p)} - x^{(p-1)} + \ddot{x}^{(p)}(\Delta t)^2$$

$= 2(0.0341) - 0.0164 + (0.00053) = 0.0523$

$585(0.0523) = 30.62$

پدی شان ټول ارزښتونه په لاندی جدول کی ځای په ځای شوی.

د فریم خوځیدل ، فاصله او تعجیل د بهرني ډینامیک لوډ له امله د وخت په شیبو کی

جدول 9.5 د فریم خوځیدل د وخت تابع دی

| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| t (sec) | F(t) | 0.0654F(t) cm/sec$^2$ | x (cm) | 585x cm/sec$^2$ | $\ddot{x}$ cm/sec$^2$ | $\ddot{x}(\Delta t)^2$ cm/sec$^2$ |
| 0.000 | 200 | 13.000 | 0.0000 | 0.000 | 13.000 | 0.00813 |
| 0.025 | 240 | 15.600 | 0.0041 | 2.377 | 13.223 | 0.00826 |
| 0.050 | 280 | 18.200 | 0.0164 | 9.588 | 8.612 | 0.00538 |
| 0.075 | 320 | 20.800 | 0.0341 | 19.948 | 0.852 | 0.00053 |
| 0.100 | 360 | 23.400 | 0.0523 | 30.620 | -7.220 | -0.00451 |
| 0.125 | 400 | 26.000 | 0.0661 | 38.652 | -12.652 | -0.00791 |
| 0.150 | 300 | 19.500 | 0.0719 | 42.058 | -22.558 | -0.01410 |
| 0.175 | 200 | 13.000 | 0.0636 | 37.216 | -24.216 | -0.01514 |
| 0.200 | 200 | 13.000 | 0.0402 | 23.521 | -10.521 | -0.00658 |
| 0.225 | 200 | 13.000 | 0.0102 | 5.978 | 7.022 | 0.00439 |
| 0.250 | 200 | 13.000 | -0.0154 | -8.997 | 21.997 | 0.01375 |
| 0.275 | 200 | 13.000 | -0.0272 | -15.929 | 28.929 | 0.01808 |
| 0.300 | 200 | 13.000 | -0.0210 | -12.284 | 25.284 | 0.01580 |
| 0.325 | 200 | 13.000 | 0.0010 | 0.605 | 12.395 | 0.00775 |
| 0.350 | 200 | 13.000 | 0.0308 | 18.026 | -5.026 | -0.00314 |
| 0.375 | 200 | 13.000 | 0.0575 | 33.610 | -20.610 | -0.01288 |
| 0.400 | 200 | 13.000 | 0.0712 | 41.658 | -28.658 | -0.01791 |
| 0.425 | 200 | 13.000 | 0.0671 | 39.228 | -26.228 | -0.01639 |
| 0.450 | 200 | 13.000 | 0.0465 | 27.208 | -14.208 | -0.00888 |
| 0.475 | 200 | 13.000 | 0.0171 | 9.994 | 3.006 | 0.00188 |
| 0.500 | 200 | 13.000 | -0.0105 | -6.121 | 19.121 | 0.01195 |
| 0.525 | 200 | 13.000 | -0.0261 | -15.245 | 28.245 | 0.01765 |
| 0.550 | 200 | 13.000 | -0.0240 | -14.042 | 27.042 | 0.01690 |
| 0.575 | 200 | 13.000 | -0.0050 | -2.952 | 15.952 | 0.00997 |
| 0.600 | 200 | 13.000 | 0.0239 | 13.971 | -0.971 | -0.00061 |
| 0.625 | 200 | 13.000 | 0.0522 | 30.539 | -17.539 | -0.01096 |
| 0.650 | 200 | 13.000 | 0.0696 | 40.694 | -27.694 | -0.01731 |
| 0.675 | 200 | 13.000 | 0.0696 | 40.724 | -27.724 | -0.01733 |
| 0.700 | 200 | 13.000 | 0.0523 | 30.617 | -17.617 | -0.01101 |
| 0.725 | 200 | 13.000 | 0.0240 | 14.069 | -1.069 | -0.00067 |
| 0.750 | 200 | 13.000 | -0.0049 | -2.870 | 15.870 | 0.00992 |
| 0.775 | 200 | 13.000 | -0.0239 | -14.006 | 27.006 | 0.01688 |
| 0.800 | 200 | 13.000 | -0.0261 | -15.268 | 28.268 | 0.01767 |
| 0.825 | 200 | 13.000 | -0.0106 | -6.195 | 19.195 | 0.01200 |
| 0.850 | 200 | 13.000 | 0.0169 | 9.897 | 3.103 | 0.00194 |
| 0.875 | 200 | 13.000 | 0.0464 | 27.123 | -14.123 | -0.00883 |
| 0.900 | 200 | 13.000 | 0.0670 | 39.186 | -26.186 | -0.01637 |
| 0.925 | 200 | 13.000 | 0.0712 | 41.674 | -28.674 | -0.01792 |
| 0.950 | 200 | 13.000 | 0.0576 | 33.678 | -20.678 | -0.01292 |
| 0.975 | 200 | 13.000 | 0.0310 | 18.122 | -5.122 | -0.00320 |
| 1.000 | 200 | 13.000 | 0.0012 | 0.693 | 12.307 | 0.00769 |




**انځور 9.7 د فریم خوځیدل د ډینامیک بهرنی لوډ له امله په هره شیبه د وخت کی**

اعظمي بیځایه کیدنه د فریم په وقفه یا شیبه 0.15 ثانیو کی ده او مساوی دی په 643N ډینامیک قوه چی په فریم یی پلی کوی. دا قوه 1.61 د ستاتیک لوډ (400N) ده. پرلپسی پیک د منحني یو شان دی ځکه ډمپینګ (Damping) مو په جوړښت کی په نظر کی نه دی نیولي.

## 9. 4 دوهمه درجه ایلستیک سیستمونه

ددوهمی درجی ایلستیک سیستمونو ډینامیک تحلیل د یو درجی ایلستیک سیستم په شان دی. په دوه درجه سیستم کی دوه پرامتر (parameters) نه یا خوځیدل په کار دی. په انځور کی وینودوه مجهولو یا دوي خوځیدنی $x_1$ او $x_2$ په کار دی چی د سیستم خوځیدل د وخت تابع معلوم کړو.




**انځور 9.8a د وو کتلو سیستم ایدیالایزیشن**




انځور 9.8b لوډونه په هره کتله

**انځور 9.8 د وهم درجه سیستم**

په دی پورتنی انځور کی وینو دوو پرامیټرو خوځیدل د دوو کتلو (masses) په $x_1$ او $x_2$ سره ښودل شوی. پدی سیستم کی د کتلو ارزښت، د سپرینګونو ثابت عدد او بهرنی لوډونو معلومول پرامیټرونه دی.

## 9.4.1 د دوهمی درجی ایلستیک سیستمونو معادلی

هره کتله باید په ستاتیک او ډینامیک توازن کی وی. په هره کتله دری ډوله قواوی شتون لری. اول د سپرینګ داخلی قوه، دوهم د انرشیاي قوه او دریم بهرنی قوه. انرشیاي قوا همیشه مخالف د کتلی د خوځیدو د جهت وی.

$$-(K_1x_1 + M_1\ddot{x}_1) + F_1(t) + K_2(x_2 - x_1) = 0$$ توازن د کتلی $M_1$

$$-((K_2(x_2 - x_1) - M_2\ddot{x}_2) + F_2(t) = 0$$ توازن د کتلی $M_2$

$$F_1(t) = (K_1x_1 + M_1\ddot{x}_1) - K_2(x_2 - x_1) = 0$$ توازن د کتلی $M_1$

$$F_2(t) = (K_2(x_2 - x_1) + M_2\ddot{x}_2)$$ توازن د کتلی $M_2$

حلول ددی دوو درجی معادلو د نومریکل انتیګریشن په طریقه د یوی درجی سیستم په شان دی. کله چی دا پورتنی دوی معادلی حل شی د خوځیدو د وخت تفاوت د هری کتلی معلومیدی شی.

مثال: په دی لاندی فریم دوه ډینامیک قواوی جی تابع د وخت دی عمل يي کړی. غواړو د بهرني لوډونو اغیزه په فریم پیدا کړو.




**انځور 9.9 د وه پوړیزه جوړښت**




**انځور 9.9a د وه پوړیزه جوړښت ایدیالایزیشن**

د ستني وزنونه لړ او په تحلیل کی ارزښت نلري. د سپرینګونو (springs) ثابت عددونه پدی ډول دي:

$$W_1 = 3000N/m \times 15m = 45,000\ N$$

$$W_2 = 1500N/m \times 15m = 22,500\ N$$

د هر کالم انرشیای مؤمنت $= 2000\ cm^4$

$$k_1 = \frac{12EI}{h^3}$$

$K_1 = 76{,}800$ n/cm

$K_2 = 44{,}444$ n/cm

$M_1 = W_1/g = 46$

$M_2 = W_2/g = 23$

$$F_1(t) = k_1x_1 + m_1\ddot{x}_1 - k_2(x_2 - x_1)$$

$$F_2(t) = k_2(x_2 - x_1) + m_2\ddot{x}_2$$

$$\ddot{x}_1 = (1/m_1)[F_1(t) - k_1x_1 + k_2(x_2 - x_1)]$$

$$\ddot{x}_2 = (1/m_2)[F_2(t) - k_2(x_2 - x_1)]$$

$$\left.\begin{aligned} \ddot{x}_1 &= +969(x_2 - x_1) + 1.09 - 1674x_1 \\ \ddot{x}_2 &= 4.36 - 1938(x_2 - x_1) \end{aligned}\right\} \quad (9.23)$$

بهرنی لوډ چی پدی فریم يي عمل کړی عبارت دی په:

$F_1(t) = 50$ N

$F_2(t) = 100$ N

| | M | k | g | T |
|---|---|---|---|---|
| 1 | 46 | 76,800 | 981 | 0.15 |
| 2 | 23 | 44,444 | 981 | 0.14 |

**$\Delta t = 1/10T = 0.01$**

معادله (9.23) د اینتیگرشن معادلی دی او دلته له نومریکل انتیکرشن له طریقی د حل لپاره کار اخلو.

شروع کوو له وخت (t =0) :

په معادله 9.23 کی د $969(x_2-x_1)$ ارزښت د هری شیبی ( Δt ) لپاره په څلورم کالم او د ($1939(x_2-x_1)$) په نهم کالم د جدول کی ځای په ځای کوو.

په شیبه (Δt=0) کی فاصله (x =0) صفر ده.




د تعجیل $\ddot{x}$ ارزښت له معادلی 9.23 پدی لاندی ډول پیدا کیږی:

$$\ddot{x}_2 = 4.36 - 1938(x_2 - x_1) = 4.36$$

د $\ddot{x}\,(\Delta t)^2$ ارزشت.

$$4.36(0.01)^2 = 0.000436$$

د فاصلی $x_2$ ارزښت عبارت دی

$x_2 = 1/2(\ddot{x}_2)(\Delta t)^2$

$x^{(p)} = 1/2(\ddot{x}_2^{(0)})(\Delta t)^2 = ½(4.36)(0.010)^2 = 0.000218$

$\ddot{x}_1 = +969(x_2 - x_1) + 1.09 - 1674x_1$ ]

$\ddot{x}_1 = 1.30$

$x_1 = 1/6(2x + \ddot{x}_1)(\Delta t)^2$

$x_1 = 1/6(0 + 1.284)(0.01)^2 = 0.00002$

t= 0.02 sec

$x_1 = 2(\boldsymbol{x^p} - \boldsymbol{x}^{(p-1)} + \ddot{x}^p(\Delta t)^2 = 2(0.00002) - 0 + 1.3(0.010)^2 = 0.00017$

$x_2 = 2(\boldsymbol{x^p} - \boldsymbol{x}^{(p-1)} + \ddot{x}^p(\Delta t)^2$

$\ddot{x}_1 = +969(x_2 - x_1) + 1.09 - 1674x_1$ ]

د نورو ارزښتونو لپاره لاندی جدول وګوري

| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **t (sec)** | **$x_1$** | **$1674x_1$** | $969(x_2-x_1)$ cm/sec$^2$ | $\ddot{x}_1$ | $\ddot{x}_1(\Delta t)^2$ | $x_2$ | $x_2-x_1$ | $1938(x_2-x_1)$ | $\ddot{x}_2$ | $\ddot{x}_2(\Delta t)^2$ |
| 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0 | 0.0000 | 0.000 | 0 | 0.0000 | 0 | 4.36 | 0.000436 |
| 0.010 | 0.00002 | 0.000 | 0.211 | 1.3012 | 0.0001 | 0.000218 | 0.0002 | 0.380 | 3.98 | 0.0004 |
| 0.020 | 0.0002 | 0.290 | 0.640 | 0.3495 | 0.00003 | 0.0008 | 0.0007 | 1.280 | 3.08 | 0.0003 |
| 0.030 | 0.0004 | 0.603 | 1.354 | 0.7512 | 0.00008 | 0.0018 | 0.0014 | 2.709 | 1.65 | 0.0002 |
| 0.040 | 0.0006 | 1.041 | 2.156 | 1.1144 | 0.00011 | 0.0028 | 0.0022 | 4.312 | 0.05 | 0.0000 |
| 0.050 | 0.0010 | 1.666 | 2.854 | 1.1877 | 0.00012 | 0.0039 | 0.0029 | 5.708 | -1.35 | -0.0001 |
| 0.060 | 0.0015 | 2.490 | 3.307 | 0.8164 | 0.00008 | 0.0049 | 0.0034 | 6.613 | -2.25 | -0.0002 |
| 0.070 | 0.0021 | 3.451 | 3.462 | 0.0111 | 0.00000 | 0.0056 | 0.0036 | 6.923 | -2.56 | -0.0003 |
| 0.080 | 0.0026 | 4.413 | 3.367 | -1.0457 | -0.00010 | 0.0061 | 0.0035 | 6.735 | -2.37 | -0.0002 |
| 0.090 | 0.0031 | 5.200 | 3.144 | -2.0561 | -0.00021 | 0.0064 | 0.0032 | 6.288 | -1.93 | -0.0002 |
| 0.100 | 0.0034 | 5.643 | 2.933 | -2.7099 | -0.00027 | 0.0064 | 0.0030 | 5.867 | -1.51 | -0.0002 |
| 0.110 | 0.0034 | 5.633 | 2.839 | -2.7936 | -0.00028 | 0.0063 | 0.0029 | 5.678 | -1.32 | -0.0001 |
| 0.120 | 0.0031 | 5.154 | 2.888 | -2.2666 | -0.00023 | 0.0061 | 0.0030 | 5.776 | -1.42 | -0.0001 |
| 0.130 | 0.0026 | 4.297 | 3.019 | -1.2777 | -0.00013 | 0.0057 | 0.0031 | 6.038 | -1.68 | -0.0002 |
| 0.140 | 0.0019 | 3.225 | 3.111 | -0.1138 | -0.00001 | 0.0051 | 0.0032 | 6.223 | -1.86 | -0.0002 |
| 0.150 | 0.0013 | 2.135 | 3.034 | 0.8997 | 0.00009 | 0.0044 | 0.0031 | 6.069 | -1.71 | -0.0002 |
| 0.160 | 0.0007 | 1.195 | 2.705 | 1.5098 | 0.00015 | 0.0035 | 0.0028 | 5.409 | -1.05 | -0.0001 |
| 0.170 | 0.0003 | 0.507 | 2.127 | 1.6192 | 0.00016 | 0.0025 | 0.0022 | 4.253 | 0.11 | 0.0000 |
| 0.180 | 0.0001 | 0.091 | 1.402 | 1.3110 | 0.00013 | 0.0015 | 0.0014 | 2.805 | 1.56 | 0.0002 |
| 0.190 | -0.0001 | -0.105 | 0.702 | 0.8070 | 0.00008 | 0.0007 | 0.0007 | 1.403 | 2.96 | 0.0003 |
| 0.200 | -0.0001 | -0.167 | 0.209 | 0.3762 | 0.00004 | 0.0001 | 0.0002 | 0.418 | 3.94 | 0.0004 |
| 0.210 | -0.0001 | -0.166 | 0.062 | 0.2279 | 0.00002 | 0.0000 | 0.0001 | 0.125 | 4.24 | 0.0004 |
| 0.220 | -0.0001 | -0.126 | 0.304 | 0.4298 | 0.00004 | 0.0002 | 0.0003 | 0.607 | 3.75 | 0.0004 |
| 0.230 | 0.0000 | -0.015 | 0.867 | 0.8817 | 0.00009 | 0.0009 | 0.0009 | 1.734 | 2.63 | 0.0003 |
| 0.240 | 0.0001 | 0.244 | 1.599 | 1.3551 | 0.00014 | 0.0018 | 0.0017 | 3.199 | 1.16 | 0.0001 |
| 0.250 | 0.0004 | 0.730 | 2.313 | 1.5827 | 0.00016 | 0.0028 | 0.0024 | 4.626 | -0.27 | 0.0000 |
| 0.260 | 0.0009 | 1.481 | 2.847 | 1.3663 | 0.00014 | 0.0038 | 0.0029 | 5.695 | -1.33 | -0.0001 |
| 0.270 | 0.0015 | 2.461 | 3.120 | 0.6594 | 0.00007 | 0.0047 | 0.0032 | 6.240 | -1.88 | -0.0002 |
| 0.280 | 0.0021 | 3.551 | 3.147 | -0.4040 | -0.00004 | 0.0054 | 0.0032 | 6.294 | -1.93 | -0.0002 |
| 0.290 | 0.0027 | 4.573 | 3.025 | -1.5480 | -0.00015 | 0.0059 | 0.0031 | 6.050 | -1.69 | -0.0002 |
| 0.300 | 0.0032 | 5.336 | 2.890 | -2.4466 | -0.00024 | 0.0062 | 0.0030 | 5.779 | -1.42 | -0.0001 |
| 0.310 | 0.0034 | 5.690 | 2.854 | -2.8361 | -0.00028 | 0.0063 | 0.0029 | 5.708 | -1.35 | -0.0001 |
| 0.320 | 0.0033 | 5.569 | 2.962 | -2.6067 | -0.00026 | 0.0064 | 0.0031 | 5.924 | -1.56 | -0.0002 |
| 0.330 | 0.0030 | 5.011 | 3.172 | -1.8398 | -0.00018 | 0.0063 | 0.0033 | 6.343 | -1.98 | -0.0002 |
| 0.340 | 0.0025 | 4.146 | 3.367 | -0.7789 | -0.00008 | 0.0060 | 0.0035 | 6.734 | -2.37 | -0.0002 |
| 0.350 | 0.0019 | 3.150 | 3.408 | 0.2579 | 0.00003 | 0.0054 | 0.0035 | 6.816 | -2.46 | -0.0002 |
| 0.360 | 0.0013 | 2.197 | 3.186 | 0.9885 | 0.00010 | 0.0046 | 0.0033 | 6.372 | -2.01 | -0.0002 |
| 0.370 | 0.0008 | 1.410 | 2.673 | 1.2629 | 0.00013 | 0.0036 | 0.0028 | 5.346 | -0.99 | -0.0001 |
| 0.380 | 0.0005 | 0.834 | 1.942 | 1.1080 | 0.00011 | 0.0025 | 0.0020 | 3.885 | 0.48 | 0.0000 |
| 0.390 | 0.0003 | 0.444 | 1.150 | 0.7063 | 0.00007 | 0.0015 | 0.0012 | 2.301 | 2.06 | 0.0002 |
| 0.400 | 0.0001 | 0.172 | 0.489 | 0.3175 | 0.00003 | 0.0006 | 0.0005 | 0.979 | 3.38 | 0.0003 |




**انځور 9.10 د د وه پوړیزه جوړښت خوځیدل د وخت تابع دی**

اعظمي بیځایه کید نه د فریم په وقفه یا شیبه 0.07 ثانیو کی ده او مساوی دی په 160N ډینامیک قوه چی په فریم پلی کوی. دا قوه 1.60 د ستاتیک لوډ (100N) ده. پرلپسی پیک د منحني یو شان دی ځکه ډمپینګ (Damping) په جوړښت کی په نظر کی نه دی نیول شوی.

## 9.5 ډمپینګ (Damping)

ډمپینګ د جوړښتونو داسی پدیده ده چی دجوړښت لړزیدونکي حرکت یا انرژي د ډینامیکی لوډ له امله وروړو تغیر او کمیږي. که چیری د بهرنی لوډ د پلی کیدو وخت لږ وی او غوښتنه تنها اعظمي اغیزه وی په هغه حالت کی د مپینګ تا ثیر يي د ارزښت وړ ندي.

د جوړښتونو تحلیل لپاره دمپینګ د ویسکس (viscous) نوعیت څخه متناسب او په مخالف لور چټکتیا (velocity) وي. فورمول يي پدی لاندی ډول دي:

$$-c\dot{x} = \text{ډمپینګ قوه} \qquad (9.24)$$

پدی معادله (9.24) کی (c) یو ثابت ارزښت دی او ( $\dot{x}$) د کتلی چټکتیا ده. د (c) ارزښت ترلی په کرتیکل ډمپینګ ($c_{cr}$) دی. کرتیکل ډمپینګ هغه ارزښت دي چی د جوړښت موجی لړزیدل

له مینځه وړي. د یوی درجی سیستم لپاره  هغه عبارت دی له:

$$C_{cr} = 2\sqrt{kM} \quad \text{کریتیکل ډمپینګ قوه} \quad (9.25)$$

په فورمول (9.25) کی  ($k$) ستفنیس (stiffness) د سیستم او (M) د سیستم کتله  دی.

د یوه درجه یی سیستم لپاره پدی لاندی انځور کی ایدیالایزیشن ښودل شوی:







**انځور      9.11 د یوی ډیګری سیستم د توازن ایدیالایزیشن چی ډمپینګ قوه شتون لری**

د انځور   9.11  لپاره د ډینامیک توازن معادله داسي لیکلي شو:

$$-k_s x - m\ddot{x} - c\dot{x} + F(t) = 0 \qquad (9.26)$$

## 9.5.1 پنځم مثال

یو دورانی متحرک ما شین په دی لاندی انځور (9.12) د فریم په فرش ترل شوی دا ماشینی وزن یو افقی قوه F(t) =100sin5t په فرش کی پلی کوي.

ددی فریم سیستم لپاره ځلور فیسد (4%) کرتیکل ډمپینګ اټکل کوو. غواړو اندازه د لوړ والی (amplitude) د لړزیدو دموج اواعظمي قوه او فشار په کالم کی پیدا کړو. دا فرض کوو چې ستني سخت دی. د جوړښت پرامیترونه پدی لاندی ډول دی:

یوه واحد قوه د کالم په لوړه څنډه چې بله څنډه يي په پن اتکاء ولری بیځایه کیدنه یی مساوی ده په $3EI/L^3$




**انځور 9.12a ایدیالایزیشن کله چې ډمپینګ قوه شتون لری**




**انځور 9.12 فریم چې یو ماشین په فرش ترلیدي.**

.

په پورتنی انځور (9.12a) د دینامیک توازن معادله پدی ډول لیکلی شو

$$m\ddot{x} + c\dot{x} + k\,x = F_0 \sin \bar{\omega} t \qquad (9.27)$$

معادله (9.27) یوه د دیفرینشل معادله ده او حل يي دوه جوابونه لري، یو يي کامپلمینتری $y_c(t)$ (complementary) او بل یی خاص $y_p(t)$ (particular) دی

د آسانتیا لپاره دمپینګ ددی لاندی معادلو د حل لپاره نه حسابوو. په پایلی د حل کی به هغه په معادله کی وورینو.

$$y(t) = y_c(t) + y_p(t) \qquad (9.28)$$

$$y_c(t) = A\cos(\omega t) + B\sin(\omega t) \qquad (9.29)$$

$$\omega = \sqrt{k/m} \qquad (9.30)$$

$$y_p(t) = Y\sin(\omega t) \qquad (9.31)$$

په معادله (9.31) کی (Y) اعظمي ارزښت د خاص حل دی

$$Y = \frac{F_0}{k - m\varpi^2} = \left(\frac{F_0}{k}\right)/(1 - r^2) \qquad (9.32)$$

پدی معادله کی (r) د فریکونسی نسبی تناسب دی (د پلی شوی قوي فریکونسی $\varpi$ تقسیم د جوړښت سیستم فریکونسی $\omega$ ). ( $r = \frac{\varpi}{\omega}$ )

$$y(t) = \left[\frac{F_0/k}{1-r^2}\sin\bar{w}(t)\right] - \left[\frac{F_0/k}{1-r^2}\, r\sin\omega t\right] \qquad (9.34)$$

دا برخه په نامه دی سټدی سټیت (steady state) یادیږی

دا برخه په نامه دی ترازینت ریسپانس (transient response) یادیږی

لنډ مهاله یا ترازینت غبرګون د ډمپینګ له امله ژر ختمیږی او د جوړښت غبرګون سټدی سټیټ له برخی پیدا کیږی.

په معادله (9.34) کی وینو که چیري ارزښت د (r) مساوی په یوه شي، پدی معنی چی د پلی شوي بهرنی لوډ فریکونسی مساوی په نچرل فریکونسی د جوړښت سیستم شی د لړزیدو لوړوالی یا امپلیتود لایتناهی (Infiniti) کیږی.

هغه سیستم چی دمپینګ ولري د دیفرینشل معادلی حل یی عبارت دی له:

$$y(t) = e^{(-\xi wt)}[A\cos\omega_D t + B\sin\omega_D t] + \frac{y_{st}\sin(\bar{w}t-\theta)}{\sqrt{(1-r^2)^2+(2r\xi)^2}} \quad (9.35)$$

دا برخه په نامه دی لنډ مهال یا ترانزینت ریسپانس (transient response) یادیږی

په معادله (9.35) د ترانزینت برخه د ( $e^{(-\xi wt)}$) له امله ژر ختمیږی او تنها د سټډی سټیټ شتون لری .

نسبت د سټډی سټیټ لړزی لوړ والی د موج یا امپلیتود او ستاتیک بیځایه کیدنه ، پدی معنی سټډی سټیټ امپلیتود تقسیم په ستاتیک بیځایه کیدنه (static deflection) په نامه د ډینامیک مګنفیکشن فکتور (dynamic magnification factor) D یادیږی:

$$D = \frac{Y}{y_{st}} = \frac{1}{\sqrt{(1-r^2)^2+(2r\xi)^2}} \quad (9.37)$$

پدی معادله کی $r = \bar{\omega}/(\omega)$

$\omega$ د فریم جوړښت سیستم تاویدونکی فریکونسی ده

$\bar{\omega}$ د بهرنی سا ینوسویدل لوډ تاویدونکی فریکونسی

دمپینګ نسبت $\xi = c/c_{cr}$

د (Y) ارزښت که چیری دمپینګ شتون ولری له معادله (9.32) پیدا کیږی.

کله چی دمپینګ په پام کی ونیول شي د  (Y) ارزښت داسی پیدا کیږی:

$$Y = \frac{F_0}{\sqrt{(1-m\bar{w}_2)^2 + (c\bar{w}^2)^2}} \qquad (9.38)$$

په معادله (9.37) کی وینو ډاینمیک مګنیفیکیشن له تناسب د فرکونسي (r) او ډمپینګیګ فکتور **ξ** سره تړون لري.  که چیری د فریکونسی نسبت ( r) مساوی په یوه (r=1) شی پدی حالت کی ډینامیک فکتور اعظمي حد نیسي اودا حالت  په نامه دی رزوننس (resonance) یادیږی. او د ډینامیک فکتور مساوی کیږی په ( **ξ** 2)/(1). دا لاندی انځور وګوری:




**r =ω̅/(ω)**




که چیری د پورتنی فریم د ځمکی بنسټ یو ساینوسویډل (sinusoidal) حرکت وکړی، غواړو ترانزمیسسبیلیتی (Transmissibility)د بنسټ حرکت په ګردر باندی او هم اعظمي شیر قوه په کالم او اعظمي فشار په کالم کی معلوم کړو.

د بنسټ حرکت په ګردر باندی او هم اعظمي شیر قوه په کالم او اعظمي فشار په کالم کی معلوم کړو.

د بنسټ ساینو سویډل لړزیدل $y(t) = 0.5 + 5\sin(10t)$




**انځور 9.13 د بنسټ ساینوسویډل لړزه ولو موج**

ترانزمیسبیلیتی ($T_r$) (Transmissibility)څه شی ده :د تهداب د حرکت اغیزه په ګردر او هغه ماشین چی وربادی دورانی حرکت لری .دا یوه مهمه ستونزه ده چی هغه جسم چی په ګادر تینګ اتکاء لری د بنسټ له حرکت روغ وساتل شی . دا نسبی انزوا یا ساتنه په نامه د ترانزمیسیبیلیتی یادیږی

او هغه عبارت ده په تناسب د لړزیدود موج لوړوالی د متحرک جسم (Y) په حرکت د بنسټ د لړزیدو د موج لوړوالی ($y_0$) .

$$T_r = (Y/y_0) = \sqrt{\frac{1+(2r\xi)2}{(1-r^2)^2+(2r\xi)^2}}$$

د تېرل شوی ما شین دورانی حرکت 200rpm دی

پدی معادله کی (r) د فریکونسي تناسب دی (د پلی شوی قوي فریکونسی $\bar{\omega}$ تقسیم په د جوړښت سیستم فریکونسی $\omega$ ). ( $r=\frac{\bar{\omega}}{\omega}$ )

| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د موادو مجولس | انرشلیزه مؤمنت | د بهرنی لود امپلیتود | د کالم لوړوالی | د کالمونو شخوالی | | ډمپینګ نسبت | د بهرنی ساینوسویدل قوی امپلیتود |
| E (N/cm$^2$) | I (cm$^4$) | $F_0$ | L (cm) | k = (3EI)/(L$^3$) | | ξ | $y_0$ |
| 2.00E+08 | 2000 | 5 | 1000 | 2400 | | 0.04 | 0.5 |
| | | | | | | | |

| 9 | 10 | 11 | 12 | 13 |
|---|---|---|---|---|
| مآس | ستاتیک خوځیدل | تاویدونکی فریکونسی | د بهرنی لودتاویدونکی فریکونسی | د فریکونسی تناسب |
| m = W/g | $y_{st}$ =Fo/k | ω | $\bar{\omega}$ =(200rm) (2π)/60 | r =$\bar{\omega}$/(ω) |
| 10.19 | 2.08E-03 | 15.34 | 20.93 | 1.364 |
| | | | | |
| | | | | |

| 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 |
|---|---|---|---|---|---|
| د معادلی اجزاوي | | | | transmissibilityترانزمسیبیلیتی | د ستیدی ستیت خوځیدنه |
| $(1-r^2)^2$ | $(2r\xi)^2$ | $(1+(2r\xi)^2$ | $((1-r^2)^2+(2r\xi)^2)$ | $Tr=(((1+(2r\xi)2/((1-r^2)^2+(2r\xi)^2))^{0.5}$ | $\delta=(y_0r^2/((1-r^2)^2+(2r\xi)^2)^{0.5}$ |
| **7.42E-01** | **1.19E-02** | **1.01E+00** | 7.54E-01 | 1.16E+00 | 1.072 |
| | | | | | |

اعظمي شيراو مؤمنت  په هر کالم کی مساوی ده په:

$$M_{max} = (R_{max}\ (L) = 1286 \times 1000 = 1286,000\ N\text{-}cm$$

$$R_{max} = (k\ \delta/2) = (2400N/cm)(1.072cm)/2 = 1286.4\ N$$

فشار په هر کالم کی مساوی ده په:

$$\sigma_{max} = (Mc/I)\ =\ M/(I/c)\ = 1286,000/(2000/10)\ = 6430\ N/cm^2$$




انځور   9.14 ترانسميسيبيليتی د فريکونسی نسبت تابع

## 9.6 د زلزلی د اندازه کولو وسیله

د زلزلی د اندازه کولو وسیله نسبی بیځایه کیدنه یا تعجیل د کتلی اوبنسټ (base) ریکارډ وي، او دا وسیله په نامه د سیزموګراف یادیږي. او اعظمي اړوندنسبی غبرګون په مقابل د هارمانیک حرکت د بنسټ پدی معادله معلومیږي:

$$\frac{V}{y_0} = \frac{r^2}{\sqrt{(1-r^2)^2+(2r\xi)^2}}$$




انځور 9.15 د سایزمو ګراف دایګرام




انځور 9.16 د سایزمو ګراف غبرګون د بنسټ ساینوسویډل لړزی موج له امله

## 9.7 د بهرنی ډینامیکی لوډونو ډولونه

په عامه توګه ډول ډول لوډونه چی تابع د وخت دی په جوړښتونو عمل کوی. دلته یوشمیر ډینامیک لوډونه وړاندی کیږي. اول به داسی عمومی حل و څیړو چی په ټولو ډولونو مطابقت و کړی.

پدی لاندی انځور کی وینو که یوه قوه چی د پلی کیدو موده یي ($t_d$) وي په کتله (m) پلی شي دا کتله به وخوځیږی او تعجیل (a) پدی معادله کښني $\ddot{y}$ = ma به وموموي.

که چیری د پلی کیدو د وخت اوږدوالي د پیریود (T) په پرتله لږ وي د سپرینګ غبرګون به د (P) پرتله د وخت په اوږدو کی خورا کم وي او د حساب کیدوبه نه وي .پدی حالت کی کتله چټکتیا (velocity) ($\dot{y}$) اخلي او تعجیل ($\ddot{y}$) به یي ثابت (constant) وی. مونږ لیکلی شو:

$$\dot{y} = \ddot{y}t_d = \frac{P(t_d)}{m} = i/m \qquad (9.39)$$

په (9.39) معادله کی (i) ایمپلس (impulse) دبهرنی لوډ دي، (m) د جسم کتله ، ($t_d$) د بهرنی لوډ وخت اوP د بهرنی لوډ ارزښت دي.




انځور 9.16 د امپلوس لوډ

په (9.39) معادله کی، که چیري ($t_d$) د ایمپلس له (0.10T) لږ وی ارزښت او انځوریت د بهرنی لوډ د اغیزی وړ ندی .

په انځور (9.16) کی وړه برخه dτ یو ایمپلس دی. دا ایمپلس یو وړه شیبه چټکتیا په وخت (τ) کی په اندازه د (Pf(τ)dτ/M) جوړه وی او ویلای شو دا د اولي حالت چټکتیا ده او سیستم په حالت د سکون کی دي.

موږ ویلای شو چی خوځیدل په وخت (t) کی د بهرنی لوډ له امله په (d$\boldsymbol{\tau}$) شیبه کی عبارت دی له :

$$dy(\boldsymbol{\tau}) = \frac{Pf(\boldsymbol{\tau})d\boldsymbol{\tau}}{m\boldsymbol{\omega}} \sin \boldsymbol{\omega}\ (t - \boldsymbol{\tau}) \qquad (9.40)$$

که چیری دی د واړو برخو خوځیدل یو ځای کړو د ټولو خوځیدلو مجموعه به حاصل شي.

ستاتیک خوځیدل د بهرنی لوډ له امله عبارت دی:

$$y_{st} = (P)/k = (P)/(\omega^2 m) \quad (9.41)$$

په عامه توګه خوځیدنه د یوخطی ایلاستیک یو درجه یی سیستم چی ډمپینګ شتون نلری په دی لاندی معادله کی دي:

$$y = y_0 \cos(\omega t) + \frac{\dot{y}_0}{\boldsymbol{\omega}} \sin(\boldsymbol{\omega} t) + y_{st}\, \boldsymbol{\omega} \int_0^t f(\boldsymbol{\tau}) \sin \boldsymbol{\omega}(t - \boldsymbol{\tau})\, d\boldsymbol{\tau} \quad (9.42)$$

## 9.8 ډینامیک لوډ فکتور (Dynamic Load Factor- DLF)

ډینامیک لوډ فکتورعبارت دی د ډینامیک خوځیدل په هره شیبه کی په نسبت د ستاتیک لوډ خوځیدلواو هغه داسی لیکلی شو:.

$$\text{DLF} = \frac{y}{y_{st}} = \frac{y}{P_1/k} = \frac{ky}{P_1} \quad (9.43)$$

$$\text{DLF} = 1 - \cos(\boldsymbol{\omega} t) \quad (9.43\ a)$$

په معادله (9.43) کی ($k$) د سپرینګ ثابت ارزښت دی، y ډینامیک خوځیدل دی او $P_1$ ستاتیک بهرنی لوډ دی.

په معادله (9.43a) کی $\omega$ دورانی فریکونسی د بهرنی لوډ او t وخت دی. بهرنی ساینوسایډل لوډ داسی بنودل کیږی:




شکل 9.17 ډینامیک لوډ فکتور (DLF)

## 9.8.1 مستطیلی انځورد بهرنی لوډ (Rectangular Load)

یونا څاپه ثابت بهرنی ډینامیک لوډ د محدود وخت لپاره په انځور (9.18) کی په پام کی نیسو. څنګه چی ښودل شوی سیستم په آرامی سره پیل کیږی او ډمپینګ شتون نلری بهرنی لوډ تر ($t_d$) پوری پلی کیږی. او پدی وخت کی موږ لیکلی شو




انځور 9.18 مستطیلی شکل ډینامیک لوډ

خوځیدل $y_{td} = \frac{P_1}{k}(1 - \cos\omega t_d)$

چټکتیا $\dot{y}_{td} = \frac{P_1}{k}\,\omega\sin(\omega t_d)$

وروسته له $t_d$ معادله (9.42) په دی لاندی ډول لیکلی شو:.

$$y = \frac{P_1}{k}(1-\cos(\omega t_d))(\cos(\boldsymbol{\omega}(t-td))+\frac{P_1}{k}\sin(\boldsymbol{\omega}td)\sin\boldsymbol{\omega}(t-td)$$

$$y = \frac{P_1}{k}[(\cos(\boldsymbol{\omega}(t-td)) - \cos(\boldsymbol{\omega}t)] \qquad (9.44)$$

پدی پورتنی معادله کی کی $\frac{P1}{k}$ ستاتیک خوځیدل دی او ډینامیک لوډ فکتور عبارت دی له $\frac{y}{yst}$ نو لیکلی شو:

$$\left.\begin{aligned} DLF &= (1-\cos\omega t) = 1-\cos(2\pi\frac{t}{T}) && (t \le t_d) \\ DLF &= \cos\omega(t-td) - \cos\omega t = \cos 2\pi(t/T - t_d/T) - \cos(2\pi t/T) && (t \ge t_d) \end{aligned}\right\} \quad (9.45)$$




**انځور 9.19 ډینامیک لوډ فکتور (DLF)**

## مثال 9.8.1a

غواړو د څلورم فصل ، څلورم مثال، دلته د یو ډینامیک بهرنی لوډ چی وربانډی پلي شوي وګورو. په دی بیم یو کانټینر چی (W=50kN) وزن لری ایښودل شوي.

دا بیم چی له فولادی وسپنی جوړه ده بهرنی لوډ له صفر تر (0.045 sec) ثانیو پوری (100 kN) ارزښت نیسی او وروسته له هغه ثابت پاتیکیږي.

د بیم وزن د بهرنی لوډ په پرتله ډیر کم دی کیدی شی چی حساب نشي. غواړو اعظمي فشار په بیم کی د ډینامیک لوډ له امله پیدا کړو.

اول به د بیم ډینامیکی خاصیتونه پیدا کړو او له ډینامیک لوډ فکتورونو به استفاده وکړوتر څو د بیم اعظمي فشار پیدا شي.

هغه قوه چی د بیم په وسط کی یو واحد ډیفلکشن یا خوځیدل جوړه وی هغه د سپرینګ (پنر) ثابت عدد دی.




انځور 9.20a د بیم اید یا لایزیشن




**انځور 9.20 بیم بهرنی لوډ عمل کړي**

د بیم خوځیدل چی په څلورم فصل کی مو پیدا کړل مساوی دی په دیلتا ($\delta$)

په بیم یو وزن چی (50kN) ارزښت لری ښودل شوی

د بیم د مَطع د انرشیای مؤمنت =I

د موادو ایلستیکی ماجولس =E

$\delta = QL^3/48EI$

W=50k N

I= 2000 $cm^4$

E= 2e8 $n/cm^2$

لدی پورتنی معلوماتوخخه د بیم شخی یا ستیفنیس پیدا کوو

$$k = (48EI/L^3)$$

$$= \frac{(48 \; x \; 2e8) x \; (2000)}{(1000)^3}$$

$$= 19{,}200 \text{ N/cm}$$

د بیم پیریود (T) عبارت دی :

$$T = 2\pi \left(\sqrt{\frac{m}{k}}\right.$$

$$= (2 \text{ x } 3.14) \sqrt{\frac{50{,}oooN}{19200 \; x \; 981}}$$

$$= 0.052 \text{ sec}$$

د بهرنی ډینامیک لوډ پروفایل پدی لاندي ډول دي:




انځور 9.21 د ډینامیک لوډ پروفایل

$t_1/T = 0.045/0.052 = 0.865$

د بیم شیر او مؤمنت دایګرامونه په لاندی ډول دی:




انځور 9.22 شیر او مؤمنت دایګرامونه




**انځور 9.23 د ډینامیک لوډ فکتور**

اعظمي فشار د بیم له ستاتیک فورمول پیدا کوو:

$$\sigma = \text{DLF x}(\frac{MC}{I})\ st$$

$$\sigma = \text{DLF x}(\frac{QLc}{4I})\ st$$

$$= (2.0)\ (\frac{50{,}000\ x\ (1000cm)(5)}{(4\ x\ 2000)}$$

$$= 62.50\ \text{kN/cm}^2$$




**انځور 9.24 ډینامیک فشار په هره شیبه د وخت کی**

## 9.8.2 د مثلثی بهرنی لوډ پلس (Triangular Load Pulse)




انځور 9.25 د ډینامیک لوډ مثلثی پروفایل

دا ډول لوډ په شروع کی ارزښت یي ($P_1$) دی او د وخت په اوږدو ورورو کمیږي تر څو په شیبه ($t_d$) کی صفر کیږی. ډینامیک لوډ فکتور په دوو برخو کی پدی لاندی ډول دی:

اوله برخه کله چی د لوډ وخت ($t < t_d$) وی:

د بهرنی لوډ د شروع حالت :

$$\left.\begin{array}{l} x = 0 \\ \dot{x} = 0 \\ f(t) = \left(1-\frac{t}{t_d}\right) \end{array}\right\}$$

د شروع حالت ارزښتونه په عمومی معادله (9.42) کی ځای په ځای کوو او پایلي یي داسی دی:

$$x = \left(\frac{P_1}{k}\right)(1-\cos\omega t) + \left(\frac{P_1}{kt_d}\right)\left(\frac{\sin\omega t}{\omega} - t\right)$$

$$DLF = 1-\cos\omega t + \left(\frac{\sin\omega t}{\omega td} - \frac{t}{t_d}\right) \qquad (9.46)$$

دوهمه برخه کله چې د لوډ وخت $(t > t_d)$ وی:

$$x = \left(\frac{P_1}{k\omega t_d}\right) [\sin(\omega t) - \sin \omega(t-t_d)] - \left(\frac{P_1}{k}\right) \cos(\omega t)$$

ډینامیک لوډ فکتور :

$$DLF = \left(\frac{1}{\omega t_d}\right) [\sin(\omega t) - \sin\omega(t-t_d)] - \cos(\omega t) \qquad (9.47)$$




**انځور 9.26 د مثلثی لوډ ډینامیک فکتور د وخت په شیبو کې**

د ډینامیک لوډ فکټر پروفایل د وخت په شیبو کې په انځور (9.26) کې ښودل شوی.

په پورتنی بیم مثال کې که چیری مثلثی پروفایل ډینامیک لوډ په پام کې ونیسو اعظمي فشار په بیم په دی لاندی ډول دی:




**انځور 9.27 د مثلثی لوړ ډینامیک فکتور د وخت په شیبو کی**

اعظمي لوړ فکتور = 1.75 او دا به د وخت په شیبه 0.50 ثانیه کی جوړ شوي.

$$\sigma = \text{DLF x}\left(\frac{MC}{I}\right) st$$

$$\sigma \quad = (1.75)\ \left(\frac{50{,}000\ x\ (1000cm)(5)}{(4\ x\ 2000)}\right.$$

$$= 54.69\ \text{kN/cm}^2$$




**انځور 9.28 د مثلثی لوړ ډینامیک فشار د وخت په شیبو کی**

## 9.8.3 مثلثی انځور چی دری مساوی ضلعی لری د بهرنی ډینامیک لوډ پلس دی. :(Triangular Load Pulse)




انځور 9.29 مثلثی شکل ډینامیک لوډ

دا لاندی د وخت شیبی دی پورته ډینامیک لوډ لپاره په پام کی نیول شوی

اوله برخه کله چی د لوډ وخت $(0< t < ½\ t_d)$ وی:

$$DLF = \frac{2}{t_d}\left(t- \frac{\sin(\omega t)}{\omega}\right)$$

دوهمه برخه $1/2t_d < t < t_d$

$$DLF = \frac{2}{t_d}\left(t_d-t +1/\omega[2 \sin\omega(t- \frac{t_d}{2}) -\sin(\omega t)]\right)$$

دریمه برخه: $t_d < t$

$$DLF = \frac{2}{\omega t_d}[2 \sin\omega (t- \frac{t_d}{2}) -\sin(\omega t) - \sin\omega(t - t_d)]$$

ددی نوع ډینامیک لوډ فکتور موجی دایگرام پدی لاندی انځور کی ښودل شوي.




**انځور 9.30 مثلثی شکل ډینامیک لوډ**

پورتنی مثال بیم که چیری متساوالساقین مثلثی پروفایل ډینامیک لوډ په پام کی ونیسو اعظمي فشار په بیم په دی لاندی ډول دی:

$$\sigma = DLF \times \left(\frac{MC}{I}\right) st$$

$$\sigma = (1.42)\left(\frac{50{,}000\ x\ (1000cm)(5)}{(4\ x\ 2000)}\right)$$

$$= 44.37\ kN/cm^2$$




**انځور 9.31 مثلثی شکل ډینامیک لوډ**

